د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه
د علمي او محصلانو چارو معاونيت
د طبيعي علومو علمي ـ څېړنيزه مجله

# وردګ علمي – څېړنيزه مجله
# مجلۀ علمی ـ تحقيقي وردګ

دوهمه دوره، ۲ ګڼه: ۱۴۰۳هـ.ل / ۱۴۴۶هـ.ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# وردگ علمي ــ څېړنيزه مجله

دوهمه دوره، ۲ گڼه، ۱۴۰۳ کال، پسرلی

د مجلې نوم: وردگ علمي ـ څېړنيزه مجله
د امتياز خاوند: وردگ د لوړو زده کړو مؤسسه
مسؤل مدير: پوهنمل دکتور عنايت الرحمن مايار
د څېړنو او علمي مجلې آمر: پوهنيار زاهدالله زاهد
د علمي مجلې عمومي مدير: محمد داوود دانش
د ثبت گڼه: RCTD- GNJR- 0032-23
د صدور نېټه: ۸ / ۵/ ۱۴۰۲ کال
د خپرېدو موده: شپږ مياشتنۍ
د چاپ شمېر: ۲۰۰ ټوکه
د چاپ کال: ۱۴۴۶هـ.ق/ ۱۴۰۳هـ.ل
ايميل آدرس: rjd@wu.edu.af
پته: ټوپ دښته، سيدآباد ولسوالي، ميدان وردگ ــ افغانستان

**کتنپلاوی:**

۱- پوهندوی محمد داوود شهرزاد
۲- پوهنمل دوکتور شفيق الله رحماني
۳- پوهنمل حبيب الله همايون
۴- پوهنمل احسان الله کامران
۵- پوهنمل محمد زبير تنوير
٦- پوهنمل روښان حيران
۷- پوهندوی عبدالتواب عزيزي
۸- پوهنمل احسان الله همتي

# وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي- څېړنیزې مجلې جوازپاڼه


لوړو زده کړو وزارت
علمي چارو معینیت
د څېړنې، تالیف او ژباړې ریاست

د خپراوي جواز

وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې علمي-څېړنیز ژورنال

دا د ملي ژورنال ( وردگ علمي-څېړنیز ژورنال) د فعالیت سند چې د امتیاز خاوند یې د وردگ د لوړو زده کړو مؤسسه دی، یادې مؤسسې ته د ژورنال د نشر د جواز په موخه ورکړل شو.

د لابریاوو په هیله

این سند به منظور آغاز فعالیت مجله علمی- تحقیقی وردگ که صاحب امتیاز آن مؤسسه تحصیلات عالی وردک است، به آن مؤسسه اعطا گردید.

به امید موفقیت های مزید.

د ژورنال نوم/ نام مجله : وردگ علمي- څېړنیز ژورنال/ مجله علمی- تحقیقی وردگ
خپرونکی/ناشر: وردگ د لوړو زده کړو مؤسسه / مؤسسه تحصیلات عالی وردک
د خپرولو دورې/تناوب زمانی نشر: شپږ میاشتنی/شش ماه
د ثبت نمبر/ نمبر ثبت: RCTD - GNJR -0032-23
د صدور نېټه/ تاریخ صدور: ۱۴۰۲/۵/۸
د اعتبار نېټه/ تاریخ اعتبار: ۱۴۰۳/۵/۸

رئیس تحقیق، تألیف و ترجمه

## وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې د رئيس پيغام

**اَلْحَمْدُلِاَهْلِهِ وَالصَّلٰوةُ عَلٰی اَهْلِهَا اما بعد!**

اَعُوْذُ بِااللهِ مِنَ الشَّيطَنِ الرَّجِيْمَ
بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ

عَلَّمَ الْاِنْسَنَ مَالَمْ يَعْلَمْ سورة العلق ٥

**وَعَنْ مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللَّه عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه (ص): ((مَنْ يُرِدِ اللَّه بِهِ خَيْراً يُفَقِّهُ فِي الدِّينَ)) مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.**

پوهه د انساني ټولنې لپاره د الله ﷻ يو ستر نعمت دی، هغه ټولنې چې له دې لوی نعمت څخه برخمنې دي، د نړۍ هسکې او پرمختللي ټولنې بلل کېږي. دوی د پوهې او څېړنو پر مټ دا نړۍ تر معاصرې تکنالوژۍ او پرمختګه رسولې ده. د نړۍ په هر ګوټ کې پنځونې او مونډنې د پوهې او علمي څېړنو پر مټ ترلاسه شوې دي.

هغه ملتونه چې ويښ ذهنونه، پاخه کلتورونه، غښتلي سياسي، اقتصادي او ټولنيز آرونه لري، د هغوی لپاره علمي څېړنې او پلټنې اصلي موضوعات ګڼل کېږي، ځکه يوازې څېړنه او پلټنه کولای شي، د هغوی ټولنيزې ځانګړتياوې او نيمګړتياوې را په ډاګه کړي، انساني ځواک يې راويښ او په ټولو، ديني، سياسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنيزو برخو کې تری يوه نوښتګره او پرمختللې ټولنه جوړه کړي.

په تحصيلي او علمي بنسټونو کې د علمي څېړنو او مقالو پر مټ کولای شو د هېواد په کچه علمي او تحصيلي نظام ځواکمن کړو، محصلينو، استادانو او ګټه اخيستونکو ته د اوسنی زمانې له غوښتنو سره سم علمي او اغېزمنې څېړنې وړاندې کړو او په دې توګه د ټولنيزې پوهې په لوړولو کې خپله دنده ترسره کړو. له نېکمرغه اسلامي امارت په پوهنتونونو کې د نورو چارو ترڅنګ دا برخه هم له پامه نه ده غورځولې، په دې برخه کې لوړو زده کړو وزارت د يو بېساري اقدام په ترڅ کې د ټولو پوهنتونونو لپاره د څېړنو معاونيتونه، آمريتونه او علمي مجلې ايجاد کړې دي، ترڅو له دې لارې وکولای شي په پوهنتونونو کې څېړنيزې چارې او خپرونې مديريت کړي. په دې لړ کې وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې هم هڅه کړې، ترڅو په څېړنيزو برخو کې خپلې هڅې جاري وساتي او پايلې يې د دغې علمي- څېړنيزې مجلې له لارې خپرې کړي. په دې لړ کې وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه د طبيعي علومو په برخه کې د دغې علمي- څېړنيزې مجلې دوهمه ګڼه چاپ ته استوي. زه دا لاسته راوړنه د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو او څېړونکو لپاره يوه باارزښته کړنه بولم او د تحقيق او تدوين په برخه کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه کوم، چې په دې برخه کې يې زيار ګاللی دی.

**شيخ الحديث مولوي صفت الله حقاني**
**د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې رئيس**

## د وردگ علمي- څېړنيزې مجلې لپاره د مقالې ليکلو لارښود

دا مجله به يوازې هغه مقالې خپروي چې د طبيعي علومو په برخه کې تازه او اصلي موندنې ولري. استادان او څېړونکي بايد په دغه علمي ـ څېړنيزه مجله کې د خپلو مقالو د خپرولو په موخه لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

۱. مقاله بايد په بل ژورنال کې نه وي خپره شوې او هم مهاله به بلې مجلې ته نه وي لېږل شوې.

۲. د مقالو په ليکلو کې بايد له باوري او معتبرو سرچينو څخه کار واخيستل شي او د سرچينو شمېر بايد له (۷) څخه کم نه وي.

۳. علمي- څېړنيزه مقاله بايد له هر ډول علمي او ادبي درغلۍ (Plagiarism) څخه پاکه وي.

۴. مقاله بايد په ژبنيو او ادبي معيارونو برابره، له املايي او ترکيبي تېروتنو څخه پاکه وي.

۵. ليکوال د خپلې مقالې د منځپانگې او پايلو مسؤل دی او دا د علمي مجلې په مديريت پورې اړه نه لري.

۶. د علمي مجلې مديريت د مقالو په بڼه او سمونه کې خلاص لاس لري.

۷. مقالې د تحرير کمېټې له کتنې وروسته په مجله کې خپرېږي.

۸. د مقالې حجم بايد له ۲۰ مخونو او د کلمو شمېر يې له ۱۲۰۰۰ څخه زيات نه وي.

۹. د مقالې د سرليک اندازه بايد په بولډ بڼه (Bahij Zar۱۴)، د اصلي برخو سرليکونه په بولډ بڼه (Bahij Zar۱۲)، او د متن اندازه بايد په بهيج فونټ (Bahij Zar ۱۲) وي.

۱۰. د مقالو د فونټ ډول په پښتو کې(Bahij Zar) په فارسي کې (Bahij Zar) او په انگليسي کې ( Times New Roman) بايد وي.

۱۱. د گرافونو د کرښو اندازه بايد لس (۱۰) وي.

۱۲. دمأخذونو د ليست اندازه بايد لس (۱۰) وي.

۱۳. په متن کې د کرښو ترمنځ فاصله بايد (۱،۱۵) وي.

۱۴. د مقالې لنډيز بايد له ۱۵۰ کم او تر ۲۰۰ کلمو زيات نه وي.

۱۵. د يوې مقالې کليدي کلمې بايد د ۳ او ۵ تر منځ وي (غوره ترتيب يې الفبايي ترتيب دی)

۱۶. که د علمي مقالې لپاره د څېړنې مېتود، موخه، پايلې او لنډيز له ټاکل شوو معيارنو سره سم نه وي، مقاله بېرته ليکوال ته ورگرځول کېږي.

۱۷. د ليکوال علمي رتبه، بشپړ نوم، برېښناليک او د پوهنتون نوم بايد په ملي او انگليسي ژبو وليکل شي.

۱۸. جدولونه بايد په معياري (APA) بڼه ترتيب شي (د نورو معلوماتو لپاره، دمقالو جدولونه وگورئ).

۱۹. ټيټ کيفيت لرونکي گرافونه د منلو وړ نه دي، ممکن دې اصل ته د نه پاملرنې له امله مقاله خپره نه شي.

ټولې مقالې بايد په پورتنيو معيارونو برابرې وي، د نه پاملرنې په صورت کې به مقاله بېرته ليکوال ته ورگرځول کېږي.

# لیک لړ

**سرلیک ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ مخگڼه**

سریزه ........................................................................................................................ ۱

د میدان وردگ ولایت تر اقلیمي شرایطو لاندې د رومې بانجانو په وده او حاصل باندې د بېلابېلو فاصلو اغېزې.... ۲

د میدان وردگ ولایت تر اقلیمي شرایطو لاندې د لوبیا په وده او حاصل باندې د فاسفورس او د چرگانو سرې د بېلابېلو اندازو اغېزې.................................................................................................... ۱۴

د رومي بانجانو (Lycopersicon esculentum L.) په وده او حاصل باندې د مایع په شکل د نایتروجني سرې (مایع یوریا) اغېزې ........................................................................................................ ۲۹

د مې (Vigna radiata L. Wilczek) په وده او حاصل باندې د تخم د بېلابېلو اندازو او قطاري فاصلو اغېزې ... ۴۰

د خاورې اصلاح کوونکي مواد (Soil Conditioners)........................................................... ۶۹

تثبیت سیروتایپهای بیماری طبق در بین گاوهای نخاسِ شهر کابل ....................................................... ۸۲

بررسی مؤثریت دوزهای متفاوت ایور مکتین برای از بین بردن کنه‌های نشخوار کنندگان کوچک ............... ۹۳

سروی بر چهارچوب کاری مشوره وترنری ........................................................................۱۰۵

مروری بر انواع و التیام زخم ......................................................................................... ۱۲۰

د کابل اقلیمي شرایطو لاندې د مې پر وده او حاصل باندې د نایتروجن د بېلا بېلو اندازو اغېزې ............... ۱۳۰

## سريزه

د انساني ټولنې اوسنی پوهه او پرمختګ د ټولو هغو څېړنيزو هڅو پايله ده چې له پېړيو راهيسې په پرلپسې توګه ترسره شوې دي، موندنې يې له يو نسل څخه بل ته لېږدېدلې او هر نسل پرې د خپلې پوهې زرينې لاسته راوړنې ور زياتې کړې دي. په دې توګه د هرې ورځې په تېرېدو سره د بشري ټولنې د پوهې پولې پراخې شوې، د خلقت ناڅرګند اړخونه رابرسېره شوي او بلآخره په انساني ژوندانه کې د هوساينې، ژغورنې او آبادۍ لامل شوې دي، خو دا ټولې څېړنې او پلټنې يوازې چاپيريالي ستونزو او انساني اړتياوو ته د ځواب موندنې په موخه ترسره شوې دي. په اوسني عصر کې د پرمختللو ټولنو برلاسي، ځواک او پرمختګ له څېړنيزو کړنو سره تړلی دی، هره ټولنه خپلو انساني اړتياوو ته په کتو سره د ځان بسياينې په موخه هڅه کوي، چې د آلهی خلقت په لمن کې الله ورکړې ډالۍ راوسپړي او په بېلابېلو برخو کې د خپلې ټولنې د پرمختګ لامل شي، د نړۍ په کچه پوهنتونونه، علمي او اکاډميک مرکزونه د همدغې چارې ذمه وار دي، له همدې امله د نورو علمي او تدريسي فعاليتونو ترڅنګ د ټولنيزو ستونزو د حل او يا هم د انساني هوساينې په موخه څېړنيز فعاليتونه ترسره کوي، خو له دې ټولو سره سره پوهنتونونه د تدريس او تحقيق ترڅنګ يوه درېيمه دنده هم پر غاړه لري چې هغه د پوهې، تجربو او علمي لاسته راوړنو لېږدول او تعميمول دي، ترڅو انساني ټولنې له هغو مواردو ګټه واخيستلای شي چې د يوې ټولنې محققين ورته لاسرسی پيدا کوي. په همدې اساس دغه علمي-څېړنيز ژورنال د څېړنيز کړنو د خپراوي په موخه ايجاد شوی او هڅه شوې چې د طبيعي علومو په برخه کې د دغه پوهنتون علمي- څېړنيزې مقالې خپرې کړې او هغو ستونزو او مسائلو ته حللارې پيدا کړي چې په ټول هېواد او په ځانګړې توګه په ميدان وردګ ولايت کې شتون لري. له همدغې موخې سره سم الحمدلله د دغې ګڼې ډېری څېړنې د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې په څېړنيز فارم کې تر موجوده اقليمي شرايطو لاندې ترسره شوې دي چې په علمي او کاربردي برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري، يادې لاسته راوړنې به د دغه ولايت د کرنيزو محصولاتو په زياتوالي، د اقتصادي او ټولنيز ژوند په ښه والي د پام وړ اغېزې ولري. په پای کې اړينه بولم چې د دغه ژورنال د ايجاد او چاپ ته د دوهمې ګڼې د چمتو کولو په برخه کې د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې له مشرتابه، اداري همکارانو، کادري غړو او استادانو څخه مننه وکړم، دوی هر يوه پر خپل ځای د دغې ګڼې د چمتوکولو او خپرولو په برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې ترسره کړې دي، په دې هيله چې د ټول هېواد او په ځانګړې توګه د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې په کچه د څېړنو دغه لړۍ دوام ومومي او يو عزتمن او ځواکمن افغانستان ته د رسيدو په لاره کې اغېزمنې واقع شي.

پوهنمل دکتور عنايت الرحمن مايار

د وردګ علمي- څېړنيزې مجلې مسؤل مدير

# د میدان وردګ ولایت تر اقلیمي شرایطو لاندې د رومي بانجانو په وده او حاصل باندې د بېلابېلو فاصلو اغېزې

۱ـ پوهنیار حکمت الله حکمت*[۱]، ۲ـ پوهنیار زاهد الله زاهد[۱]، ۳ـ پوهنیار اجمل حبیبي[۱]
۱- هارټیکلچر ډیپارټمنت، کرنې پوهنځی، وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه، میدان وردګ، افغانستان

**لنډيز**

رومي بانجان (*Lycopersicon esculentum* Mill) چې د سولاناسیا د کورنۍ یو له مهمو یو کلنو سابو له ډلې څخه دی، چې په نړۍ کې له کچالو څخه وروسته دویمه درجه مهم سابه بلل کېږي، کوم چې د جنوب غربي امریکا بومي نبات او له هغه ځای څخه یې منشا اخیستې ده. دا چې میدان وردګو ولایت هم د رومي بانجانو د تولید له مخې په هېواد کې د یو برجسته او محوري ولایت په توګه پېژندل شوی دی، نو په یاد ولایت کې د رومي بانجانو د بوټو ترمنځ د ښې ودې او لوړ حاصل تولیدونکو فاصلو نه مشخص کېدل د رومیانو د تولید یو له عمده ستونزو څخه شمېرل کېږي چې د رومي بانجانو د ودې او حاصل د کموالي عمده لامل ګڼل شوی دی، له همدې امله دا څېړنه د میدان وردګو ولایت تر اقلیمي شرایطو لاندې د رومي بانجانو د بوټو ترمنځ د مختلفو فاصلو په موخه په لاره اچول شوې ده. څېړنه د بلاکونو په بشپړې اتفاقي طرحه کې (RCBD)، له درېو تکرارونو سره په ۱۴۰۲هـ. ش کال کې د وردګ پوهنتون په څېړنیز فارم کې په کار اچول شوې ده. د څېړنې پایلو وښوده، چې د رومي بانجانو د بوټو ترمنځ بېلابېلې فاصلې یو له بله سره د پام وړ توپیر لري، په داسې ډول چې د نبات لوړوالی په ۴۰ سانتي متره فاصله کې ٪۳۲،۴۹۲ زیاتوالی کړی، نسبت ۵۰ سانتي متره فاصلې ته. د ښاخونو شمېر په ۳۰ سانتي متره کې ٪۲۷،۴۵۰ زیاتوالی کړی، نسبت ۴۰ سانتي متره فاصلې ته. په دې توګه د پاڼو شمېر (٪۴۱،۹۳۷)، د کلستر شمېر په نبات کې (٪۲۲،۵۴۱)، د ګلانو شمېر په کلستر کې (٪۱۷،۱۶۹)، د ګلانو شمېر په نبات کې (٪۵۴،۱۳۴)، د مېوې شمېر په کلستر کې (٪۱۹،۳۵۷)، د مېوې شمېر په نبات کې (٪۳۹،۴۹۰)، د مېوې وزن په نبات کې (٪۴۶،۲۳۱)، د مېوې وزن په پلاټ کې (٪۸،۷۴۴) او د نبات وزن په هکتار کې (٪۸،۷۴۶) په ۵۰ سانتي متره فاصله کې نسبت ۳۰ سانتي متره فاصلې ته د پام وړ زیاتوالي کړی دی او د نبات اوږدوالی او قطر د نبات په وده او حاصل باندې کوم تاثیر نه دی کړی، نو د تجربې د پایلو له مخې ۵۰ سانتي متره فاصله د رومیانو د کرلو لپاره سپارښت کېږي .

**کلیدي کلمې**: رومي بانجان، وده، حاصل او فاصله

* Email: hikmatullahnairam2018@gmail.com

# Effects of different distances on the growth and yield of tomatoes under the climatic conditions of Wardak province

1- Hikmatullah Hikmat[*1], 2- Zahedullah Zahed[1], 3- Ajmal Habibi[1]
1- Horticulture Department, Agriculture Faculty, Wardak Institute of Higher Education, Maidan Wardak, Afghanistan

## Abstract

Tomato (*Lycopersicon esculentum* Mill) is one of the most important annual vegetables (of Solanaceae) family and is the second most important vegetable in the world after potatoes. Since Maidan Wardak province is known as one of the most prominent and pivotal provinces in the country in terms of the production of tomatoes, the lack of clear distances between Change good to optimal growth and high yield production between tomato plants in this province is one of the main problems of tomato production which is the main reason for the growth and yield of tomatoes. The study was conducted in 2023 at experimental Farm of wardak of Higher Education in randomized complete block design (RCBD) with four Treatments and three replications. The results of the study showed that the different distances between the plants of tomatoes differed significantly from each other, the height of the plant increased by 40cm (32.492%) to 50 cm, the number of branches increased by 30cm (27.450%) compared to the distance of 40 cm, the number of leaves (41.937%), the number of clusters in the plant (22.541%) and the number of flowers The number of flowers in the cluster (17.169%), the number of flowers in the plant (54.134%) ،the number of fruits in the cluster (19.357%), The number of fruits per plant (39.490%), fruit weight per plant (46.231%), fruit weight per plot (8.744%) and plant weight per hectare (8.746%) increased significantly compared to 30 cm at a distance of 50 cm, A distance of 50 cm is recommended for the cultivation of tomatoes based on the results of the experiment.

Keywords: tomato, distance, growth and yield

* Email: hikmatullahnairam2018@gmail.com

**سريزه**

رومي بانجان (*Lycopersicon esculentum* L) چې د سولاناسيي (Solanaceae) په کورنۍ پورې اړه لري، يو له مهمو ارزښت لرونکو يو کلنو سبو څخه له ډلې څخه شمېرل کېږي، چې له کچاليو څخه وروسته په نړۍ کې دويم مقام لري، کوم چې د جنوب ختيځې امريکا بومي نبات بلل کېږي. رومي بانجان د ژورو ريښو لرونکی نبات دی، چې نه يوازې دغذايي ارزښت له مخې يو مهم سابه بلل کېږي ، بلکې د اقتصادي ارزښت له مخې هم په نړۍ کې ځانګړې شهرت لري، چې په آزاده فضا او هم په شنوخونو کې کرل کېږي. د روميانو څخه په تازه او پروسس شوي ( روب کيچپ، سس او داسې نورو) شکلونو سره استفاده کېږي . رومي بانجان کېداى شي ژيړ، نارنجي، ګلابي، سور او حتى سپين رنګونه ولري، سور رنګ يې د لايکوپين، نارنجي او ژيړ رنګونه د بيتا کاروتين له امله رامنځته کېږي، ژيړ او نارنجي روميان د سرو روميانو سره د غذايې ارزښت له نظره مساوي او يا بهتره دي، ځکه لايکوپين کوم غذايي ارزښت نه لري، مګر يو قوی اکسيدانت بلل کېږي، ولې کاروتيناید د ويټامين اې يوه مهمه سرچينه شمېرل کېږي (Karmiloff-Smith,1994). رومي بانجان د اقليم له نظره ګرم او وچو شرايطو ته اړتيا لري، چې د بحر له سطحې څخه د ۷۰۰ تر ۲۰۰۰ متره په لوړوالي کې کرل کېږي، په نړۍ کې د رومي بانجانو توليد د ودې او زياتوالي په حال کې دی، چې اوس مهال په ايتوپيا هېواد کې په يو هکتار کې له ٦,٥ څخه تر ۲۴ متريک ټنه حاصل توليدېږي( Chernet *et al.,* 2017). د آبرا د راپور په اساس چې په ايتوپيا کې په مختلفو ځايونو کې د روميانو د بېلابېلو ډولونو لپاره له ۱۰ څخه تر ۵۰ سانتي متره پورې د بوټو ترمنځ او له ٦۰ څخه تر ۱۲۰ سانتي متره د قطارونو ترمنځ فاصله ښودل شوې ده (Abrha *el al.,* 2015). رومي بانجان په انساني تغذيه کې مهم رول لري او په زياته اندازه کلسيم او ويتامين سي لري چې د انسانانو په ميتابوليکي فعاليتونو کې مهمه ونډه اخلي. څېړنې ښيي، چې پاخه او رسېدلي ۱۰۰ ګرامه رومي بانجان په خپل ترکيب کې ۹۴ ګرامه اوبه، ۰,۵ ګرامه منرالونه، ۰,۸ ګرامه فايبر، ۰,۹ ګرامه پروتين، ۳۵٦ ملي ګرامه کروتين، ۰,۱۲ ملي ګرامه ويټامين B1، ۰,۰٦ ملي ګرامه ويټامين B2 او ۲۷ ملي ګرامه ويټامين سي لري (Bari *et al.,* 2010). د رومي بانجانو د توليد ټيټه کچه د کرنيز مديريت ضعيفو طرزالعملونه لکه د کښت کثافت، سرې او د اوبو لګولو مديريت په اړه د ستونزو سره تړاو لري، د نبات د بوټو او قطارونو ترمنځ فاصله يو له مهمو کرنيزو عمليو څخه ده چې د رومي بانجانو په توليد کې د پام وړ اغېزه کوي، د نباتاتو ترمنځ غوره فاصله د في واحد ځمکې څخه غوره ګټه اخيستنه، د لوړ حاصل توليد او د توليد کيفيت ته وده ورکوي (FAO, 2018). د نباتاتو ترمنځ مناسبه فاصله د مطلوبو حاصلاتو په ترلاسه کولو کې يو له کرنيزو مهمو تخنيکونو څخه شمېرل کېږي، په واحد د سطحه کې د نبات وړانديز شوي شمېر د کرنې له موجود ځای څخه په کافي اندازه ګټه اخيستنه کې مرسته کوي او غير منظمه فاصله کېداي شي نسبتاً ټيټ حاصل او د مېوې ضعيفه پايله ولري (Maboko *et al.,* 2017). د رومي

بانجانو تر مینځ کافي فاصله د فوټوسنتیز لپاره د پاڼو له لارې د رڼا ښه ننوتلو ته اجازه ورکوي. هغه نباتات چې کافي رڼا ترلاسه کوي ډېره انرژي تولیدوي، چې په پایله کې د ودې او حاصل د زیاتوالی سبب ګرځي (Doreswamy *et al.*, 2018). مناسب فاصله د رومي بانجانو د نباتاتو تر مینځ د هوا ښه جریان آسانه کوي، د ناروغیو خطر لکه د لندبل، پوډري فایبر او بوتریټیس ناروغۍ کموي. د هوا ښه حرکت د رطوبت د کچې په کمولو کې هم مرسته کوي، د مولډ او نورو فنګسي ناروغیو د ودې مخه نیسي (Souto *et al.*, 2004). مناسب واټن د ګڼې ګوڼې مخه نیسي، کوم چې د رومي بانجانو تر منځ د غذایي موادو سیالي کموي، کافي ځای هر نبات ته اجازه ورکوي چې غذایي موادو، اوبو او اړینو منرالونو ته لاس رسی ولري، د ودې او د غذایي موادو د کمښت مخه ونیسي (Samal *et al.*, 2019). مناسبه فاصله کولی شي چې د رومیانو بوټو ته د غذایي موادو کافي سرچینې په لاسه ورکړي، کوم چې د مېوو د ښه پراختیا لامل کېږي، کمه فاصله د نباتاتو په ګڼې ګوڼې کې مرسته کوي، کوم چې کولی شي د مېوو وده محدوده کړي او په پایله کې د کوچنیو مېوو سبب شي (Grieneisen *et al.*, 2018). د رومي بانجانو تر منځ مناسبه فاصله کولی شي د ناروغۍ د خپرېدو د خطر په کمولو کې مرسته وکړي، مناسب فاصله د هوا ښه جریان ته اجازه ورکوي چې د رطوبت کچه راټیټه کړي، په دې توګه د ناروغیو پراختیا محدودوي (Souto *et al.*, 2004). د غوره او دقیقي فاصلې نه موجودیت په نباتاتو کې نه یوازې د تولید د کمښت، د تولید د کیفیت د ټیټوالي، د بوټو ترمنځ په غذایي ریژیم کې د سیالۍ لامل کیږي، بلکې د ناروغیو خپرېدو ته ښه زمینه مساعدوي، نو د پورته ټکو په نظر کې نیولو سره نوموړې څېړنه چې د میدان وردګو ولایت تر اقلیمي شرایطو لاندې د رومي بانجانو په ودې او حاصل باندې د مختلفو فاصلو د اغېزو تر عنوان لاندې ترسره شوه، کوم چې په پایله کې به یې په میدان وردګو ولایت کې د لوړ او باکیفیته حاصل په موخه د بوټو ترمنځ مناسبه فاصله وپېژندل شي. د څېړنې پایلې به د اړوند مسلک له مینوالو او بزګرانو سره مرسته وکړي ترڅو د لوړ حاصل ورکوونکې او د ښې وده کوونکې فاصلې وپېژني.

**د څېړنې توکي او کړنلاره**

**د څېړنې وخت**

دغه علمي څېړنه د حمل میاشتې څخه نیولې د میزان د میاشتي تر آخره په ۱۴۰۲ هجري شمسي کال کې د رومي بانجانو په وده ییز موسم کې د وردګ پوهنتون په څېړنیز فارم کې «په میدان وردګ ولایت کې د رومي بانجانو په وده او حاصل باندې د مختلفو فاصلو تاثیر» ترسرلیک لاندې ترسره شوه.

**اقلیم او د هوا پېژندنې معلومات**

له جغرافیاوي پلوه د تجربې د پلې کولو ځای د ختیځ طول البلد په ۶۸ درجو، ۴۷ دقیقو او ۳۹ ثانیو او د شمالي عرض البلد په ۳۴ درجو ، ۱۰ دقیقو او ۳۴ ثانیو کې د بحر له سطحې څخه په ۲۲۲۰ متره لوړوالي سره موقیعت لري. میدان وردګو ولایت د افغانستان د مرکزي ولایتونو له جملې څخه شمېرل کېږي. د دغه ولایت

اقليم سوړ دی، چې واورين ژمی او ګرم او وچ اوړی لري، د اورښت اندازه يې کمه او زياتره په ژمي کې (د واورې په شکل) ترسره کېږي. د قوس، جدي، دلوه او حوت مياشتې عموماً ډېرې سړې مياشتې دي، چې په دغو مياشتو کې په منځنۍ توګه د تودوخې کچه له صفر څخه هم راښکته کېږي. د چنګاښ، زمري او وږي مياشتې عموماً ګرمې مياشتې دي، په دغو مياشتو کې په منځنۍ توګه د تودوخې درجه په عادي حالتونو کې د سانتي ګريد له ۲۵ درجو څخه لوړېږي. له موسمي اورښتونو څخه زياتره يې د جدي د مياشتې د دويمې نيمايي له پيل څخه بيا د وري مياشتې د لومړۍ نيمايي تر پايه پورې رامنځته کېږي.

**د څېړنې ځای**

دا علمي څېړنه په ميدان وردګ ولايت کې، د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند د کرنې پوهنځي په څېړنيز فارم کې د رومي بانجانو په وده او حاصل باندې د بوټو ترمنځ د مختلفو فاصلو د اغېزو معلومولو په موخه تر سره شوې ده.

**په څېړنه کې په کار اچول شي مواد**

ددې څېړنې د سرته رسېدو په موخه د رومي بانجانو له يوې ځانګړې ورايټۍ (Rio grand)، يوريا او DAP سرې او همدارنګه د ودې او حاصل د پارامترونو د اندازه کولو لپاره د متر، خط کش او ډيجيټل تلې څخه کاراخيستل شوی دی.

**د تجربې طرحه او نقشه**

ياده څېړنه په RCBD ډيزاين د دريو ترېتمنټونو (۳۰،۴۰،۵۰ سانتي متره) د بوټو ترمنځ فاصلو او درې تکرارونو کې ترتيب او تنظيم شوې ده، د څېړنې د دوو بلاکونو ترمنځ واټن ۶۰ سانتي متره، د هر پلاټ اوږدوالی ۳ متره، عرض يې ۲،۸ متره، د لښتيو تر منځ واټن ۵۰ سانتي متره چې د څېړنې مجموعي مساحت يې ۸،۴ متره کېږي ترسره شوه.

**احصائيوي تحليل**

له څېړنې څخه د راټول شوو ارقامو تجزيه او تحليل د مايکرو سافټ ايکسل او سس (SASS) پروګرامونو څخه په ګټې اخيستنې سره، د ترېتمنټونو ترمنځ د تفاوت لاسته راوړلو په موخه د (Lest Significant/L.S.D Difference test) څخه کار اخيستل شوی دی.

**موندنې او مناقشه**

**د نبات لوړوالي**

د وريانس د تحليل او تجزيې له جدول څخه څرګنده شوه چې فاصلو د رومي بانجانو د نبات په لوړوالي د پام وړ اغېزه کړې ده (۱- جدول). د فاصلو په تړاو تر ټولو لوړ نبات ۷۹،۲۵۰ سانتي متره په هغه ترېتمنټکې په نښه شوی چې د ۴۰ سانتي متره فاصلې څخه په کې استفاده شوې، په داسې حال کې چې تر ټولو کم د نبات لوړوالی ۵۳،۵۰ سانتي متره په ۵۰ سانتي متره فاصله کې ښودل شوی (۲- جدول). په ۴۰ سانتي متره فاصله کې د نبات زيات لوړوالی کېدای شي بوټو ته د ښو غذايي مواد له رسېدنې او د لمر د وړانګو د ښه

نفوذ په اساس وي چې عينې پايلې حسين او ملګرو يې له هغې څېړنې څخه ترلاسه کړې، چې د رومي بانجانو په نبات ترسره شوې دي (Hussain *et al.*, 2016).

**د ښاخونو شمېر في نبات**

د واريانس د تحليل او تجزيې له جدول څخه ښکاري چې د نبات ترمنځ فاصلې د نبات د ښاخونو په شمېر د پام وړ اغېزه کړې ده (۱- جدول). په داسې ډول چې په نبات کې د ښاخونو اعظمي شمېر په ۳۰ سانتي متره فاصله کې ۱۲،۷ او تر ټولو کم شمېر يې په ۴۰ سانتي متره فاصله کې ۹،۲ دانې ښودل شوی دی(۲- جدول). نو ۳۰ سانتي متره فاصلې نسبت ۴۰ سانتي متره فاصلې ته ۲۷،۴۵۰٪ زياتوالی کړی دی. هېره دې نه وي چې د دې څېړنې پايلې د اجای او د هغه د ملګرو د څېړنې له پايلې سره مطابقت لري(Ajayi *et al.*, 2018).

**د پاڼو شمېر في نبات**

د واريانس د تحليل او تجزيې له جدول څخه ښکاره شوه چې فاصلې په نبات کې د پاڼو په شمېر د پام وړ اغېزه ښودلې ده (۱- جدول). د فاصلې په تړاو په نبات کې د پاڼو اعظمي شمېر ۱۴۲،۲ په هغه ترېتمنټ کې ښودل شوې چې ۵۰ سانتي متره فاصله ورته په نظر کې نيول شوې ده، په داسې حال کې چې تر ټولو کم شمېر ۸۲،۷۵۰ په هغه ترېتمنټ کې ترلاسه شوی، چې له ۳۰ سانتي متره فاصلې څخه په کې استفاده شوې ده (۲- جدول). په ۵۰ سانتي متره فاصله کې د پاڼو زيات شمېر ښايي د لمر د ښه نفوذ له امله وي چې په نتيجه کې يې ښه ضيايي ترکيب صورت نيسي چې بالاخره د نبات د ښې بدنې ودې سبب کېږي، دا رنګه پايلې د فالدون او ملګرو د څېړنې له پايلو سره مطابقت لري (Falodun *et al.*, 2019).

**د کلستر شمېر في نبات**

د احصائيوي تحليل او تجزيې څخه ښکاره شوه چې فاصلې په نبات کې د کلسترونو په شمېر د پام وړ اغېزه ښودلې ده (۱- جدول). چې د فاصلې په تړاو په نبات کې د کلستر اعظمي شمېر ۳۸،۰۸ په هغه ترېتمنټ کې په ډاګه شوی چې ۵۰ سانتي متره فاصله په نظر کې ورته نيول شوې ده، په داسې حال کې چې تر ټولو کم شمېر ۲۹،۵ په هغه ترېتمنټ کې ثبت شول، چې له ۳۰ سانتي متره فاصلې څخه په کې استفاده شوې ده (۲- جدول). د بوټو ترمنځ په ۵۰ سانتي متره فاصله کې د زيات شمېر کلسترونو جوړېدل په نبات کې ښايي د لمر د وړانګو د غوره خپرېدو او نبات ته د زياتو غذايي مواد د رسېدنې له امله وي، چې ورته پايلې ارا او ملګرو د خپلې ترسره شوې څېړنې څخه هم لاسته راوړې دي (Ara *et al.*, 2019).

**د ګلانو شمېر في کلستر**

د واريانس د تحليل او تجزيې څخه جوته شوه چې فاصلې په کلستر کې د ګلانو په شمېر د يادونې وړ اغېزه کړې ده (۱- جدول). چې د فاصلې په تړاو په کلستر کې د ګلانو اعظمي شمېر ۲،۷۴۹ په هغه پلاټ کې چې ۵۰ سانتي متره فاصله کارول شوې ثبت شو په داسې حال کې چې تر ټولو کم شمېر (۲،۲۷۷) په هغه پلاټ کې چې له ۳۰ سانتي متره فاصلې څخه په کې استفاده شوې په نښه شول(۲- جدول).

ورته پایله ښايي په نبات کې د ښه فوتوسنتیز او د لمر د وړانګو داخلیدل د نبات مختلفو برخو ته وي، چې پایلې یې روډریګز او ملګرو د څېړنې د پایلې سره اړیکه لري(Rodriguez *el al.*, 1975).

**د ګلانو شمېر في نبات**

د احصائیوي تحلیل او تجزیې څخه څرګنده شوه چې فاصلې په نبات کې د ګلانو په شمېر د پام وړ اغېزه ښودلې ده (۱- جدول). چې د فاصلې په تړاو په نبات کې د ګلانو اعظمي شمېر ۱۵۰,۸ په هغه پلاټ کې چې ۵۰ سانتي متره فاصله استفاده شوې په داسې حال کې چې تر ټولو کم شمېر ۶۹,۱ په هغه پلاټ کې ترلاسه شو، چې ۳۰ سانتي متره فاصله ورته په پام کې نیول شوې (۲- جدول). په ۵۰ سانتي متره فاصله کې د ګلانو د شمېر زیاتوالی ښايي د لمر د کافي وړانګو له امله وي چې عینې پایلې یې روډریګز او د هغه د ملګرو د څېړنې له پایلو سره مطابقت لري،ه چې تر ټولو زیات شمېر ګلان یې ۸۰,۳ دنې په ۵۰ سانتي متر فاصله کې په ښه کړي دي (Rodriguez *el al.*, 1975).

**د مېوې شمېر في کلستر**

د واریانس تحلیل او تجزیې څخه معلومه شوه چې فاصلې په کلستر کې د مېوې په شمېر د یادونې وړ اغېزه کړې ده (۲- جدول). چې د فاصلې په تړاو په کلستر کې د مېوې تر ټولو زیات شمېر (۲,۵۸۳) په هغه پلاټ کې چې ۵۰ سانتي متره فاصله استعمال شوې په داسې حال کې چې تر ټولو کم شمېر (۲,۰۸۳) په هغه پلاټ کې چې ۳۰ سانتي متره فاصله استفاده شوې څرګند شوی، په ۵۰ سانتي متره فاصله کې د مېوې زیات شمېر په في کلستر کې ښايي د کافي غذايي موادو د موجودیت او ښې ګرده شیندنې له امله وي، چې دا پایلې تانسکودي او ملګرو یې د خپلې څېړنې له پایلو څخه هم ترلاسه کړې دي (Thanuskodi, 2012).

۲ - جدول: درومي بانجانو د بوټو ترمنځ په مختلفو کې د نبات لوړوالی، د ښاخونو شمېر في نبات، د پاڼو شمېر في نبات، د کلسترونو شمېر في نبات، د ګلانو شمېر في کلستر او د ګلانو شمېر في نبات د اوسطونو مقایسه کول ښيي

| د بوټو ترمنځ فاصله (سانتي متر) | د نبات لوړوالی (سانتي متر) | د ښاخونو شمېر في نبات | د پاڼو شمېر في نبات | د کلستر شمېر في نبات | د ګلانو شمېر في کلستر | د ګلانو شمېر في نبات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۷۹ ab | ۱۲.۷۵ a | ۸۲.۷۵ c | ۲۹.۵۰ c | ۲.۲۷ bc | ۶۹.۱۶۵ c |
| ۴۰ | ۷۹.۲۵ a | ۹.۲۵ b | ۱۲۷.۶ b | ۳۷.۵۰ ab | ۲.۴۶ b | ۹۸.۴۶۵ b |
| ۵۰ | ۵۳.۵ c | ۹.۷۷ bc | ۱۴۲.۲ a | ۳۸.۰۸ a | ۲.۷۴ a | ۱۵۰.۸۰ a |
| $LSD_{5\%}$ | ۲.۱۴ | ۱.۲۶ | ۶.۴۶ | ۴.۴۶ | ۰.۲۱ | ۶.۲۴۶ |

**د مېوې شمېر في نبات**

لکه څنګه چې د واریانس د تحلیل او تجزیې څخه څرګندیږي چې د نبات ترمنځ فاصلې په نبات کې د مېوې په شمېر د پام وړ اغېزه کړې ده (۳- جدول). په داسې ډول چې په نبات کې د مېوې اعظمي شمېر په ۵۰ سانتي متره فاصله کې ۴۲,۴۱۵ دی او تر ټولو کم شمېر یې په ۴۰ سانتي متره فاصله کې ۲۵,۶۶۵ دي، نو

۵۰ سانتي متره فاصلې نسبت ۴۰ سانتي متره فاصلې ته ۳۹،۴۹۰٪ زياتوالی کړی دی (۴- جدول). چې دا پايلې د روډريگز او د هغه د ملگرو د څېړنې له پايلې سره مطابقت لري (Rodriguez *et al.*, 1975).

**د مېوې اوږدوالی**

د واريانس د تحليل او تجزيې څخه معلومه شوه چې فاصلې په نبات کې د مېوې په اوږدوالي باندې د پام وړ اغېزه نه ده کړې (۳- جدول). چې د فاصلې په تړاو په نبات کې د مېوې اعظمي اوږدوالی ۵،۳۷۰ سانتي متره په هغه پلاټ کې چې ۵۰ سانتي متره فاصله استعمال شوې په داسې حال کې چې تر ټولو کم د مېوې اوږدوالی (۴،۷۰۲) سانتي متره په هغه پلاټ کې چې ۳۰ سانتي متره فاصله استفاده شوې په نښه شو (۴- جدول).

**د مېوې قطر**

د احصائيوي تحليل او تجزيې څخه څرګنده شوه چې فاصلې په نبات کې د مېوې په قطر د يادونې وړ اغېزه نه ده کړې (۳- جدول). چې د فاصلې په تړاو په نبات کې د مېوې اعظمي قطر ٦،۴۴۴ سانتي متره په هغه پلاټ کې چې ۵۰ سانتي متره فاصله استفاده شوې، ثبت شو په داسې حال کې چې تر ټولو کم د مېوې قطر (۵،۴۰۷) سانتي متره په هغه پلاټ کې چې ۳۰ سانتي متره فاصله استعمال شوې ثبت شو (۴- جدول). چې ورته پايلې کاپوريا او ملکرو يې د خپلې څېړنې له پيالو څخه ترلاسه کړې دي، هغوی د رومی بانجانو د مختلفو فاصلو په تړاو څېړنه ترسره کړې وه چې د ميوې په قطر کې يې په مختلفو فاصلو کې د پام وړ اغېزه نه وه پيدا کړې (Kapuriya el al., 2017).

**د مېوې وزن في نبات**

لکه څرنگه چې د واريانس د تحليل او تجزيې څخه معلوميږي چې د نبات ترمنځ فاصلې په نبات کې د مېوې په وزن باندې د پام وړ اغېزه کړې ده(۳- جدول)، په داسې ډول چې په نبات کې د مېوې اعظمي وزن په ۵۰ سانتي متره فاصله کې (۴،۵۳۸) کېلوگرامه دي او تر ټولو کم وزن يې په ۳۰ سانتي متره فاصله کې (۲،۴۴۰) کېلوگرامه دي، نو ۵۰ سانتي متره فاصله نسبت ۳۰ سانتي متره فاصلې ته ۴٦،۲۳۱٪ زياتوالی ښيي(۴- جدول). د ميوې د وزن زياتوالی په ۵۰ سانتي متره فاصله کې ښايي د لمر د وړانکو ښه خپريدنه د نبات ټولو برخو ته و اوسي چې په نتيجه کې يې غوره فوتوسنتيز صورت نيسي او د غوره فوتوسنتيز په پايله کې د مېوې په وزن کې د پام وړ زياتوالی منځ ته راځي، چې عينې پايلې يې سينغ او ملګرو د څېړنې د پايلې سره تړاو لري(SINGH *et al.*, 2018).

**د مېوې وزن في پلاټ**

د احصائيوي تحليل او تجزيې څخه جوته شوه چې فاصلې په پلاټ کې د مېوې په وزن د يادونې وړ اغېزه کړې ده(۳- جدول). چې د فاصلې په تړاو په پلاټ کې د مېوې اعظمي وزن (۴۰،۲۲۱) کېلوگرامه هغه پلاټ

کې چې ۵۰ سانتي متره فاصله استفاده شوې ښودل شوي، په داسې حال کې چې تر ټولو کم د مېوې وزن (۳٦,٦۹۴) کېلوگرامه هغه پلاټ کې چې ۴۰ سانتي متره فاصله استعمال شوې ریکارډ شو(۴- جدول).

**د مېوې وزن في هکتار**

لکه څرنگه چې د واريانس د تحليل او تجزيې څخه معلوميږي چې د نبات ترمنځ فاصلې په هکتار کې د مېوې په وزن باندي د پام وړ اغېزه کړې ده(۳- جدول). نو په داسې ډول چې په هکتار کې د مېوې اعظمي وزن په ۵۰ سانتي متره فاصله کې ۴۷,۸٦۹ ټنه دی او تر ټولو کم وزن يې په ۴۰ سانتي متره فاصله کې ۴۳,٦۸۲ ټنه دی، نو ۵۰ سانتي متره فاصله نسبت ۴۰ سانتي متره فاصلې ته ۸,۷۴٦٪ زياتوالی ښيي (۴- جدول). په ۵۰ سانتې متره فاصله کې د مېوې د وزن زياتوالی په في هکتار کې ښايې د نبات ټولو برخو ته د لمر د وړانکو د ښې خپرېدنې له امله واوسي چې په نتيجه کې يې غوره فوټوسنتيز صورت نيسي او د غوره فوټوسنتيز په پايله کې د مېوې په وزن کې د پام وړ زياتوالی منځته راځي، چې عينې پايلې د گيټهان او ملگرو د څېړنې له پايلې سره سمون لري (Getahun *et al.,* 2015).

**۳ – جدول**: درومي بانجانو د بوټو ترمنځ په مختلفو فاصلو کې د ميوي شمېر في کلستر، د ميوي شمېر في نبات، د ميوې اوږدوالی، د ميوې قطر، د ميوې وزن في نبات، د ميوې وزن في پلاټ او د ميوې وزن في هکتار د تجزيه وريانس ښيي

| تغيراتو سرچينې | د آزادي درجه | د مېوې شمېر في کلستر | د مېوې شمېر في نبات | د مېوې اوږدوالی (سانتي متر) | د مېوې قطر (سانتي متر) | د مېوې وزن في نبات (کيلوګرام) | د مېوې وزن في پلاټ (کيلوګرام) | د مېوې وزن في هکتار (ټن) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تکرار | ۲ | ۰,۰۰۶$^{ns}$ | ۳,۹۰۷$^{ns}$ | ۰.۱۰۸$^{ns}$ | ۰.٦۸۸$^{ns}$ | ۰.۱۵۹$^{ns}$ | ۰.۰۴۲$^{ns}$ | ۰.۰٦۰$^{ns}$ |
| تريتمينت | ۲ | ۰,۱۹۴$^{*}$ | ۲٦۸,۵٦۲$^{*}$ | ۰.۴۳٦$^{ns}$ | ۰.۸۰۸$^{ns}$ | ۳.۳۱۷$^{*}$ | ۹.۵۳٦$^{*}$ | ۱۳.۵۱۵$^{*}$ |
| غلطی | ۴ | ۰,۰۰٦ | ۰,٦۰۹ | ۰.۴۱۳ | ۰.۱۹۵ | ۰.۱۰۷ | ۰.۲۱٦ | ۰.۳۰۷ |
| (C.V) | | ۳,۵۳۱ | ۲,۴۷۸ | ۱۲.۵۰۴ | ۷.۴۷۲ | ۹.۵۱۱ | ۱.۲۰۵ | ۱.۲۰۵ |

**۴- جدول**: درومي بانجانو د بوټو ترمنځ په مختلفو فاصلو کې د ميوي شمېر في کلستر، د ميوي شمېر في نبات، د ميوې اوږدوالی، د ميوې قطر، د ميوې وزن في نبات، د ميوې وزن في پلاټ او د ميوې وزن في هکتار د اوسطونو مقايسه کول ښيي

| د بوټو ترمنځ فاصله (سانتي متر) | د مېوې شمېر في کلستر | د مېوې شمېر في نبات | د مېوې اوږدوالی (سانتي متر) | د مېوې قطر (سانتي متر) | د مېوې وزن في نبات (کيلوګرام) | د مېوې وزن في پلاټ (کيلوګرام) | د مېوې وزن في هکتار (ټن) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۲.۰۸۳ c | ۲٦.۴۱۵ b | ۴.۷۰۲ a-c | ۵.۴۰۷ bc | ۲.۴۴۰ c | ۳۸.۹٦۴ b | ۴٦.۳۸٦ b |
| ۴۰ | ۲.۴۱٦ ab | ۲۵.٦٦۵ bc | ۵.۳۵٦ ab | ۵.۸۸۴ ab | ۳.۳٦۵ b | ۳٦.٦۹۴ c | ۴۳.٦۸۳ c |
| ۵۰ | ۲.۵۸۳ a | ۴۲.۴۱۵ a | ۵.۳۷۰ a | ٦.۴۴۴ a | ۴.۵۳۸ a | ۴۰.۲۱۰ a | ۴۷.۸٦۹ a |
| $LSD_{5\%}$ | ۰.۱۸۹ | ۱.۷٦۹ | ۱.۴۵۸ | ۱.۰۰۱ | ۰.۷۴۳ | ۱.۰۵۵ | ۱.۲۵٦ |

## پایله

د دغې څېړنې اصلي موخه  دا وه ترڅو د میدان وردگو ولایت تر اقلیمي شرایطو لاندې د رومي بانجانو د بوټو ترمنځ په مختلفو فاصلو کي  د ودې او حاصل مقایسه وڅېړل شي. د څېړنې له پایلو څخه په ډاګه شوه چې د رومي بانجانو د بوټو ترمنځ مختلفي فاصلې یو له بل سره په وده او حاصل کې د پام وړ اغېزې لري.

په داسې ډول چې د رومي بانجانو د بوټو ترمنځ ۵۰ سانتي متر فاصله  د نورو ټولو فاصلو په منځ کې هغه فاصله ده چې د پاڼو شمېر في نبات ۱۴۲,۲، د ګلانو شمېر في کلستر ۲,۷۴۹، د ګلانو شمېر في نبات ۱۵۰,۸، د کلستر شمېر في نبات ۳۸,۰۸، د مېوې شمېر في کلستر ۲,۵۸۳، د مېوې شمېر في نبات ۴۲,۴۱۵، د مېوې وزن في نبات ۴,۵۳۸، د مېوې وزن في پلاټ ۴۰,۲۲۱، د مېوې وزن في هکتار ۴۷,۸۶۹ راغلی دی، او دا هغه فاصله ده، چې تر نورو ټولو فاصلو په کې زیاتوالی راغلی دی .

د یادولو وړ ده چې ۴۰ او ۳۰ سانتي متره فاصله د بوټو ترمنځ  بیا په ترتیب سره د نبات په لوړوالي ۷۹,۲۵۰ سانتي متره او د ښاخونو په شمېر ۱۲,۷ کې تر ټولو فاصلو وړاندی والی لري، نو د دې څېړنې د پایلو له مخې ویلی شو  چې ۵۰ سانتي متره د بوټو ترمنځ فاصله د ښې نمو او لوړ حاصل د تولید له کبله د نورو ټولو فاصلو څخه غوره او مناسبه فاصله ده، چې د بوټي د کرلو په وخت کې یې سپارښتنه په یاد ولایت کې کېږي.

## اخځلیکونه


Abrha, H., Birhanu, A., Desta, M., & Kebede, A. (2015). Effect of inter and intra-row spacing on yield and yield components of tomato (Solanum lycopersicum linn.) in SouthTigray, Ethiopia. Journal of Natural Sciences Research, 5(5), 1-5.

Ajayi, O., Tairu, M., & Akinleye, C. (2018). Growth and Yield of three Varieties of Tomato as Influenced by Staking and Spacing. In Proceedings of the 36th Annual Conference of Horticultural Society of Nigeria (Hortson), Lafia 2018 (pp. 120-126).

Ara, N., Bashar, M. K., Begum, S., & Kakon, S. S. (2007). Effect of spacing and stem pruning on the growth and yield of tomato. International Journal of Sustainable Crop Production, 2(3), 35-39.

Bari, A., Theobald, D. E., Caprioli, D., Mar, A. C., Aidoo-Micah, A., Dalley, J. W., & Robbins, T. W. (2010). Serotonin modulates sensitivity to reward and negative feedback in a probabilistic reversal learning task in rats. Neuropsychopharmacology, 35(6), 1290-1301.

Chernet, S., Belay, F., Tekle, G., Kahsay, Y., Weldu, N., & Zerabruk, G. (2017). Response of yield and yield components of tomato (Solanum Lycopersicon L.) to different inter and intra-row spacing at Merebleke, Northern Ethiopia. African Journal of Agricultural Research, 12(33), 2614-2619.

Doreswamy, D., & Javeri, J. (2018). Effect of process parameters in electric discharge machining of D2 steel and estimation of coefficient for predicting surface roughness. International Journal of Machining and Machinability of Materials, 20(2), 101-117.

Falodun, E. J., & Emede, T. O. (2019). Influence of plant spacing on the growth and yield of tomato (Lycopersicon esculentum Mill.) varieties. Agrosearch, 19(1), 46-58.

FAO, F. (2018). Food and agriculture organization of the United Nations. Rome, URL: http://faostat. fao. org.

Getahun, D., & Bikis, D. (2015). Responses of tomato varieties to intra-row spacing under rain-fed production. Agricultural Science Research Journal, 5(12), 171-179.

Grieneisen, M. L., Aegerter, B. J., Scott Stoddard, C., & Zhang, M. (2018). Yield and fruit quality of grafted tomatoes, and their potential for soil fumigant use reduction. A meta-analysis. Agronomy for Sustainable Development, 38, 1-16.

Hussain, Z., Ilyas, M., Khan, I. A., Khan, I., Khan, M. I., & Khan, B. (2016). Effect of sowing direction, plant spacing and weed control treatments on tomato yield and its weeds. Pakistan Journal of Weed Science Research, 22(1).

Kapuriya, V. K., Ameta, K. D., Teli, S. K., Chittora, A., Gathala, S., & Yadav, S. (2017). Effect of spacing and training on growth and yield of polyhouse grown cucumber (Cucumis sativus L.). International Journal of Current Microbiology and Applied Sciences, 6(8), 299-304.

Karmiloff-Smith, B. A. (1994). Beyond modularity: A developmental perspective on cognitive science. European journal of disorders of communication, 29(1), 95-105.

Maboko, M. M., Du Plooy, C. P., & Chiloane, S. (2017). Yield of determinate tomato cultivars grown in a closed hydroponic system as affected by plant spacing. Horticultura Brasileira, 35, 258-264.

Rodriguez, B. P., & Lambeth, V. N. (1975). Artificial Lighting and Spacing as Photosynthetic and Yield Factors in Winter Greenhouse Tomato Culture1. Journal of the American Society for Horticultural Science, 100(6), 694-697.

Samal, K., Mohan, A. R., Chaudhary, N., & Moulick, S. (2019). Application of vermitechnology in waste management: A review on mechanism and performance. Journal of Environmental Chemical Engineering, 7(5), 103392.

SINGH, S., Singh, T. K., & Namdeo, K. N. (2018). Effect of nitrogen and spacing on growth, yield and quality of tomato. Annals of Plant and Soil Research, 20(3), 313-312.

Souto González, J. A., Bello Bugallo, P. M., & Casares Long, J. J. (2004). Evaluation of air pollution modelling tools as environmental engineering courseware. Water Science and Technology, 49(8), 57-64.

Thanuskodi, S. (2012). Bibliometric analysis of Indian journal of agricultural research. International Journal of Information Dissemination and Technology, 2(3), 170-175.

# د میدان وردګ ولایت تر اقلیمي شرایطو لاندې د لوبیا په وده او حاصل باندې د فاسفورس او د چرګانو سرې د بېلابېلو اندازو اغېزې

۱- پوهنیار محمد جان آرین[1*] ۲- پوهنیار زاهد الله زاهد[2] پوهنیار احمدشاه احمدزی[2]
۱- اګرانومي دیپارتمنت ، کرنې پوهنځی، وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه ، میدان وردګ، افغانستان
۲- هارتیکلچر دیپارتمنت، کرنې پوهنځی، وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه، میدان وردګ، افغانستان

**لنډیز**

دا علمي څېړنه د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د کرنې پوهنځي په څېړنیز فارم کې د ۱۴۰۲ هـ ل کال د اوړي په موسم کې د (د میدان وردګ ولایت تر اقلیمی شرایطو لاندې د لوبیا په وده او حاصل باندې د فاسفورس او چرګانو سرې د بېلابېلواندازو اغېزې) تر سرلیک لاندې ترسره شوه، یاده څېړنه په بشپړ تصادفي بلاک ډیزاین (RCBD) کې د دریو (۳) تکرارونو او شپږو (٦) تریټمنټونو: T1 (Control)، T2 (3 Ton Poultry Manure/ ha)، T3 (4 Ton Poultry Manure/ha)، T4 (3 Ton Poultry Manure/ha+70Kg P2o5/ha)، T5 (4 Ton Poultry Manure +70Kg P2O5/ha) او T6 (70Kg P2O5/ha) ترسره شوه. په هر پلاټ کې د نباتاتو د قطارونو تر منځ فاصله ۴۰ سانتي متره، د بوټو تر منځ فاصله ۲۰ سانتي متره همدارنګه په هر پلاټ کې د بوټو د قطارونو شمېر ۴ او د بوټو شمېر ٦۰ و. د تجربوي نباتاتو روزنه،آبیاري او د هرزه بوټو کنټرول په منظم ډول په خپلو وختونوکې تر سره شول. د لوبیا نباتاتو د ودې او حاصل د پارامترونو را ټوله شوې ډیټا د (STAR) سافټویر په مرسته انلایز شوه چې د فاسفورس او چرګانوسرې د بېلابېلو اندازو د لوبیا نبات په وده او حاصل د پام وړ اغېزه وکړه (P<0.05). په $T_5$ تریټمنټ کې (4 Ton Poultry Manure+70 Kg $P_2O_5$) د نبات تر ټولو ډېر لوړوالی ۴۰،۴۱ سانتي متره، د نبات د ښاخونو تر ټولو ډېر شمېر ۱٦،۵۸، د نبات د پاڼو تر ټولو زیات شمېر ۱۲۰،۰۰، د نبات د پاڼو تر ټولو زیاته سطحه ۵٦،۷۹ سانتي متره مربع، په نبات کې د پلیو تر ټولو زیات شمېر ۱۹،۴۹، په پلي کې د دانو تر ټولو زیات شمېر ۴،۴۳، د ۱۰۰ دانو تر ټولو زیات وزن ۴۳،٦۷ ګرامه او د دانو تر ټولو زیات حاصل ۳۷٦۷،٦۵ کیلو ګرام په هکتار کې مشاهده شول، باید یادونه وکړو چې د یادو پارامترونو تر ټولو کمې اندازې په کنټرول تریټمنټ کې (چې هېڅ ډول سره نه وه ورته علاوه شوې ) لاسته راغلې دي.

**کلیدي کلمې**: عامه لوبیا، فاسفورس، د چرګانو سره، وده او حاصل.

* Email: mohammadjanarian@gmail.com

# Effects of phosphorus and poultry manures on growth and yield of common bean (*Phaseolus vulgaris* L.) beans under climatic conditions of Maidan Wardak province

Mohammad Jan Arian *1 Zahedullah Zahed 2 Ahmad Sha Ahmadzai
1.Agronomy Department, Agriculture Faculty, Wardak Institute of Higher Education, Maidan Wardak, Afghanistan
2.Horticulture Department, Agriculture Faculty, Wardak Institute of Higher Education, Maidan Wardak, Afghanistan

## Abstract

This scientific research was conducted in the research farm of the Agricultural Faculty of Wardak Institute of Higher Education In the summer seasn of 2023 to study the effect of different levels of phosphorus and poultry fertilizer on the growth and yield of beans under the climatic conditions of Maidan Wardak province. The research was conducted in RCBD with three (3) replications and six (6) treatments (Control, 3 Ton Poultry Manure/ha, 4 Ton Poultry Manure/ha, 3 Ton Poultry Manure/ha +70 kg $P_2O_5$/ha, 4 Ton Poultry Manure+70 Kg $P_2O_5$/ha+70 Kg $P_2O_5$/ha). The distance between rows of plants per plot was 40 cm ،the distance between plants (20 cm) and the number of rows of plants (4) and the number of plants (60). Experimental plant training ،irrigation and control of plants were regularly held at their own times. The data gathered from the growth and yield parameters of bean plants was analogized with the help of STAR software ،which significantly affected the growth and yield of bean plants of different sizes of phosphorus and poultry. Highest plant height (40.41cm)، Maximum number of plant branches (16.58)، highest number of plant leaves (120.00)، maximum leaf area of plant (56.79 $cm^2$) ،maximum number of Pods in plants (19.49) ، maximum number of seeds per plant (4.43) ،maximum weight of 100 seed (43.67 g) and maximum yield (3767.65 kg/ha) was observed in T5.

**Keywords**: Common bean, Phosphorus, Poultry manure, growth and yield

**سريزه**

د (Phasseolus) جنس شاوخوا ۸۰ ډوله کرل کېدونکې نوعې لري، مگر عامه لوبيا (vulgaris Phaseolus L.) په پراخه کچه په نړۍ کې کرل کيږي (Proch, et al., 2013). دې لوبيا ته نور مترادف نومونه هم کارول کيږي لکه: Dry bean, French bean and Green bean (Petry, N., et al., 2015, Camara, C. et al., 2013, Swegarden, H. R., et al., 2016).

لوبيا يو کلن او په خپله گرده القاح کېدونکی نبات دی چې د فباسيې په کورنۍ (Fabaceae Family) پورې اړه لري (Hordofa, G.D, 2018) او (Swegarden et al., 2016). دغه نبات کابو ۷۰۰۰ کاله مخکې په منځنۍ امريکا کې اهلي شوی او کرل شوی دی (Hordofa, G.D, 2018). د لوبيا دانه په ۱۵۳۳ م کال کې د مکسيکو په هېواد کې پيدا او د (اياکوک) په نوم ونومول شوه، وروسته اروپا ته او بيا د نړۍ ټولو برخو ته ورسېده، لوبيا په خپل ترکېب کې ۲۲ سلنه پروټين لري او ٦٢ سلنه د کاربوهايدرت په نامه نشايستوي قند لري، پر دې سربېره ۲ سلنه کلسيم هم له ځانه سره لري. ساينس پوهان وايي د ډېرو پروټينونو درلودلو له امله دا يوه ډېره قوي غذا ده او د بېوزله کورنيو لپاره د غوښې ځای نيسي، په تازه لوبيا کې گڼ شمېر ويټامينونه شتون لري چې د هغو له ډلې ويټامين بی، سي او ډي د يادولو وړ دي، لوبيا د روماتيزم، د وينې لوړ فشار او نورو ناروغيو لپاره مفيد خوراک دی (Allen D.J *et al*.1997). لوبيا چې تازه بازار ته وړاندې کېږي، نو يوه بهترينه سبزي شمېرل کېږي. په ۱۹۷۷ م کال کې د کښت د ساحی له نظره د پنځم او د غذائي ارزښت په اساس د اووم نبات په توگه د سبزيو په ډله کې دوه ويشتمه عمده نوعه تعين شوه (Anonymous 2013). په پر مختيايي هېوادونو کې عامه لوبيا د زياتېدونکي نفوس لپاره يو مهم او غذايي نبات دی او د پروټينو يوه غوره او ارزانه سرچينه بلل کيږي (Tagoe *et al*., 2010). د حيواناتو لپاره ور څخه بېده(هغه علوفه چې په تازه شکل وربېل شي او د حيواناتو د تغذيې لپاره وچه شي) لاسته راځي (Sarhadi *et al*., 2015). د لوبيا نبات يوه گټه دا ده چې د نباتاتو د تغذيې لپاره د غذايي عناصرو يوه ښه سرچينه بلل کيږي (Bello *et al*.,2018) او (Tatana *et al*.,2019). دا نبات د نړۍ په سطحه په ټولو سيمو کې د کرلو وړ دی چې نړيوال توليد يې ۲۵ ميليون متريک ټنه او په يوه هکتار کې يې حاصل ۷۹۲ کيلوگرامه ته رسېږي. په نړيواله سطحه د وچې لوبيا پنځه عمده توليدوونکي هېوادونه د ميانمار، چين، امريکا متحده ايالات، ارجنټاين او کاناډا څخه عبارت دي، افغانستان هم د لوبيا توليدات لري چې په کال کې ۲۰،۲۵ زره متريک ټنه وچه لوبيا توليدوي (FASOTAT, 2013). تر ۲۰۵۰ کال پورې، د غله ييزو غذاگانو د توليد زياتوالی به وکولای شي چې د نړۍ زياتېدونکي ۹،۸ بيليون نفوس ته غذا برابره کړي (Nagosong *et al*, 2020). عامه لوبيا د نورو نباتاتو په څېر د خارجي او داخلي فکتورونو په واسطه متأثره کيږي لکه د خاورې حاصلخيزي، د خاورې تخريب، د سرو کموالی، د خاورې خصوصيات، آبياري، د هرزه بوټو او آفاتو کنټرول، جنيټيکي خصوصيات او داسې نور چې د لوبيا نبات د حاصل د کموالي باعث گرځي (Mahmood *et al*, 2017) او (Rurangwa *et al*., 2020). د خاورې د حاصلخېزۍ او تغذيې د مديريت لپاره د سرو کارولو نوو استراتيژيو

ته اړتيا ليدل کيږي (Aslani and Souri, 2018). د عامې لوبيا د حاصل د اصلاح او زياتوالي لپاره مختلفې توافقي مديريتي عمليې وجود لري، د عضوي او غير عضوي سرو په يو ځای استعمال سره په خاوره کې د عضوي موادو د زياتوالي سبب ګرځي، د خاورې سترکچر اصلاح کوي، د خاورې د اوبو د ساتلو توان زياتوي، د عناصرو دوران اصلاح کوي اوپه خاوره کې د مايکرو ارګانيزمونو له فعاليتونو سره مرسته کوي (Saha *et al*, 2008). د ښه نباتي توليد د تر لاسه کولو لپاره دا مهمه ده چې عضوي سرې استعمال شي، مګر د زيات وخت لپاره د غير عضوي سرو استعمال د خاورو خصوصياتو او د نبات د حاصل د کمېدو لامل کيږي (Hepperly *et al.*, 2009). د نباتي فارمونو د انرژۍ د پوره کولو او د نباتاتو د تغذيې د قيمتونو د کمولو لپاره يوه حياتي او اصلاحي لاره داده چې عضوي سرې په مناسبه اندازه استعمال شي (Ramesh *et al.*, 2009). عضوي سرې کولای شي چې د خاورې فاسفورس د نبات د ودې لپاره د استفادې وړ وګرځوي (Wolkowski, 2003). بنا پر دې د چرګانو سره د نباتاتو د ودې د اصلاح او غوره والي لپاره د فاسفورس او نورو غذايي عناصرو يو غلظت يا مجموعه ده (Boateng *et al.*, 2006). د چرګانو پاتي شونې کولای شي چې د چاپيريال د ککړتيا او روغتيايي ستونزو د رامنځته کېدو سبب شي. څرنګه چې ياد مواد په زياته اندازه په خپل ترکيب کې زيات مصرفه او کم مصرفه عناصر لري، نو له همدې امله بايد د سرې په توګه نباتاتو ته وکارول شي (Tajeo *et al.*, 2008). د چرګانو سره د زيات مصرفه او کم مصرفه عناصرو په ځانګړي توګه د نايتروجن، فاسفورس، پوتاشيم او سلفر يوه مهمه سرچينه ګڼل کيږي (Boyhan et al., 2010). د چرګانو سرو په کارولو سره د خاورې فزيکي ځانګړتياوې پراختيا مومي. د چرګانو سرو ته بزګران په اسانه توګه لاسرسی درلودلی شي. همدارنګه د خاورې د حاصلخېزۍ په زياتولو سره د غذايي موادو د ضايعاتو خطر کموي (Srivastava et al., 2012) او (Yohanne et al., 2013). د چرګانو سرې د عضوي سرې په توګه کارول کيږي په ځانګړي توګه د هغو خاورو لپاره چې د نايتروجن د کموالي سره مخامخ وي، ياده سره د نورو حيواني سرو په پرتله تر ټولو زياته اندازه نايتروجن، فاسفورس او پوتاشيم لري ( Deksissa et al., 2008). د مايکرو ارګانيزمونه په خاوره کې د شته عضوي موادو ماليکولونه تجزيه کوي او د فاسفېټ انرژۍ په واسطه غير عضوي فاسفورس د نبات د استفادې لپاره آماده کوي چې په دې توګه په خاوره کې د نبات د ښې ودې لپاره فاسفورس د استفادې وړ ګرځوي (Browne et al., 2009). فاسفورس د نبات د ودې لپاره لومړنی ضروري عنصر دی چې تقريباً ۰,۲٪ د نبات وچ وزن جوړوي (Dorahy *et al.*,2004). فاسفورس د نبات د ودې اساس ګڼل کيږي او په هره ژوندۍ نباتي حجره کې موندل کيږي. د نبات د پېچلو دندو په سرته رسولو کې يو کليدي رول لري لکه د انرژۍ انتقال، پوتوسنتيزس، د قندونو او نشايستې انتقال (Achal *et al.*, 2006. فاسفورس د نبات يو لومړنی ضروري عنصر دی چې د تخم د تيغوهنې څخه تر فزيالوژيکي پوخوالي پورې يو ډيناميکي رول لري لکه د ريښو انکشاف، د ګل او تخم تشکيل، د ساقې استحکام، په ليګيومي نباتاتو کې د نايتروجن نصب او د امراضو په مقابل کې د نبات د مقاومت زياتوالی ( Hao *et al.*, 2002) او (Gyaneshwar *et al.*, 2002). د فاسفورس کموالی يو عمده غير ژوندی فشار دی چې د نبات

وده او توليدي قدرت تر خپلې اغېزې لاندې راولي (Ranghothama *et al.,* 2005). بايد يادونه وکړو چې نباتات د خپلې ودې په لمړنيو مرحلو کې ډېر فاسفورس د خاورې څخه اخلي نو بايد نبات د اړتيا د پوره کولو په موخه مخکې له کښت څخه په خاوره کې علاوه شي (Allias *et al.,* 2003).

د افغانستان په ټولو سيمو خصوصاً د ميدان وردګ ولايت اقليمي شرايط د لوبيا د ښې ودې لپاره ښه مساعد دي او له بله اړخه ياد نبات په لوړه کچه پروټين په خپل ترکيب کې لري مګر بزګران د ياد نبات څخه د ښو او زياتو توليداتو د لاسته راوړلو په موخه په ډېره او نامناسبه اندازه فاسفورس او عضوي سرې استعمالوي چې په آخر کې لاسته راغلي حاصلات د دوی مصارف نه شي پوره کولی اويا خو يوازې په کېمياوي سرو تمرکز کوي.

د افغانستان خاورې د فاسفورس او د نبات د نورو ضروري غذايي عناصرو د کموالي سره مخامخ دي، له بله اړخه بزګران په دې اړه پوهه نلري چې حبوباتو په خاصه توګه د عامې لوبيا کروندې ته د عضوي او غير عضوي سرو مناسبه اندازه علاوه کړې. نړيوال اوس په دې هڅه کې دي چې کرنه عضوي کړي او په دې يې ټينګار کړی چې د عضوي سرو څخه بايد په کرنه کې په زياته اندازه کارواخيستل شي، زموږ د دې څېړنې د ترسره کولو څخه موخه داده چې بزګرانو ته د فاسفورس او چرګانو سرې د استعمال مناسبې اندازې معلومې شي، له يوې خوا به د زياتو مصارفو مخه نيول شوې وي او له بله اړخه به مو د خاورې د حاصلخيزۍ د پايښت تر څنګ د عامې لوبيا زيات حاصلات لاسته راوړي وي چې په پايله کې به د کورنيو ضرورتونو پر پوره کېدو سربېره د عامې لوبيا صادرات هم ولرو چې په دې سره به د ګران هېواد د اقتصاد د پياوړتيا سبب وګرځي.

**د څېړنې ستونزې**

دا چې په ميدان وردګ ولايت کې د لوبيا کرنه په پراخه پيمانه وجود لري، ولې متأسفانه تر اوسه بزګران د ياد نبات کروندې ته د عضوي او غير عضوي سرو د علاوه کېدونکې اندازې څخه خبراوی نه لري.
بزګران يوازې د کيمياوي سرو په استعمال باندې تمرکز کوي چې دا کړنه د زياتو مصارفو تر څنګ په چاپېريال کې د ګڼو ستونزو د رامنځته کېدو باعث ګيږي.

**د څېړنې ارزښت**

د فاسفورس او چرګانو سرو مناسبو اندازو استعمال د لوبيا د ښې ودې او لوړ حاصل لپاره لومړنی اهميت ګرځېدلی، چې د لوبيا پر ودې او حاصل باندې خورا اغېزمن رول لري، د لوبيا په کرونده کې د يادو سرو د نامناسبو اندازو استعمال د نبات د کمزورې ودې له امله په نباتاتو کې د فزيولوژيکي او بيوشيميکي بدلونونو سبب ګرځي، کوم چې د لوبيا وده او انکشاف اغېزمن کوي او دا ډول بدلونونه کېدای شي په حاصلاتو کې سخت کمښت رامنځته کړي.

دا چې د لوبيا نبات وده او حاصل خورا ډېر مهم دی مګر د لوبيا د نبات لپاره کروندګرو ته د فاسفورس، نايتروجن او چرګانو سرو د مناسبو اندازو استعمال نه دی معلوم، ښايي همدا بې ځايه، بې ګټې طريقه او د

زياتو عضوي او غير عضوي سرو د استعمال له امله وي، د دې څېړنې په تر سره کېدو سره به د ياد ولايت او هغو ته ورته اقليمي شرايطو لاندې د لوبيا د ښې ودې او لوړ حاصل د لاسته راوړلو لپاره د فاسفورس او چرګانو سرو مناسبه اندازه ومونډل شي او پايله به يې د استادانو، څېړونکو، کروندګرو، محصلينو او د مسلک مينوالو ته معرفي شي، تر څو کروندګر يې د لوبيا د لوړو حاصلاتو د لاسته راوړلو په موخه په ساحه کې عملي کړي چې له يوې خوا به د کروندګرو اقتصادي وضعيت ښه او له بله اړخه به ملي اقتصاد هم وده وکړي.

**د څېړنې موخه**

۱- د لوبيا د ښې ودې د تر لاسه کولو لپاره د فاسفورس او چرګانو سرې د مناسبې اندازې معلومول.

۲- د لوبيا د لوړحاصل د تر لاسه کولو لپاره د فاسفورس او چرګانو سرې د مناسبې اندازې معلومول

**د څېړنې توکي او کړنلاره**

دا علمي څېړنه د ۱۴۰۲ هـ. ل کال د اوړي په موسم کې وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د کرنې پوهنځي په څېړنيز فارم کې چې د بحر له سطحې څخه ۲۲۱۰ متره ارتفاع، د شمالي عرض البلد په ۳۴ درجو، ۱۰ دقيقو او ۳۹ ثانيو او د ختيځ طول البلد په ۶۸ درجو، ۴۷ دقيقو او ۳۹ ثانيو کې موقعيت لري، د «ميدان وردګ ولايت تر اقليمي شرايطو لاندې د لوبيا په وده او حاصل باندې د فاسفورس او چرګانو سرې د بېلابېلو اندازو د استعمال اغېزو» تر عنوان لاندې تر سره شوه، د دې څېړنيزې ساحې پي ايچ ۸،۳، د خاورې تکسچر د سطحې څخه تر ۲۵ سانتي مترو ژوروالي پورې ريګي لوم (Sandy loam) او د عضوي موادو اندازه يې (۱:۰۰) وه.

**تجربوي طرحه، ترېټمنټونه او نباتي مواد**

دا علمي څېړنه د درېو بلاکونو او شپږو (۶) ترېټمنټونو په درلودلو سره په بشپړ تصادفي بلاک ډيزاين (RCBD) کې ترسره شوې ده او د دې څېړنې لپاره د لوبيا (Phaseolus vulgaris L.) د (Reed woliata) په نامه ورايټي د کابل د بادام باغ د څېړنيز انسټيټوټ څخه راوړل شوه او تر څېړنې لاندې ونيول شوه، د يادې څېړنې ترېټمنټونه په (۱- جدول) کې تشريح شوي دي:

(۱- جدول): د څېړنې د ترېټمنټونو تشريح

| شماره | ترېټمنټونه | تشريح |
|---|---|---|
| ۱ | $T_1$ | Control |
| ۲ | $T_2$ | 3 Ton Poultry Manure/ha |
| ۳ | $T_3$ | 4 Ton Poultry Manure/ha |
| ۴ | $T_4$ | 3 Ton Poultry Manure/ha+70Kg $P_2o_5$/ha |
| ۵ | $T_5$ | 4 Ton Poultry Manure +70Kg $P_2O_5$/ha |
| ۶ | $T_6$ | 70Kg $P_2O_5$/ha |

**د لوبيا د تخمونو کرنه او د ډېټا را ټولول**

د څېړنيزې ساحې څمکه لومړی له ۲۰ تر ۲۵ سانتي مترو په ژوروالي سره قلبه او فاسفورس او د چرگانو سره د لوبيا د تخمونو د کرلو څخه مخکې له خاورې سره د تجزيه کېدو په موخه گډل شول، د پلاټونو مساحت (۳x۲) متر مربع او د بلاکونو تر منځ يو (۱) متر فاصله په نظر کې ونيول شوه. د لوبيا تخمونه په هر پلاټ کې په جويو باندې په څلورو قطارونو کې د ۲۰ سانتي مترو په فاصلې سره چې د يادو قطارونو تر منځ ۴۰ سانتي متره فاصله په نظر کې نيول شوې وه، وکرل شول. نورې کرنيزې عمليې لکه د هرزه بوټو کنټرول، آبياري او نورې اړينې چارې د لوبيا د ودې په جريان کې په خپل ټاکل شوي وخت سره ترسره شول. د نبات د ودې او حاصل پارامترونو ( د نبات ارتفاع، د نبات د ښاخونو شمېر، د نبات د پاڼو شمېر، د نبات د پاڼې سطحه، په نبات کې د پليو شمېر، د سلو دانو وزن او د دانې حاصل) په اړه ډيټا په خپلو وختونو کې راټوله شوه.

**د ډيټا انلايز کول**

د لوبيا نبات د ودې او حاصل پارامترونو راټوله شوې ډيټا د (STAR) سافټوير په مرسته انلايز شوه تر څو د اشتباحاتو د پنځه سلنه په احتمال (P<0.05) سره د ترېټمنټونو تر منځ د ملاحظې وړ توپيرونه څرگند شي.

**د څېړنې موندنې**

**د لوبيا د ودې پارامترونه:**

**د نبات لوړوالی (په سانتي متر)، د نبات د ښاخونو شمېر او د پاڼو شمېر باندې د فاسفورس او چرگانو د سرې اغېزې**

د فاسفورس او د چرگانو سرې بېلابېلو اندازو د لوبيا نبات په لوړوالی (سانتی متر)، د ښاخونو په شمېر باندې اغېزې درلودې، چې د يادو سرو د ترېټمنټونو څخه په T5 ترېټمنټ کې د نبات تر ټولو زيات لوړ والی، په نبات کې د ښاخونو تر ټولو ډېر شمېر په ترتيب سره ۴۰،۴۱ او ۱۲ ثبت شوی او د يادو پارامترونو تر ټولو کمې اندازې ۲۵،۴۵ او ۶،۱۲ په کنټرول ترېټمنټ (T1) کې لاسته راغلې دي (۲-جدول).

(۲- جدول): د نبات لوړوالی (په سانتي متر)، د نبات د ښاخونو شمېر او د پاڼو په شمېر باندې د فاسفورس او چرگانو سرې اغېزې

| ترېټمنټونه | اوسط | |
|---|---|---|
| | د نبات لوړوالی (سانتي متر) | د نبات د ښاخونو شمېر |
| Control | 25.45c | 6.12c |
| 3 Ton Poultry Manure/ha | 27.91bc | 7.29bc |
| 4 Ton Poultry Manure/ha | 29.46bc | 8.12bc |
| 3 Ton Poultry Manure/ha+70Kg $P_2O_5$/ha | 30.79bc | 8.62bc |
| 4 Ton Poultry Manure +70Kg $P_2O_5$/ha | 40.41a | 12.00a |
| 70Kg $P_2O_5$/ha | 33.14b | 9.62ab |
| **LSD (0.05)** | **1.21** | **2.59** |

Any two means not sharing same letters differ significantly($p\leq0.05$)

**د نبات د پاڼو په شمېر او سطحه (په سانتي متر مربع) باندې د فاسفورس او چرگانو د سرې اغېزې**

د فاسفورس او چرگانو سرې بېلابېلو اندازو د لوبيا نبات د پاڼو په شمېر او د پاڼو په سطحه باندې د پام وړ اغېزې درلودې، کوم چې د يادو سرو د ترېټمنټونو څخه په T5 ترېټمنټ کې په نبات کې د پاڼو تر ټولو زيات شمېر او د پاڼو تر ټولو زياته سطحه په ترتيب سره ۱۶.۵۸ او ۵۶،۸۹ او همدارنگه د يادو پارامترونو تر ټولو ټيټې اندازې په کنټرول ترېټمنټ کې ۱۱،۷۵ او ۴۵،۵۵ لاسته راغلې دي (۳- جدول).

(۳- جدول): د نبات د پاڼو په شمېر او د پاڼو په سطحه (په سانتي متر مربع) باندې د فاسفورس او چرگانو سرې اغېزې

| ترېټمنټونه | اوسط | |
|---|---|---|
| | د پاڼو شمېر | د پاڼې سطحه (سانتي متر مربع) |
| Control | 11.75e | 45.55d |
| 3 Ton Poultry Manure/ha | 12.08de | 49.49cd |
| 4 Ton Poultry Manure/ha | 13.21cd | 51.98bc |
| 3 Ton Poultry Manure/ha+70Kg $P_2o_5$/ha | 13.60bc | 53.94ab |
| 4 Ton Poultry Manure +70Kg $P_2O_5$/ha | 16.58a | 56.89a |
| 70Kg $P_2O_5$/ha | 14.79b | 55.20ab |
| **LSD (0.05)** | **2.59** | **4.23** |

Any two means not sharing same letters differ significantly($p \leq 0.05$)

## د لوبيا د حاصل پارامترونه:

**په نبات کې د پليو شمېر او په پلي کې د دانو په شمېر باندې د فاسفورس او چرگانو سرې اغېزې**

د فاسفورس او چرگانو سرې بېلابېلو اندازو د لوبيا نبات د پليو په شمېر او په پلي کې د دانو په شمېر باندې اغېزې درلودې کوم چې د يادو سرو د ترېټمنټونو څخه په T5 ترېټمنټ کې په نبات کې تر ټولو زيات شمېر پلي او په پلي کې تر ټولو زيات شمېر دانې په ترتيب سره ۱۶،۶۳ او ۴،۱۷ او د يادو پارامترونو تر ټولو کمې اندازې ۱۱،۲۱ او ۳،۴ په کنټرول ترېټمنټ T1 کې لاسته راغلل. (۴- جدول).

(۴- جدول): په نبات کې د پليو شمېر او په پلي کې د دانو په شمېر باندې د فاسفورس او چرگانو سرې اغېزې

| ترېټمنټونه | اوسط | |
|---|---|---|
| | په نبات کې د پليو شمېر | په پلي کې د دانو شمېر |
| Control | 11.21e | 3.40e |
| 3 Ton Poultry Manure/ha | 12.75d | 3.83d |
| 4 Ton Poultry Manure/ha | 14.33c | 3.93cd |
| 3 Ton Poultry Manure/ha+70Kg $P_2o_5$/ha | 15.04c | 4.07bc |
| 4 Ton Poultry Manure +70Kg $P_2O_5$/ha | 19.49a | 4.43a |
| 70Kg $P_2O_5$/ha | 16.63b | 4.17b |
| **LSD (0.05)** | **1.48** | **0.21** |

Any two means not sharing same letters differ significantly ($p \leq 0.05$)

**د ۱۰۰ دانو په وزن (ګرام) او په هکتار کې د دانو په حاصل (کیلوګرام) باندې د فاسفورس او چرګانو سرو د بېلابیلو اندازو اغېزې**

د فاسفورس او چرګانو سرې بېلابېلو اندازو د لوبیا نبات د سلو دانو په وزن او په هکتار کې د دانې په حاصل باندې ښې اغېزې وکړې، کوم چې د یادو سرو د ترېتمنټونو څخه په T5 ترېتمنټ کې د سلو دانو تر ټولو زیات وزن او په هکتار کې د دانې تر ټولو زیان حاصل په ترتیب سره ۴۳,٦٧ ګرامه او ۳۷٦۷,٦۵ کیلوګرامه او د یادو پارامترونو تر ټولو کمې اندازې ۳۲,٦٧ ګرامه او ۱۲۴۸,۱۱ کیلوګرامه په کنټرول ترېتمنټ (T1) کې لاسته راغلل (۵- جدول).

(۵- جدول): د ۱۰۰ دانو په وزن (ګرام) او په هکتار کې د دانو په حاصل (کیلوګرام) باندې د فاسفورس او چرګانو سرو د بېلابیلو اندازو اغېزې

| ترېتمنټونه | اوسط | |
|---|---|---|
| | د ۱۰۰ دانو وزن (ګرام) | د دانو حاصل (هکتار/کیلوګرام) |
| Control | 32.67c | 1248.11e |
| 3 Ton Poultry Manure/ha | 35.00bc | 1705.99d |
| 4 Ton Poultry Manure/ha | 36.67b | 2068.24c |
| 3 Ton Poultry Manure/ha+70Kg $P_2o_5$/ha | 38.00b | 2323.94c |
| 4 Ton Poultry Manure +70Kg $P_2O_5$/ha | 43.67a | 3767.65a |
| 70Kg $P_2O_5$/ha | 38.00b | 2644.90b |
| LSD (0.05) | ۳,۱۳ | **298.59** |

Any two means not sharing same letters differ significantly($p \leq 0.05$)

**مناقشه**

**د ودې پارامترونه**

**د نبات پر لوړوالي (سانتي متر) او د ښاخونو شمېر**

د احصائیوي تحلیل او تجزیې څخه څرګنده شوه چې فاسفورس او چرګانو سرو د بېلابېلو اندازو استعمال د لوبیا د نبات پر لوړوالي او د ښاخونو په شمېر باندې د پام وړ اغېزه کړې ده چې د تجربوي ترېتمنټونو څخه په T5 ترېتمنټ کې تر ټولو لوړ نباتات ۴۰,۴۱ سانتي متره او په نبات کې تر ټولو زیات شمېر ښاخونه ۱٦,۵۸ همدارنګه تر ټولو ټیټ قد لرونکي نباتات ۲۵,۴۵ سانتي متره او په نبات کې تر ټولو کم شمېر ښاخونه ۱۱.۷۵ لاسته راغلل چې زموږ دا پایله د احمدیار او محمد جان (Ahmad yar and Mohammadd Jan Arian, 2021) د لاسته راوړو پایلو سره پوره ورته والی لري، کوم چې دوی د لوبیا په وده او حاصل باندې د DAP او چرګانو سرې بېلابېلې اندازې استعمال کړې او په T5 ترېتمنټ کې (۸۰ کیلوګرامه ډي اې پي ور سره پنځه ټنه د چرګانو سره) یې د لوبیا نبات تر تولو زیات لوړ والی ۳۹,۱۳ سانتي متره او د ښاخونو تر ټولو زیات شمېر ۱۸,۴۲ لاسته راوړل او دا یې څرګنده کړه چې د فاسفورسي او چرګانو سرې ګډ استعمال د لوبیا د

نباتاتو د زيات لوړوالي او همدارنګه د ښاخونو د شمېر د زياتوالي لامل شوی. دا ځکه چې د چرګانو سره په خپل ترکيب کې په زياته اندازه د نبات د زيات شمېر ضروري عناصرو څخه برخمنه ده او تر هغو چې ياده سره دا عناصر د نبات د استفادې لپاره آماده کوي نبات د ډي اې پي سرې له فاسفورس څخه استفاده کوي. بايد يادونه وکړوچې بغدادي اود هغه ملګري (Baghdadi *et al.*, 2018)، سليم او ملګري (Saleem *et al.*, 2010) ، اوميت چېل او ملګري يې (Mitchell *et al.*, 2005) زموږ د څېړنې ترلاسه شوې پايلې تائيدوي.

**د لوبيا د نبات د پاڼو شمېر او د پاڼو سطحه**

د احصائيوي تحليل او تجزيې څخه څرګنده شوه چې فاسفورس او د چرګانو سرو د بېلابېلو اندازو استعمال د لوبيا نبات د پاڼو په شمېر او د پاڼو په سطحه باندې د پام وړ اغيزه کړې ده چې د تجربوي تريټمنټونو څخه په $T_5$ تريټمنټ کې په نبات کې د پاڼو تر ټولو زيات شمېر ١٦،٥٨ او د پاڼې تر ټولو زياته سطحه(٥٦،٨٩) سانتي متره مربع همدارنګه په نبات کې د پاڼو تر ټولو کم شمېر ١١،٧٥ او د پاڼو تر ټولو کمه سطحه ٤٥،٥٥ سانتي متره مربع لاسته راغله او د يادو پارامترونو په اندازو کې لاسته راغلی زياتوالی له دې وجهې رامنځته شوی چې عضوي سرې په ځانګړې توګه د چرګانو سره په خپل ترکيب کې په لوړه اندازه د نايتروجن درلودونکې ده، نايتروجن د نبات فزيالوژيکي فعاليتونه چټکوي او د دې فعاليت په پايله کې په نبات کې اعظمي وده رامنځته کيږي، همدارنګه د پاڼو په شمېر او سطحه کې زياتوالی ممکن د چرګانو د سرې هغه لوړ ظرفيت ته منسوب شي چې په خاوره کې په زياته اندازه عضوي مواد علاوه کوي او د يادو عضوي موادو په ترڅ کې نبات ته په خاوره کې د اړتيا وړ غذايي مواد اضافه او د استعمال وړ بڼه ځانته غوره کوي، په دې توګه په نبات کې د حجرو د تکثير او اوږدوالي لپاره وړ شرايط برابروي چې زموږ دا پايله د ويرش ن.ک (Veeresh N.K,2003)، شوباشيري (Shubha Shree,2007)، ايډن ټي (Eden T, 2003) او محمد ا. سيف اليزال (Mohammad A. Seif El- Yazal, 2020) د ترلاسه شوو پايلو سره پوره ورته والی لري.

**د حاصل پارامترونه**

**د لوبيا نبات د پليو شمېر او په پلي کې د دانو شمېر**

د احصائيوي تحليل او تجزيې څخه څرګنده شوه چې فاسفورس او د چرګانو سرو د بېلابېلو اندازو استعمال د لوبيا نبات د پليو په شمېر او په پلي کې د دانو په شمېر باندې د پام وړ اغېزه کړې ده چې د تجربوي تريټمنټونو څخه په $T_5$ تريټمنټ کې په نبات کې د پليو تر ټولو زيات شمېر ١٥،٠٤ او په پلي کې د دانو تر ټولو زيات شمېر ٤،٠٧ همدارنګه په نبات کې د پليو تر ټولوکم شمېر ١١،٢١ او په پلي کې تر ټولو کم شمېر ٣،٤٠ لاسته راغی چې علت يې ممکن دا وي چې د عضوي سرې بېلابېل ترکيبونه په ځانګړې توګه د چرګانو سرې د اندازو په عملي کولو سره د غذايي موادو لکه د (NPK) او نورو کم مصرفه عناصرو په تهيه او برابرولو کې خورا مهم رول ولوبوي، پر دې سربېره د نبات د ودې لپاره په خاوره کې ګټورو ميکروبونو لکه د نايتروجن نصبوونکي (Nitrogen- Fixing) باکترياوو او مايکورايزايي (Mycorhizal) فنګسونو وده

هڅوي. عضوي سرې په خاوره کې له منرالونو څخه تېرېږي او د نورو سرچينو په پرتله په کافي اندازه زيات مصرفه او کم مصرفه غذايي عناصر بېرته را ستانه کوي، کوم چې د نباتاتو د قوي ودې او د گلانو په ډېروالي کې مرسته کوي. پر دې سربېره د چرگانو سره د نبات د ودې په موده کې په دوامداره توگه د غذايي موادو شتون رامنځته کوي چې په پايله کې د نبات د پليو شمېر او په پلي کې د دانو شمېر د زياتېدو لامل کيږي چې زموږ دا پايله د احمديار او محمدجان ( Ahmad yar Ahmadi and Mohammadd Jan Arian, 2021) د لاسته راوړو پايلو سره پوره ورته والی لري کوم چې دوی د لوبيا په وده او حاصل باندې د (DAP) او چرگانو سرې بېلابېلې اندازې استعمال کړې او په $T_5$ ترېتمنټ کې (۸۰ کيلوگرامه ډي اې پي ور سره پنځه ټنه د چرگانو سره) يې په هر نبات کې د پلي، تر ټولو زيات شمېر ۲۰،۱۲ او په پلي کې د دانو تر ټولو زيات شمېر ۵،۱۲ لاسته راوړي وو. همدارنگه ظفر او ملگري يې (Zafar et al., 2011)، مامان او ملگري يې (Maman et al.,2013)، ټيمسينا (Timsina,2018) زموږ پايلو ته ورته پايلې لاسته راوړې دي.

**د لوبيا د ۱۰۰ دانو وزن (په گرام) او په هکتار کې د دانې حاصل (په کيلو گرام)**

د احصائيوي تحليل او تجزيې څخه څرگنده شوه چې فاسفورس او د چرگانو سرې د بېلابېلو اندازو استعمال د لوبيا د ۱۰۰ دانو وزن (په گرام) او په هکتار کې د دانې حاصل ( په کيلو گرام) باندې د پام وړ اغېزه کړې ده چې د تجربوي ترېتمنټونو څخه په $T_5$ ترېتمنټ کې په نبات کې د لوبيا د ۱۰۰ دانو تر ټولو زيات وزن ۴۳،۶۷ او په هکتار کې د دانې تر ټولو زيات حاصل ۳۷۶۷،۶۵ کيلوگرامه همدارنگه د لوبيا د ۱۰۰ دانو تر ټولوکم وزن ۳۲،۶۷ او په هکتار کې تر ټولو کم د دانې حاصل ۱۲۴۸،۱۱ لاسته راغی. د لوبيا د حاصل د پراختيا په پام کې نيولو سره د چرگانو د سرې کارول ممکن خاورې ته اجازه ورکړي ترڅو په خپل ترکيب کې په زياته اندازه اوبه وساتي او د عضوي تيزابونوپه ښه والي کې ونډه ولري چې په پايله کې د غذايي موادو په منحلولو کې مرسته وکړي او بيا وروسته د نبات د استعمال لپاره چمتو شي. له بله اړخه ممکن د نبات د ښې تغذيې له امله د کاربوهايدريت (Carbohidrate) توليد زيات شي او په نبات کې د دانو په حاصل کې د زياتوالي سبب شي. د چرگانو او فاسفورسي سرې د استعمال په پايلو کې د لوبيا زياته وده کېدای شي په لوړه کچه د ضيايي ترکيب له امله چې د دوهمي او کم مصرفه عناصرو د زياتېدو په پايله کې رامنځته کيږي او غذايي مواد هم بوټي ته په متوازنه توگه رسيږي، ممکن همدغه لاملونه د مېوو په حاصل کې ډېروالی راولي ،همدارنگه د چرگانو او فاسفورسي سرو د بېلابېلو اندازو کارول د خاورې د ښه چاپېريال په رامنځته کولو کې مرسته کوي، د دې ښه چاپېريال په رامنځته کولو سره د نبات مناسبه وده آسانه کيږي چې په پايله کې په هکتار کې لوړ حاصل توليديږي. همدارنګه په هر پټي کې د حاصل زيات توليد د چرگانو او فاسفورس لرونکو سرو په کارولو سره ممکن د مايکروارگانيزمونو په واسطه د زيات مقدار غذايي موادو توليد د دې لامل شي چې په کافي اندازه غذايي مواد برابر کړي او د خاورې کيمياوي، فزيکي او بيولوژيکي شرايط د نبات د فزيالوژيکي فعاليت لپاره مناسب کړي، تر څو نبات په ښه توگه وده وکړي او په پايله کې زيات حاصل لاسته راشي چې زموږ دا پايله د احمديار او محمدجان ( Ahmad yar and

(Mohammadd Jan Arian, 2021) د لاسته راوړو پايلو سره پوره ورته والی لري کوم چې دوی د لوبيا په وده او حاصل باندې د (DAP) او چرگانو سرې بېلابېلې اندازې استعمال کړې او په T5 ترېتمنټ کې (۸۰ کيلوگرامه ډي اې پي ور سره پنځه ټنه د چرگانو سره) يې د لوبيا د ۱۰۰ دانو تر ټولو زيات وزن (۶۰،۰۰ گرامه او په هکتار کې د دانو تر ټولو زيات حاصل (۲۲۷۲،۳۳) کيلوگرامه لاسته راوړل. همدارنگه دوراهي (Dorahy etal.,2004) د څېړنې پايلې زموږ پايلو ته ورته دي.

**پايله**

وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې د کرنې پوهنځي په څېړنيز فارم کې د لوبيا په وده او حاصل باندې د فاسفورس او چرگانو سرې د بېلابېلو اندازو اغېزې د بشپړ تصادفي بلاک ډيزاين (RCBD) په بڼه وڅېړل شوې، چې درې (۳) تکراره او شپږ (۶) تجربوي ترېتمنټونه يې درلودل. د يادې څېړنې څخه لاسته راغلې پايلې فاينل شوې او د اړوند لاسته راوړنو څخه په لاندې ډول يادونه کوو.

- ✓ د پورته نتايجو څخه داسې څرگنديږي چې د (4Ton Poultry Manure+70Kg $P_2O_5$/ha) استعمال د لوبيا نبات د لوړوالي، د ښاخونو شمېر، د پاڼو شمېر، د پاڼې سطحه، د نبات د پليو شمېر او په پلي کې د دانو شمېر د کنټرول او نورو ترېتمنټونو په پرتله پهڅرگند ډول زياتوي.
- ✓ همدارنگه دا څرگنده شوه چې (4Ton Poultry Manure+70Kg $P_2O_5$/ha) استعمال د لوبيا نبات د ۱۰۰ دانو وزن او په هکتار کې د دانو د زيات حاصل د لاسته راوړلو سبب شو.

د پورته ذکرشوې تجربوي ساحې په نږدې او د ورته شرايطو لرونکو سيمو کې د (4Ton Poultry Manure+70Kg $P_2O_5$/ha) استعمال د لوبيا د زيات حاصل د لاسته راوړو لپاره توصيه کيږی.

**اخځليکونه**

Porch, T. G., et al., Use of wild relatives and closely related species to adapt common bean to climate change. Agronomy, 2013. 3(2): p. 433-461. http://dx.doi.org/10.3390/agronomy3020433.

Petry, N., et al., The potential of the common bean (Phaseolus vulgaris) as a vehicle for iron bio fortification. Nutrients, 2015. 7 (2): p. 1144-1173. http://doi.org/10.3390/nu7021144.

Câmara, C. RS., C. A. Urrea, and V. Schlegel, Pinto beans (Phaseolus vulgaris L.) as a functional food: implications on human health. Agriculture, 2013. 3 (1): p. 90-111. http://doi. org/10.3390/agriculture3010090.

Swegarden, H. R., C. C. Sheaffer, and T. E. Michaels, Yield stability of heirloom dry bean (Phaseolus vulgaris L.) cultivars in Midwest organic production." Hort Science, 2016. 51(1): p. 8 14. https://doi.org/10.21273/HORTSCI.51.1.8.

Hordofa, G.D., Effect of Lime and Compost Application on the Growth and Yield of Common bean (Phaseolus vulgaris L.). International Journal of Nutrition Science & Food Technology, 2018. (4): p. 7-54. DOI:10.33552/aomb.2018.01.000512.

Rahman, I. Ur., et al., Growth and yield of Phaseolus vulgaris as influenced by different nutrients treatment in Mansehra. 2014. https://www.researchgate.net/publication/272789365.

Tagoe, S. O., T. Horiuchi, and T. Matsui, Effects of carbonized chicken manure on the growth, nodulation, yield, nitrogen and phosphorus contents of four grain legumes. Journal of Plant Nutrition, 2010. 33(5): p. 684-700. DOI: 10.1080/01904160903575915.

Sarhadi, W. A., et al., Assessment of Adaptation and Cultivation Methods of Three Local Varieties of Bean in Kabul Climatic Conditions. International Journal of Science and Research, 2015. DOI: 10.21275/ART20171554.

Bello, S. K., A. A. Yusuf, and M. Cargele, Performance of cowpea as influenced by native strain of rhizobia, lime and phosphorus in Samaru, Nigeria. Symbiosis, 2018. 75 (3): p.167-176. Doi: 10.1007/s13199-017-0528-x.

Tatanah, L., et al., Short-term benefıts of graın legume fallow systems on soil fertility and farmers 'livelihood in the humid forest zone of Cameroon). International Journal, 2019 .6 (4): p. 213-223. doi: 10.18488/journal.70.2019.64.213.223.

FASOSTAT (Food and Agricultural Organization of the United Nations). 2013. http://faostat2.org/home/index/html. Accessed on May 18, 2013.

FASOSTAT (Food and Agricultural Organization of the United Nations) 2019. http://www.fao.org/faostat/en/#data/TCL/visualize.

Ngosong, C., et al., Effect of poultry manure and inorganic fertilizer on earthworms and soil fertility: implication on root nodulation and yield of climbing bean (Phaseolus vulgaris)." Fundamental and Applied Agriculture, 2020. 5(1): p. 88-98. Doi: 10.5455/faa.76612.

Mahmood, F., et al., Effects of organic and inorganic manures on maize and their residual impact on soil physic-chemical properties. Journal of Soil Science and Plant Nutrition, 2017. 17(1): p. 22-32. Rurangwa, E., V. Bernard and KE. Giller, The response of climbing bean to fertilizer and organic manure in the Northern Province of Rwanda. Experimental Agriculture, 2020. (56): p. 722- 737. doi:10.1017/S0014479720000277

Aslani, M., and M. K. Souri, Growth and quality of green bean (Phaseolus vulgaris L.) under foliar application of organic – chelate fertilizers, Open Agriculture, 2018. (3): p. 146 – 154. https://doi.org/10.1515/opag-2018-0015

Saha, S., et al., Organic amendments affect biochemical properties of a sub temperate soil of the Indian Himalayas. Nutrient cycling in Agro Ecosystems, 2008. 80 (3): p. 233-242. 448 18. 19. 20. 21. 22. 23. 24. 25. 26. 27. 28. 29. 30. 31. 32. 33. 34. 35.

Hepperly, P., et al., Compost, manure and synthetic fertilizer influences crop yields, soil properties, nitrate leaching and crop nutrient content. Compost Science & Utilization, 2009. 17 (2); p. 117-126. https://doi.org/10.1080/1065657X.2009.10702410.

Ramesh, P., et al., Impact of organic-manure combinations on the productivity and soil quality in different cropping systems in central India. Journal of Plant Nutrition and Soil Science, 2009. 172 (4): p. 77-585. https://doi.org/10.1002/jpln.200700281

Wolkowski, R. P., Nitrogen management considerations for land spreading municipal solid waste compost. Journal environmental https://doi.org/10.2134/jeq2003.1844. quality, 2003. 32 (5): p. 844-1850.

Boateng, S.A., J. Zickermann, and M. Kornahrens, Poultry manure effect on growth and yield of maize. West African Journal of Applied Ecology, 2006. 9 (1). DOI: 10.4314/wajae.v9i1.45682.

Browne, P., et al., Superior inorganic phosphate solubilization is linked to phylogeny within the Pseudomonas fluorescens complex. Applied soil ecology, 2009. 43 (1): p.131-138. https://doi.org/10.1016/j.apsoil.2009.06.010.

Dorahy, C. G., I. J. Rochester, and G. J. Blair, Response of field-grown cotton (Gossypium hirsutum L.) to phosphorus fertilization on alkaline soils in eastern Australia. Soil Research, 2004. 42 (8): p. 913-920.

Achal, V., V. V. Savant, and M. Sudhakara Reddy, Phosphate solubilization by a wild type strain and UV-induced mutants of Aspergillus tubingensis. Soil Biology and Biochemistry, 2007. 39 (2): p. 695-699. https://doi.org/10.1016/j.soilbio.2006.09.003.

Gyaneshwar, P., et al., Role of soil microorganisms in improving P nutrition of plants. Plant and Soil, 2002. 245 (1): p. 83. DOI: 10.1023/A: 1020663916259.

Hao, X., et al., Chemical retardation of phosphate diffusion in an acid soil as affected by liming. Nutrient Cycling in Agro Ecosystems, 2002. 64 (3): p. 213-224.

Raghothama, K. G., and A. S. Karthikeyan, Phosphate acquisition, Plant and Soil, 2005. 274 (1): p. 37-49. Ahmadi, A. Y., & Arain, M. J. (2021). The common bean (Phaselous vulgaris L.) response to different levels of organic and inorganic fertilizers. International Journal of Life Sciences and Biotechnology, 4(3), 439-450.

El-Yazal, M. S. (2019). Impact of some organic manure with chemical fertilizers on growth and yield of broad bean (Vicia faba L.) grown in newly cultivated land. Sustainable Food Production, 9, 23-36.

Veeresh N.K., "Response of French bean (Phaseolus vulgaris L.) to fertilizer levels in Northern Transitional Zone of Karnataka" M.Sc. (Agri.) Thesis, Univ. Agric. Sci., Dharwad. 37-79. 2003.

Eden T. "Study on uptake and response of common bean (Phaseolus vulgaris L.) varieties to different levels of phosphorus application on entisol of Alemaya". MSC. Thesis. Harmaya University, Haramaya, Ethiopia. 2003.

Shubhashree K.S., "Response of Rajmash (Phaseolus Vulgaris L.) To The Levels of Nitrogen, Phosphorus and Potassium during Rabi in the Northern Transition Zone". 2007.

Baghdadi, A., et al., Impact of organic and inorganic fertilizers on the yield and quality of silage corn intercropped with soybean. Peer J, 2018. 6: e5280. DOI: 10.7717/peerj.5280

Saleem, R., Economic feasibility of integrated nutrient management for sustainable rainfed maize legume based intercropping systems. PhD diss., Pir Mehr Ali Shah Arid Agriculture University Rawalpindi, Pakistan, 2010. http://173.208.131.244:9060/xmlui/handle/123456789/2406.

Mitchell, C. C., and S. Tu, Long-term evaluation of poultry litter as a source of nitrogen for cotton and corn. Agronomy Journal, 2005. 97 (2): p. 399-407. DOI 10.2134/agronj2005.0399

Zafar, M., et al., Influence of integrated phosphorus supply and plant growth promoting rhizobacteria on growth, nodulation, yield and nutrient uptake in Phaseolus vulgaris.

African Journal of Biotechnology, 2011. 10 (74): p. 16781-16792. DOI: 10.5897/AJB11.1395.

Maman, N., and Stephen Mason, Poultry manure and inorganic fertilizer to improve pearl millet yield in Niger. African Journal of Plant Science, 2013. 7 (5): p. 162-169. DOI: 10.5897/AJPS12.010.

Timsina, J., Can organic sources of nutrients increase crop yields to meet global food demand? Agronomy, 2018. 8 (10): p. 214. https: //doi. org/10.3390/agron omy81 00214.

Dorahy, C. G., I. J. Rochester, and G. J. Blair, Response of field-grown cotton (Gossypium hirsutum L.) to phosphorus fertilization on alkaline soils in eastern Australia. Soil Research, 2004. 42 (8): p. 913-920.

Deksissa, T., Short, I. and Allen, J. (2008). Effect of soil amendment with compost on growth and water use efficiency of Amaranth. In: Proceedings of the UCOWR/NIWR annual conference: International water resources: challenges for the 21st century and water resources education, July 22-24, 2008, Durham, NC.

Tagoe, S.O., T. Horuichi and T. Matsui. 2008. Effects of carbonized and dried chicken manures on the growth, yield, and N content of soybean. Pl. Soil. 306:211–220.

Boyhan, G.E., R.J. Hicks, R.L. Torrance, C.M. Riner and C.R. Hill. 2010. Evaluation of poultry litter and organic fertilizer rate and source for production of organic short-day onions. Hort Tech. 20 (2): 304-7.

Srivastava, P.K., M. Gupta, R.K. Upadhyay, S. Sharma, N. Singh, S.K. Tewari and B. Singh 2012. Effects of combined application of vermicompost and mineral fertilizer on the growth of Allium cepa L. and soil fertility. J. Pl. Nutri. Soil Sci. 175 (1):101-7.

Yohanne, K., D. Belew and A. Debela. 2013. Effect of farmyard manure and nitrogen fertilizer rates on growth, yield and yield components of onion (Allium cepa L.) at Jimma, Southwest Ethiopia. Asian J. Plant Sci. 12 (6–8):228-34.

# د رومي بانجانو (Lycopersicon esculentum L.) په وده او حاصل باندې د مايع په شکل د نايتروجني سرې (مايع يوريا) اغېزې

۱-پوهنيار اجمل حبيبي*[۱]، ۲-پوهنيار حکمت الله حکمت[۱]، ۳-پوهنيار زاهد الله زاهد[۱]
۱ هارټيکلچر ديپارتمنت ، کرنې پوهنځی، وردگ د لوړو زده کړو مؤسسه ، ميدان وردگ، افغانستان

**لنډيز**

رومي بانجان (*Lycopersicon esculentum* L.) د نورو سبو په څېر يو له مهمو سبو څخه شمېرل کېږي، چې په خام، پاخه او پروسس شوي شکل ورڅخه گټه اخيستل کېږي. داچې رومي بانجان د انسانانو په غذايي رژيم کې حياتي رول لري او د ويټامينونو او منرالونو ښه سرچينه گڼل کېږي او د زيات خوراکي او اقتصادي ارزښت لرونکي دي، له امله يې دغه څېړنه ترسره شوې ده؛ ترڅو د مايع په شکل د نايتروجني سرې (مايع يوريا) اغېزې د رومي بانجان په وده او حاصل باندې وڅېړو او د مايع په شکل د نايتروجني سرې (مايع يوريا) مناسبه او دقيقه اندازه د ښه او لوړ توليد په موخه مالومه شي. د نايتروجني سرې (مايع يوريا) ډول ډول اندازې ($T_1$:0%، $T_2$: 0.5%، $T_3$: 1% او $T_4$: 2%) ترڅېړنې لاندې ونيول شول. د ټولو ترتمنتونو په منځ کې د نايتروجني سرې (مايع يوريا) دوه فيصده محلول ($T_4$: 2%)(Urea 43.40 گرامه پر ليترکارولو سره، په ترتيب د نبات تر ټولو زيات لوړوالی ۵۸,۸۹ سانتي متره، په نبات کې د څانگو تر ټولو زيات شمېر ۷,۵۵ دانې او په نبات کې د کلسترونو تر ټولو زيات شمېر ۲۴,۸۹ دانې، په کلسترونو کې د مېوو تر ټولو زيات شمېر ۷,۲ دانې، په نبات کې د مېوو تر ټولو زيات شمېر ۵۵,۱۸، په پلاټ کې د مېوې تر ټولو زيات حاصل ۳۳,۶۱ کيلوگرامه او په هکتار کې د مېوې تر ټولو زيات حاصل ۴۰ ټنه ترلاسه شوی دی. له پايلو څخه په ښکاره ډول څرگنده شوه، چې د ټولو ترتمنتونو په منځ کې د نايتروجني سرې (مايع يوريا) دوه فيصده محلول د نبات په وده او حاصل باندې د پام وړ اغېزې کړې دي.

**کليدي کلمې:** نايتروجن، محلول، يوريا وده او حاصل

* Email: Habibiajmal52@gmail.com

# Effects of nitrogen solution (Urea) on growth and yield of tomato

1- Ajmal Habibi[*1], 2- Zahedullah Zahed [1], 3- Hikmatullah Hikmat [1]
1.Horticulture Department, Agriculture Faculty, Wardak Institute of Higher Education, Maidan Wardak, Afghanistan

**Abstract**
Tomato (*Lycopersicon esculentum* L.) is one of the most important vegetable used in raw, cooked and processed form. Tomatoes play a vital role in the human diet and are considered a good source of vitamins and minerals. Since due to improper use of chemical fertilizers, the production of tomato has decreased significantly, in this case the study was conducted to target the appropriate and accurate amount of nitrogen urea in the form of nitrogen, especially nitrogen solution. In this study which conducted at the Research Farm of Wardak Institute of Higher Education, the different level of nitrogen (Urea) $T_1$ (0%), $T_2$ (0.5%), $T_3$ (1%) and $T_4$ (2%) were applied, among all treatment, $T_4$ (Urea 43.40 g/l) recorded maximum plant height (58.89) cm, Maximum shoots (7.55), maximum cluster (24.89) number/ plant, maximum fruits (7.2)/cluster, maximum fruit (55.18) number/plant, maximum fruit yield (33.61) kg/plot and maximum fruit yield (40) tone/ hectare. The results showed that 2% of nitrogen (urea) solution among all the treatments had a significant effect on plant growth and yield.

**Keywords:** Nitrogen, Solution, Urea, growth and yield

[*] Email: Habibiajmal52@gmail.com

## سریزه

رومي بانجان چې علمي نوم يې (*Lycopersicon esculentum L.*) دی، څو کلن بوټي لري، خو په زیاتره ځایونو کې د یوکلن بوټي په توگه ورڅخه گټه اخیستل کېږي. رومي بانجان په سولناسي کورنۍ (Solanaceae family) پورې اړه لري، چې جنس يې لیکوپیرسیکون (Lycopersicon) او عمده سپیشیز (Species) يې د اسکولنټوم (Esculentum) په نوم یادېږيي. رومي بانجان په دوو (۲) فرعي جنسونو (Sub genera) او نهو (۹) نوعوو باندې ویشل شوي دي. .

د ټیټ جینس ایولیکوپیرسیکون (Eulycopersicon) رومي بانجان سور رنگه مېوه تولیدوي چې مهم سپیشزونه يې له اسکولنټوم (Escolentum) او پمپنېلیفولیم (Pimpinellifollium) څخه عبارت دي. د ټیټ جینس ایریوپیرسیکون (Eriopersicon) رومي بانجان شین رنگه مېوه تولیدوي، چې مهم سپیشیزونه يې له چیرسماني، هېرسټوم او گلوندالسوم (Chesmani, Hirsatum او Glundalesum) څخه عبارت دي.

دنباتاتو ځینې پوهان داسې نظرونه څرگندوي، چې رومي بانجان دوه سپیشیزونه لري، چې Escolentum او Pimpinellifolium څخه عبارت دي. په بهرنیو هېوادونو کې رومي بانجان په غیرې مساعدو شرایطو کې په شنو خونو کې کرل کېږي او له هغه څخه ډېر ښه حاصل لاسته راځي. رومي بانجان هم د نورو سبزیجاتو په څېر یو له مهمو سبو څخه شمېرل کیږي، چې په نړۍ کې دوهمه درجه سبزي ده کوم چې په خام، پاخه او پروسس شوي شکل ورڅخه په زیاته اندازه گټه اخیستل کېږي. (Singh *et al.*, 2014).

رومي بانجان هم په تازه او هم په پروسس شوي شکل استفاده کېږي. همدارنگه په نړۍ کې تقریباً اتیا (۸۰) سلنه تولید شوي رومي بانجان د کیچپ، جوس، قطې، رب او سوپ په شکل استعمالېږي. ( ۲۰۱۵., Viskelis *et al*). رومي بانجان په خپل ترکیب کې په زیاته کچه اسکاربیک اسید (ویټامین C) او لایکوپین لري (Tindall۱۹۸۳ ). د انسانانو په غذایي رژیم کې د مېوو او سبو په ځانگړي ډول د رومي بانجانو په واسطه (۹۰) سلنه زیات ویټامین سي مهیا کېږي ( ۲۰۰٦., Vallejo *et al*). لایکوپین تر ټولو مهم انتي اکسیدانت دی، چې د پروستات د سرطاني ناروغیو او د زړه ناروغیو خطر کموي (Kalbani *et al*,.۲۰۱٦).

رومي بانجان د گرم موسم له سبو څخه شمېرل کېږي، چې له فعاله یخ وهنې سره حساسیت لري او هغه اقلیمي فکتورونه، چې په مېوه جوړونه ډېره اغېزه لري د تودوخې، رڼا او رطوبت څخه عبارت دي. رومي بانجان په ټولو خاورو کې کرل کېدای شي، خو هغه خاوره چې ښه زهکشي شوې وي او د ٦ څخه تر۷ پي اچ لرونکې وي ډېره په زړه پورې گټل کېږي (Singh *et al.*, 2014).

د بوټي ساقې يې گردې، نرۍ ماتېدونکې دي، گلمل پاڼې (Calyx) يې لوړې د گلپاڼو څخه لنډې دي، مگر د مېوې له پخوالي سره يې اوږدوالی زیاتېږي، د گلمل پاڼو شمېر پنځو ته رسېږي، د نارینه آلې سرونه یا شمېر يې پنځه دي او د لنډو ساقو (Filaments) د پاسه واقع وي، په ځینې ډولونو کې يې ښځینه آلې لنډې او په ځینو کې اوږدې وي، هغه رومي بانجان چې ښځینه آلې يې لنډې وي په خپله گرده د القاح کېدو قابلیت لري. د رومي بانجانو وحشي ډولونه دوه کارپلونه او په اهلي ډولونو کې د کارپلونو شمېر د ۳-۱۸

پورې رسېږي. د رومي بانجانو غوښينه مېوه د پيريکارپ (Pericorap) او لاکيولونو تر منځ لارې ( Inter loculary septa) جلاتيني غليظې مايع (Gelatinous pulp) لري. غوښين پلاسينټاګان (Plasintages) له انتقالي انساجو (Vascular tissue) او تخمونو څخه تشکيل شوي دي.

رومي بانجان په لويه پيمانه نايتروجن کاروي. د نايتروجني سرې د نبات د ودې او حاصلاتو په ځانګړتياوو لکه ټول جامد مواد، د قندي موادو په کمولو او تيزابيت باندې اغېزې لري ( Kaniszewki *et al.*, 1987; (Kooner and Randhawa, 1990; Dadomo *et al.*, 1994; Colla *et al.*, 2003. د ځينو ستونزو له امله لکه د سرو ناانډوله استعمال، دناروغيو نامناسب کنترول او داسې نورو فکتورونو له کبله د رومي بانجانو په توليد کې د پام وړ کموالی راغلی، له همدې امله مو دغه څېړنه ترسره کړه، ترڅو د نايتروجن لرونکو سرو خصوصاً د محلول په شکل د نايتروجن (يوريا) مناسبه او دقيقه اندازه د ښه او لوړ توليد په موخه مالومه شي. د دې څېړنې موخه دا وه، چې د رومي بانجانو په وده او حاصل باندې د نايتروجن سرې (يوريا) د بېلابېلو اندازو اغېزې مطالعه شي.

## د څېړنې توکي او کړنلاره

دغه علمي څېړنه په ۱۴۰۲ هـ.ش کال کې د ميدان وردګ ولايت، سيدآباد ولسوالی، دشت توپ سيمه کې، د وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي په څېړنيز فارم کې په ۸,۱۰ مترمربع ساحه کې د رومي بانجانو په وده او حاصل باندې د محلول په شکل د نايتروجن سرې د بېلابېلو اندازو د اغېزو تر سرليک لاندې ترسره شوې ده. کوم فعاليتونه او مواد چې په دغه علمي څېړنه کې په کار اچول شوي دي، په تفصيل سره په لاندې توګه وړاندې کېږي:

## د ساحې تيارول او د تخم کرل

په لومړي قدم کې د کرنې، مالدارۍ او اوبولګولو وزارت پورې اړوند د بادام باغ څېړنيز فارم څخه د رومي بانجانو د (Avto 131 CLN 3241Q) ورايټي تخم راوړل شول او له هغو وروسته مو د وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي په څېړنيز فارم کې د ۱,۵ متر اوږدوالي او ۱,۵ متره سور په درلودلو سره پلاټونه جوړ کړل، چې قطارونه يې د ختيځ او لوېديځ په مسير جوړ او ترمنځ يې ۲۵ سانتي متره فاصله په پام کې ونيول شوه. په هر پلاټ کې د قطارونو شمېر شپږ (٦) په نظر کې ونيول شو. تخمونه په ساحه کې د بوزغلي د توليد په موخه د لومړي ځل له پاره د حمل يا وري مياشتې په ۱۴ مه نېټه وکرل شول. د تخم له کرلو څخه وروسته باراني اوبه لګونه (Sprinkler irrigation) ترسره شوه. څو ورځې وروسته پرې عضوي سره استعمال شوه، د عضوي سرې له استعمال څخه وروسته بيا هم په ترتيب سره اوبه لګونه ترسره شوې ده. په دې توګه په مختلفو مودو (له ۱۵ تر ۲۰ ورځو) کې د تخمونو ټوکېدنه پيل شوه او په هره اونۍ کې له ۲ تر ۳ ځلونو پورې اوبه لګونه ترسره شوې ده.

### د څېړنې طرحه او ډیزاین

دغه څېړنهد میدان وردګ ولایت تر اقلیمي شرایطو لاندې د رومي بانجانو په وده او حاصل باندې د محلول په شکل د نایتروجن (Urea) د بېلابېلو اندازو اغیزې څېړي. په دې څېړنه کې د نایترجن (یوریا) اندازې د لاندې څلورو ترتمنتونو په لړلو سره په دریو تکرارونو کې د بشپړ تصادفي بلاک ډیزاین (RCBC/ Randomized Complet Block Design) په بڼه په ۱۲ پلاټونو کې څېړل شوې دي او پایلې یې د بوټي لوړوالي، د بوټي د ښاخونو شمېر، د بوټي د کلسترونو شمېر، د مېوې اوږدوالي، د مېوې سور، په هر پلاټ کې د بوټي حاصل او په یو هکتار ساحه کې د بوټي حاصل ته په کتو سره ثبت شوې دي:

T1: 0% (Urea 0.00 g/l)

T2: 0.5% (Urea 10.90 g/l)

T3: 1% (Urea 21.70 g/l)

T4: 2% (Urea 43.40 g/l)

### د اصلي ساحې آماده کول او د بزغلي انتقال

د څېړنې ساحه د کرلو څخه ۱۵ ورځې مخکې د تراکتور په واسطه قلبه شوې ده او بیا د غټو لوټو د له منځه وړلو او د سطحې د هموارولو په موخه څمکه ماله کړل شوه، د څېړنې له ساحې څخه هرزه بوټي او نور نباتي پاتې شوني لرې کړل شول، له کرلو څخه مخکې په هر تجربوي پلاټ کې د ۳ متره اوږدوالي او یو متر او شل سانتي عرض په لړلو سره جویي جوړې شوې دي. د اوبونې په موخه د هرو دوو جویو ترمنځ د ۵۰ سانتي مترو په اندازه لښتي جوړ کړل شول. وروسته اصلي ساحه د تراکتور په واسطه قلبه شوې ده او له قلبه کولو څخه ۲-۳ اوونۍ وروسته د څېړنې لپاره په ساحه کې پلاټونه جوړ شول، چې هر پلاټ ۲,۸۰ سانتي متره سور او ۳ متره اوږدوالی درلود. د لښتیو عرض ۶۰ سانتي متره او د قطارونو ترمنځ فاصله ۱۲۰ سانتي متر وټاکل شوه.

له پورته ذکر شویو مرحلو څخه وروسته، چې کله ساحه په مکمل ډول تیاره شوه، اوبه لګونه هم تر سره شوه او بوزغلی اصلي ساحې ته انتقال شو، د انتقال څخه وروسته په اوونۍ کې له ۲ تر ۳ ځله اوبه لګونه ترسره کېده، اوبه لګونه د جویچې په واسطه ترسره کېده، له ۸ تر ۱۰ ورو‌ځو وروسته د هغو نیالګیو ناغې هم ونیول شوې، چې له منځه تللي وو، په لومړي ځل دوې اوونۍ وروسته خاوره ورکړل شوه. د خاورې له ورکولو څخه یوه اوونۍ وروسته (د انتقال څخه شل ۲۰ ورځې وروسته) د لومړي ځل له پاره د محلول په شکل نایتروجن (یوریا) سپرې(Spray) شو، چې د هر ترتمنت لپاره یې د لومړي ځل اندازه په ترتیب سره په T1 ترتمنت کې (0.00 g/l)، په T2 ترتمنت کې (10.90 g/l)، په T3 ترتمنت کې (21.70 g/l) پهT4 ترتمنت کې (43.40 g/l) ګرامه تطبیق شوه.

د منظمې اوبه لګونې څخه وروسته د شل (۲۰) ورځو په تو‌پیر سره دوهم ځل سپرې ترسره شوه، همدارنګه د دوهم ځل سپرې کولو څخه ۱۷ ورځې وروسته دوهم ځل خاوره ورکونه هم ترسره شوه. له دې وروسته بیا دریم ځل سپرې په ورته اندازو د لومړي ځل په څېر چې مخکې یې یادونه وشوه ترسره شوه، چې په ټول وده یز فصل کې د بوزغلي له انتقال څخه اصلي ساحې ته د حاصل تر ټولولو پورې درې ځلې سره ورکونه د سپرې په ډول ترسره شوه.

**د ډیټا ټولونه او احصائیوي تجزیه**

په هر پلاټ کې له هر څلورم بوټي څخه چې په تصادفي ډول انتخاب شوی و، ډیټا ټوله او له ثبتولو څخه وروسته د SASS او Excel احصائیوي سافټویرونو په واسطه تجزیه او تحلیل شوه، چې پایلې یې د جدولونو او ګرافونو په ډول ښودل شوي دي.

**د څېړنې موندنې**

د څېړنې پورې اړوند د رومي بانجانو په وده او حاصل باندې د محلول په شکل د نایتروجن (یوریا) بېلابېلو اندازو اغیزو موندنې د مناسبو سرلیکونواو جدولونو له لارې په لاندې توګه تشریح شوي دي:

**۱- د رومي بانجان د بوټي په لوړوالي (سانتي متر)، د ښاخونو او کلسترونو په شمېر باندې د محلول په شکل د نایتروجن (یوریا) د بېلابېلو اندازو د استعمال اغېزې**

د رومي بانجان د نبات په حاصل او د حاصل په اجزاوو باندې د نایتروجن (یوریا) محلول د بېلابېلو اندازو له استعمال څخه ومو‌ندل شوه، چې د نایتروجن پورتنیو اندازو د نبات په لوړوالي (سانتي متر)، په نبات کې د ښاخونو په شمیر او په هر ښاخ کې د کلسترونو په شمېر باندې د پام وړ اغېزې کړې دي. په نبات کې تر ټولو زیات لوړوالی ۵۸،۸۹ سانتي متره، په نبات کې د څانګو تر ټولو زیات شمېر ۷،۵۵ دانې او په نبات کې د کلسترونو تر ټولو زیات شمېر ۲۴،۸۹ دانې په T4 ترټمنت کې ترلاسه شو، کوم چې ۴۳،۴۰ ګرامه یوریا په یوه لیتر کې ورته علاوه شوې وه ، همدارنګه د نبات تر ټولو کم لوړوالی ۴۷،۰۰ سانتي متره، په نبات کې د څانګو تر ټولو کم شمېر ۶،۰۰ دانې او په نبات کې د کلسترونو تر ټولو کم شمېر ۱۹،۸۹ په T1 ترټمنت کې ترلاسه شو، کوم چې هیڅ یوریا نه وه ورکړل شوې. (۱- جدول)

۱- جدول: د رومي بانجان د بوټي په لوړوالي (سانتي متر)، په نبات کې د څانګو شمېر او په نبات کې د کلسترونو په شمېر باندې د محلول په شکل د نایتروجن (یوریا) د بېلابېلو اندازو د استعمال اغېزې

| ترټمنت | د نبات لوړوالي | په نبات کې د څانګو شمېر | په نبات کې د کلسترونو شمېر |
|---|---|---|---|
| | اوسطه | | |
| $T_1$ 0% (Control) | ۴۷.۰۰ | ٦.۰۰ | ۱۹.۸۹ |
| $T_2$ 0.5% (10.90 g/l urea) | ۵۱.۳۳ | ٦.۲۲ | ۲۳.۷۷ |
| $T_3$ 1% (21.70 g/l urea) | ۴۹.۲۲ | ٦.۲۲ | ۲۱.۰۰ |
| $T_4$ 2% (43.40 g/l urea) | ۵۸.۸۹ | ۷،۵۵ | ۲۴.۸۹ |
| L.S.d | ۳.۳۰ | ۲.۴۵ | ۱۰.۱٦ |

## ۲- د رومي بانجان په نبات کې په کلستر کې د مېوو په شمېر، په نبات کې د مېوو په شمېر او د مېوې په اوږدوالي (سانتي متر) باندې د محلول په شکل د نایتروجن (یوریا) د بېلابېلو اندازو د استعمال اغېزې

له احصائیوي تحلیل او تجزیې څخه څرګندیږي، چې د رومي بانجان د نبات په حاصل او د حاصل په اجزاوو باندې د نایتروجن (یوریا) محلول د بېلابېلو اندازو له استعمال څخه داسې نتیجه تر لاسه شوه، چې د نایتروجن پورتنیو اندازو د نبات په کلسترونو کې د مېوو په شمېر، په بوټې کې د مېوو په شمیر شمېر او د مېوې په اوږدوالي (سانتي متر) باندې د پام وړاغېزې کړې دي او د نبات په کلسترونو کې تر ټولو زیات د مېوو شمېر ۷,۲ دانې، په نبات کې د مېوو تر ټولو زیات شمېر ۵۵,۱۸ او د مېوو تر ټولو زیات اوږدوالی ۵,۷۰ سانتي متره په (T4) ترتمنت کې ترلاسه شو، کوم چې ۴۳,۴۰ ګرامه یوریا په یوه لیتر کې ورته سپرې شوې وه. ، همدارنګه د نبات په کلستر کې تر ټولو کم د مېوو شمېر ۳,۱ دانې، په نبات کې د مېوو تر ټولو کم شمېر ۳۳,۱۷ دانې او د مېوو تر ټولو کم اوږدوالی ۴,۰۰ سانتي متره په (T1) ترتمنت کې ترلاسه شو، کوم چې هیڅ یوریا نه وه ورکړل شوې. (۲- جدول)

۲- جدول: د رومي بانجان په نبات په کلسترونو کې د مېوو په شمېر، په نبات کې د مېوو شمېر او د مېوې په اوږدوالي (سانتیمتر) باندې د محلول په شکل د نایتروجن (یوریا) د بېلابېلو اندازو د استعمال اغېزې

| ترتمنت | په کلستر کې د مېوو شمېر | په نبات کې د مېوو شمېر اوسطه | د مېوې اوږدوالی (سانتي متر) |
|---|---|---|---|
| $T_1$ 0% (Control) | ۳.۱ | ۳۳.۱۷ | ۴.۰۰ |
| $T_2$ 0.5% (10.90 g/l urea) | ٦.۱ | ۴٦.۱۴ | ۴.۴۲ |
| $T_3$ 1% (21.70 g/l urea) | ۷.۱ | ۵۲.۱۷ | ۴.۴۳ |
| $T_4$ 2% (43.40 g/l urea) | ۷,۲ | ۵۵.۱۸ | ۵.۷۰ |
| **L.S.D** | ۴.۰ | ٦.۱۲ | ۱.۸۰ |

## ۳- د رومي بانجان په نبات کې د مېوې په قطر(سانتي متر)، په پلاټ کې د مېوې حاصل (کیلو ګرام) او په هکتار کې د مېوې په حاصل باندې د محلول په شکل د نایتروجن (یوریا) د بېلابېلو اندازو د استعمال اغېزې

د رومي بانجان د نبات په حاصل او د حاصل په اجزاوو باندې د نایتروجن (یوریا) محلول د بېلابېلو اندازو له استعمال څخه داسې نتیجه تر لاسه شوه، چې د نایتروجن پورتنیو اندازو په نبات کې د مېوې په قطر(سانتي متر)، په پلاټ کې د نبات په حاصل (کیلو ګرام) او په هکتار ساحه کې د نبات په حاصل (ټن) باندې د پام وړ اغېزې درلودې. په نبات کې تر ټولو زیات د مېوې قطر ٦,۴۰ سانتي متره ، په پلاټ کې د مېوې تر ټولو زیات حاصل ۳۳,٦۱ کیلوګرامه او په هکتار کې د مېوې تر ټولو زیات حاصل ۴۰ ټنه په T4 ترتمنت کې ترلاسه شو، کوم چې ۴۰۴۳ ګرامه یوریا په یوه لیتر اوبو کې ورته علاوه شوې وه. همدارنګه د مېوې تر ټولو

کم قطر ۵،٦۲ سانتي متره، په پلاټ کې د مېوې تر ټولو کم حاصل ۲۲،۸۰ کیلوگرامه او په هکتار کې د مېوې تر ټولو کم حاصل ۱۴،۲۷ ټنه په T1 ترتمنت کې کوم چې هېڅ یوریا په کې نه وه علاوه شوې. (۳- جدول)

۳- جدول: د رومي بانجان په نبات کی د میوې په قطر(سانتي متر)، په پلاټ کې د مېوې حاصل (کیلو گرام) او په هکتار کې د مېوې په حاصل باندې د محلول په شکل د نایتروجن (یوریا) د بېلابېلو اندازو د استعمال اغېزې

| ترتمنت | د میوې قطر (په سانتي متر) | په پلاټ کې دمېوې حاصل (کیلوگرام) اوسطه | په هکتار کې د مېوې حاصل (په ټن) |
|---|---|---|---|
| $T_1$ 0% (Control) | ۵.٦۲ | ۲۲.۸۰ | ۱۴.۲۷ |
| $T_2$ 0.5% (10.90 g/l urea) | ۵.٦۵ | ۲۷.۱۵ | ۳۲.۳۲ |
| $T_3$ 1% (21.70 g/l urea) | ٦.۳۳ | ۲٦.۳۴ | ۳٦.۳۱ |
| $T_4$ 2% (43.40 g/l urea) | ٦.۴۰ | ۳۳.٦۱ | ۴۰.۰۰ |
| L.S.D | ۰.۹۳ | ۰۱.۷ | ۸.۳۵ |

**مناقشه**

## ۱- د رومي بانجانو د بوټي په لوړوالي (سانتي متر)، د څانگو او کلسترونو په شمېر باندې د محلول په شکل د نایتروجن (یوریا) د بېلابېلو اندازو د استعمال اغېزې

د رومي بانجانو د نبات په په لوړوالی (په سانتي متر)، په نبات کې د څانگو شمېر او په څانگه کې د کلسترونو په شمېر باندې د پام وړ اغېزې کړې دي. په نبات کې تر ټولو زیات لوړوالی ۵۸،۸۹ سانتي متره، په نبات کې د څانگو تر ټولو زیات شمېر ۷،۵۵ دانې او په نبات کې د کلسترونو تر ټولو زیات شمېر ۲۴،۸۹ دانې په T4 ترتمنت کې ترلاسه شو، کوم چې ۴۳،۴۰ گرامه یوریا په یوه لیتر کې ورته علاوه شوې وه. همدارنگه د نبات تر ټولو کم لوړوالی ۴۷،۰۰سانتي متره، په نبات کې د څانگو تر ټولو کم شمېر ٦،۰۰ دانې او په نبات کې د کلسترونو تر ټولو کم شمېر ۱۹،۸۹ په T1 ترتمنت کې ترلاسه شو، کوم چې هیڅ یوریا نه وه ورکړل شوې ، چې دې پایلې ته ورته پایله نیو او ملگرو یې ((Niu *et al.*, 2021) لاسته راوړې دي.

**۲-** د رومي بانجان نبات په کلسترونو کې د میوو په شمېر، په بوټي کې د مېوو په شمېر او د مېوې په اوږدوالی (سانتي متر) باندې د محلول په شکل د نایتروجن (یوریا) بېلابېلو اندازو د استعمال اغېزې

د لاسته راغلو پایلو څخه دا معلومه شوه، چې د نایتروجن (یوریا) د محلول بېلابېلو اندازو استعمال د رومي بانجان نبات په کلستر کې د مېوو په شمېر، په بوټي کې د مېوو شمېر او د مېوې په اوږدوالي (سانتي متره) باندې د پام وړ اغېزې درلودې. د نبات په کلسترونو کې تر ټولو زیات د مېوو شمېر ۷،۲ دانې، په نبات کې د مېوو تر ټولو زیات شمېر ۵۵،۱۸ او د مېوو تر ټولو زیات اوږدوالی ۵،۷۰ سانتي متره په T4 ترتمنت کې ترلاسه شو، کوم چې ۴۳،۴۰ گرامه یوریا په یوه لیترکې ورته علاوه شوې وه ، همدارنگه د نبات په کلستر کې تر ټولو کم د مېوو شمېر ۳،۱ دانې، په نبات کې د مېوو تر ټولو کم شمېر ۳۳،۱۷ دانې او د مېوو تر ټولو کم

اوږدوالی ۴،۰۰ سانتي متره په T1 ترتمنت کې ترلاسه شو، کوم چې هيڅ يوريا نه وه ورکړل شوې. د دې څېړنې پايلو ته ورته پايلې ويجيواردينا او ملګرو يي (Wijewardena *et al.*.۱۹۹۷) او قاسم او ملګرو يي (Qasem *et al.*,.۱۹۹۳) هم لاسته راوړې دي.

**۳**- د رومي بانجان نبات د مېوې په قطر(سانتي متر)، حاصل (کيلو ګرام/پلاټ) او حاصل (ټن/هکتار) باندې د محلول په شکل د نايتروجن (يوريا) د بېلابېلو اندازو د استعمال اغېزې

د رومي بانجان د نبات په حاصل او د حاصل په اجزاوو باندې د نايتروجن (يوريا) محلول د بېلابېلو اندازو (۰،۵- ۱،۵ او ۲) د استعمال اغېزېمطالعه شوې او داسې نتيجه تر لاسه شوه، چې د نايتروجن پورتنيو اندازو په نبات کې د مېوې په قطر (سانتي متر)، په پلاټ کې د نبات په حاصل (کيلو ګرام) په هکتار کې د نبات په حاصل (ټن) باندې د پام وړ اغېزې درلودې. په نبات کې تر ټولو زيات د مېوې قطر ۶،۴۰ سانتي متره ، په پلاټ کې د مېوي تر ټولو زيات حاصل ۳۳،۶۱ کيلوګرامه او په هکتار کې د مېوي تر ټولو زيات حاصل ۴۰ ټنه په T4 ترتمنت کې ترلاسه شو، کوم چې ۴۰،۴۳ ګرامه يوريا په يوه ليتر اوبو کې ورته علاوه شوې وه. همدارنګه د مېوې تر ټولو کم قطر ۵،۶۲ سانتي متره ، په پلاټ کې د مېوې تر ټولو کم حاصل ۲۲،۸۰ کيلوګرامه او په هکتار کې د مېوې تر ټولو کم حاصل ۱۴،۲۷ ټنه په T1 ترتمنت کې ترلاسه شو، کوم چې هيڅ يوريا نه وه ورکړل شوې، چې دې پايلې ته ورته پايله سينګ او ملګرو يي (Singh *et al.*, 2014) او پاريسی او ملګروو يي(Parisi *et al.*, 2006) هم لاسته راوړې دي.

**د څېړنې پايلې**

د دې علمي څېړنې د ترسره کېدو له پايلې څخه څرګنده شوه، چې د رومي بانجانو په وده او حاصل باندې د مايع په شکل د نايتروجني سرې (مايع يوريا) استعمال د پام وړ اغېزې درلودې. د بېلابېلو ترتمنتونو په منځ کې د مايع په شکل نايتروجني سرې (مايع يوريا) دوه فيصده محلول ( T4: 2% Urea 43.40 g/l) په استعمال سره په نبات کې تر ټولو زيات لوړوالی ۵۸،۸۹ سانتي متره، په نبات کې د څانګو تر ټولو زيات شمېر ۷،۵۵ دانې، په نبات کې تر ټولو زيات د کلسترونو شمېر ۲۴،۸۹ دانې، د نبات په کلسترونو کې تر ټولو زيات د مېوو شمېر ۷،۲ دانې، په نبات کې د مېوو تر ټولو زيات شمېر ۵۵،۱۸ ، په نبات کې تر ټولو زيات د مېوې قطر ۶،۴۰ سانتي متره ، په پلاټ کې د مېوي تر ټولو زيات حاصل ۳۳،۶۱ کيلوګرامه او په هکتار کې د ي تر ټولو زيات حاصل ۴۰ ټنه ترلاسه شوی دی.

**اخځليکونه**


Asit, B. M and Abdullah, A. M (2011). Effect of foliar application of urea on the growth of tomato. Front. Agric. China. 5(3): 371-374.

Ashraf, M. I., Shoukat, S., Hussain, B., Sajjad, M., Adnan, M., et al. (2018). Foliar application effect of boron, calcium and nitrogen on vegetative and reproductive attributes of tomato (Solanum lycopersicum L.). J. Agri. Sci. Food Res. 9:199.

Ashraf, M. I., Shaukat, M. B., Liaqat, B., Kiran, S., Khalid, W., Aman, L., Kaleem, Z and Abdullah, M. (2021). Effect of foliar application of water soluble fertilizer on growth,

yield and quality attributes of tomato (Solanum lycopersicum Mill.). Int. J. Agron. Agri. R., Vol. 18, No. 1, p. 10-18.

Bichitra, B., Chaudhari and Rajat, De. (1975). Effect of soil and foliar application of nitrogen and phosphorus on the yield of tomato (Lycopersicon esculentum Mill.) Soil Science and Plant nutrition, 21:1, 57-62.

Bhanwar, S., Effect of foliar application of nitrogen source (Urea) on growth and yield of eggplant (Solenum melogena L.). M. Sc. Hort. Thesis, School of Agriculture, Lovely Professional University, Punjab, 2014.

Bhowmik, D., Sampath Kumar, K.P.S., Paswan, S., and Srivastava, S. (2012). Tomato-A natural medicine and its health benefits. J. of Pharmacognosy and Phytochemistry, 1 (1), 33-43.

Chaurasia, S. N. S., Singh, K. P. and Mathura, R., (2005). Effect of foliar application of water soluble fertilizers on growth, yield and quality of tomato (Lycopersicon esculentum L.). Sri lanka J. Agri. Sci. Vol. 42: 66-70.

Colla, G., Battistelli, A., Moscatello, S., Proietti, S. and Saccardo, F. (2003). Produzione e caratteristiche qualitative di ibridi di pomodoro da industria in relazione alla fertirrigazione azotata. Italus Hortus 10(6):34-42.

Dadomo, M., Gainza, A.M., Dumas, Y., Bussières, P., Macua, J.I., Christou, M. and Branthôme, X. (1994). Influence of water and nitrogen availability on yield components of processing tomato in the European Union countries. Acta Hort. 376:271-274.

Guvenc, I and Badem, H. (2002). Effect of foliar application of different sources and levels of nitrogen on growth and yield of tomato (Lycopersicon esculentum). Indian J. of Agri. Sci., 72 (2): 104.

Kalbani, F.O.S.A., Salem, M.A., Cheruth, A. J., Kurup, S. S., and Kumar, A.S. (2016). Effect of some organic fertilizers on growth, yield and quality of tomato (Solanum lycopersicum). International Letters of Natural Sciences, 53, 1-9.

Kaniszewski, S., Elkner, K. and Rumpel, J. (1987). Effect of nitrogen fertilization on yield, nitrogen status in plants and quality of fruits of direct seeded tomatoes. Acta Hort. 200:195-202.

Kooner, K.S. and Randhawa, K.S. (1990). Effect of varying levels and sources of nitrogen on yield and processing qualities of tomato varieties. Acta Hort. 267:120-124.

Kamal, N., Dubey, P., Sharma, D., Vijay, T., Katre, Tiwari, S. P. and Anita, M. (2012). Effect of soil and foliar application of nutrient on growth and yield in tomato (Lycopersicon esculentum Mill.) J. Hort. Sci. Vol. 7 (1): 101-103.س

Niu, L., Qin, L., and Chen, L. (2021). Effects of Nitrogen Application on the Carbon and Nitrogen Metabolism and Growth of Tomato Plants. Acta Agriculturae Scandinavica, Section B-Soil & Plant Science, 71(4):342-351.

Parisi, M., Giordano, L., Pentangelo, L., D'Onofrio, B. A., & Villari, G. (2006). Effects of different levels of nitrogen fertilization on yield and fruit quality in tomato. Acta Horti., (700): 129-132.

Qasem, J. R., and T. A. Hill. (1993). Effect of form of nitrogen on the growth and nutrient uptake of tomato, groundsel and fat-hen. J. Hort. Sci., 68(2): 161-170.

Singh, D.P., Chaubey, T., Singh, B., Mishra U.C. and Chaubey. P.K. (2014). Balance nutrition in tomato through nutrient management for quality production of fruits. Vegetable Science, 41(2), 198-201.

Vallejo, C., Spikings, R. A., Luzieux, L., Winkler, W., Chew, D., & Page, L. (2006). The early interaction between the Caribbean Plateau and the NW South American Plate. Terra Nova, 18(4), 264-269.

Viskelis, P., Radzevicius, A., Urbonaviciene, D., Viskelis, J., Karkleliene, R., & Bobinas, C. (2015). Biochemical parameters in tomato fruits from different cultivars as functional foods for agricultural, industrial, and pharmaceutical uses. Plants for the Future, 11, 45.

Wijewardena, J. D. H., and S. L. Amerasiri. (1997). Effect of levels of Nitrogen fertilizer on tomato, potato, cabbage and polebean. J. National Sci. Council, Sri Lanka. 25(1): 68-78.

# د مئ (Vigna radiata L. Wilczek) په وده او حاصل باندې د تخم د بېلابېلو اندازو او قطاري فاصلو اغېزې

۱-پوهنمل نورمحمد احمدي[۱*] ۲-پوهنیارعبدالبصیر ترابي[۱] ۳-پوهنیار عبدالله آرام[۱]
۱- اګرانومي دیپارتمنت، د کرنې پوهنځی، وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه ، میدان وردګ، افغانستان

**لنډیز**

د مئ نبات له مشهورو کرنیزو حبوباتو څخه ګڼل کېږي. مئ د خاورې د حاصلخېزئ د زیاتوالي، د کلیوالي کورنیو عایداتو د ښه والي، د شغلي فرصتونو د رامنځته کولو، د خوړو د تنوع او غذايي خوندیتوب د زیاتولوالي په سبب له یو ګوښه شوي نبات څخه په لوی کرنیز نبات بدل شوی دی. د مئ نبات دانې په خپل ترکیب ۲۴ ٪ پروټین، ۱،۳ ٪ غوړ، ۴،۱ ٪ فایبر او ۵۶،۷ ٪ کاربوهایډریټ او ۳،۵ ٪ منرالونه په شمول نور ګټور غذايي مواد لري، چې پر انساني خوراک سربېره د حیواني علوفې او شنې سرې په توګه هم کارول کېږي. د مئ نبات مناسب ګڼوالی، رطوبت، رڼا، ځای او غذايي موادو ښه استعمال د نبات د نورمالې ودې د تضمین او لوړو حاصلاتو سبب کېږي. دغه څېړنه په ۱۴۰۲ هـ.ش کال، د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د کرنې پوهنځي په څېړنیز فارم کې د مئ نبات په وده او حاصل باندې د تخم د مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ د بېلابېلو فاصلو اغېزې مطالعه شوې دي. د تجربې ساحه ربګلنه خاوره لري، د تخم درې بېلابېلې اندازې (۱۵، ۲۰ او ۲۵) کېلوګرام پر هکتار او د قطارونو تر منځ په دریو فاصلو (۲۰، ۳۰ او ۴۰) سانتي متره ترېتمنټونو او ۲۷ پلاټونو کې، د بشپړ تصادفي بلاک ډیزاین ( Randomize Complete Block Design / RCBD) په بڼه، په دریو (۳) تکرارونو کې عملي شوې ده، د تجربوي معلوماتو لپاره د توپیرونو د تحلیل پروګرام (STA-R) او د ترېتمنټونو د اغېزو اهمیت د LSD ټېسټ په مرسته د دوه ترېتمنټونو تر منځ د پام وړ توپیر د غلطۍ او آزادۍ درجې په (P = 0.05) کې ازمویل شوی دی. د تخم اندازه او د قطارونو تر منځ فاصلې د ودې او حاصل سره تړلې ځانګړنو اغېزې کړې دي، د ۱۵ کېلوګرام تخم پرهکتار او ۳۰ سانتي متره په واټن کرل شوي ترېتمنټ څخه د نورو ټولو ترېتمنټونو په پرتله ښې پایلې ترلاسه شوې. د نبات په قد، د لومړنیو ځانګو په شمېر، د پاڼې په ساحه، د یو نبات په مجموعي وچ وزن، د غوټو په شمېر، د ریښو په اوږدوالي، په یوه ورځ کې د نمو په اندازه (په ګرام)، د پلیو په شمېر د پلیو په اوږدوالی د پام وړ اغېزې کړې دي. د زرو دانو لوړ وزن ۵۱،۷ ګرامه، د دانو لوړ حاصل ۲،۹۲۵ ټن پر هکتار او د وښو لوړ حاصل ۴،۳۴۹ ټن پر هکتار له غوره ترېتمنټ څخه ترلاسه شوی دی.

کلیدي کلمې: اندازې، اغېزې، حاصل، تخم، مئ، واټن وده

* Email: nmw.ahmadi@gmail.com

# Effects of different seed rate and row spacing on the growth and yield of mung-bean *Vigna radiata* L. Wilczek.

1_ Noor Mohammad Ahmadi*[1] 2_ Abdul Basir Turabi[1] 3_Abdullah Aram[1]
1.Agronomy Department, Agriculture Faculty, Wardak Institute of Higher Education, Maidan Wardak, Afghanistan

## Abstract

Mung bean *Vigna radiata* L. Wilczek is considered one of the most famous agricultural pulse crops. Mung-bean has transformed from a minor crop to a major crop due to increased soil productivity, improved rural household incomes, employment opportunities, food gathering, and nutritional security. Mung-bean seeds contain 24% protein, 1.3% fat, 4.1% fiber, 56.7% carbohydrates, and 3.5% minerals, including other nutrients that are used as animal fodder and green manure in addition to human food. Can be Planting with the proper density of plants ensures normal plant growth and high yields through the efficient use of moisture, light, space, and nutrients. A field experiment was conducted in the field farm of Wardak University of Higher Education Faculty of Agriculture during the spring season in 1402 Hijri Shamsi to study the effects of different seed rates and spacing between rows on the growth and yield of mung beans. The experimental field consisted of sandy soil, three seed rates of 15, 20 & 25 kg $ha^{-1}$ respectively, and three row spacings of 20, 30 & 40 cm; in 27 plots with a plot, size of 4 m square was performed in here replications with the RCB. The analysis of variance for experimental data (STA-R) program and the significance of the effects of the treatments using the LSD test for the observed difference between the two treatments with degree of freedom of error. Ranks were tested at P = 0.05. Seed rate and row spacing influenced traits associated with growth and yield, and differences in seed size and row spacing had significant effects on both mung-bean growth and yield. The treatment of 15 kg seed ha-1 planted at 30 cm spacing had better results than all other treatments. Plant height, number of primary branches, leaf area, total dry matter weight of $plant^{-1}$, number of buds, length of roots, growth rate per day $g^{-1}$, number of pod $pant^{-1}$, length of pod per cm, Observations have had significant impacts. The highest test weight of grains (51.7 g), the highest grain yield (2.925 tons per hectare), and the highest sraw yield (4.349 tons per hectare) were obtained from the best treatment.

**Keywords:** effects, yield, seed, rate, Mung-bean, distance, growth

* Email: nmw.ahmadi@gmail.com

**سریزه**

د مې نبات په افغانستان کې یو له خورا مهمو او مشهور کرنیزو حبوباتو ګڼل کېږي. د مې نبات د کرنې لپاره د افغانستان ټولې سیمې مساعدې ګڼل شوې دي او د حبوباتو زیات مصرفوونکی هېواد دی، خو تولید یې د مصرف په پرتله ډېر کم دی، حبوبات له غلجاتو وروسته د وګړو په خوراک کې دوهم ځای لري او د کرنیزو نباتاتو مهمه برخه تشکلوي. د مرکزي احصایې د ۱۳۹۹ هـ.ش د راپور له مخې په افغانستان کې نهه شپېته زره او یوسلو څلور (۶۹۱۰۴) هکتاره ځمکه یې تر کښت لاندې وه او یوسلو لس زره او اته سوه پنځه اویا (۱۱۰۸۷۵) ټنه حبوبات یې له بهرنیو هېوادونو څخه وارد کړي وو. دغه راز د څلور میلیونه، نهه سوه څلویښت زره او اووه سوه دیرش (۴۹۴۰۷۳۰) افغانیو په ارزښت حبوبات تولیدوي او یوویشت زره او دوه سوه پنځلس (۲۱۲۱۵) ټنه حبوبات صادروي، ذکرشوې اندازه د حبوباتو د صادارتي توکو ۲ ٪ برخه تشکیلوي او هم د هېواد په اقتصاد او دو ګړو په تغذیه کې لوړ ارزښت لري( د مرکزي احصایې راپور، ۱۳۹۹ هـ.ش). د دې نبات د هضم وړ پروټینونو او معدني موادو او د ښه خوند په وجه د انساني او حیوانې غذایي مواد یوغوره منبع ګڼل کېږي (Kaul, 1982). د مې نبات په مختلفو خاورو کې کرل کېدلی شي، خو د مې د لوړ حاصل لپاره ښه زهکښې شوې لوم خاوره غوره ګڼل شوې ده، د مې نبات تخم په خپل ترکیب کې ۲۴ ٪ پروټین، ۱,۳ ٪ غوړ، ۴,۱ ٪ فایبر ۳ ٪ ویټامینونه، ٥٦,٧ ٪ کاربوهایډریټ، ۱۰ ٪ لندبل او ۳,۵ ٪ منرالونو په شمول نور مغذي مواد هم شتون لري، مې نبات پر انساني خوراکي موخو سربېره د حیواني علوفې او شنې سرې په توګه هم کارول کېږي، د نمو لنډ دوران لري له کرنې وروسته له ۹۰ تر ۱۲۰ ورځو په موده کې حاصل راټولولو ته آماده کېږي (Sharma *et al.*, 2020). د لوړ حاصل تر لاسه کولو لپاره د علمي کرنیزو عملیو له جملې څخه د تخم مناسب اندازې، که په دقت او وړ پرخوالي وکرل شي، په حاصل کې د لوړ توپیر لامل کېږي (Ahmad, *et al.*, 2003) او (Bina, 2007). د مې نبات په منځني واټن کرنه په ډېری هېوادونو کې اعظمي حاصل تولید کړی دی (Mondal, 2007). د لوړ حاصل تولیدوونکو ورایټیو تر پېژندنې وروسته د ښه تولید په موخه په وړ فاصلو د هغو کرل اړین ګڼل کېږي (Ali and Gupta, 2012). که نباتات په پراخه واټن وکرل شي، په یو واحد ځمکه کې ډېرې څانګې او پلي تولیدولی شي، خو د وړ پراخوالي پرتله په في واحد ځمکه کې د پلیو شمېر څکه کمیږي چې د وړ اندازه نباتاتو پرتله په یو واحد ځمکه کې د نباتاتو شمېر کموي او هم د څانګو زیاتوالی ممکن د پوره نباتاتو د کموالي تشه جبران نه شي کړلی، په زیات پراخوالي د کرنې په صورت کې له ځمکې په پوره توګه استفاده نه کېږي او د حاصل د کموالي سبب کېږي(Sing, *et al.*, 2003). معمولاً په نباتاتو کې د ښې نمو، پوره انکشاف او لوړ حاصل ترلاسه کولو لپاره د تخمریزې مناسب اندازه کرل اړینه ګڼل کېږي (Miah, *et al.*, 1990). د غوره ورایټیو د حاصلاتو تر منځ لوی توپیرونه شتون لري (Mondal *et al.*, 2011). له مناسبې او غوره فاصلې څخه اعظمي حاصل ترلاسه کېدلی شي (Ahmed *et al*, 2011). د کرنې مناسب ګڼوالی (د تخم استعمال) د مې نبات په هر واحد کرنیزه ساحه کې د نبات د مطلوب تراکم له ډاډمنولو سره مرسته کوي، چې په دې توګه

د تخم حاصلات لوړې او اعظمي کچې ته رسيږي (Kabir and Sarkar, 2008). د آسيا په سويل ختيځ کې د مې د فاصلو په اړه تجربې ترسره شوې دي؛ ترڅو د مې نبات مناسب تراکم ومومي او اعظمي حاصل ترلاسه کړي (Ahmed *et al.*, 2011). د ناوړه کمې فاصلې په وجه د رڼا، ځای، اوبو او تغذيې لپاره د سيالۍ يا هم د ناخوښه وښو په واسطه د مې نبات په محصول کې له ۲۰ څخه تر ۴۰ ٪ پورې کموالی رامنځته کېږي (AVRDC, 1974). د دې سرچپه، پراخ ځای هر يا ټولو نباتاتو ته د ډېرو څانګو او پليو د توليد زمينه برابروي، مګر په يو واحد ساحه کې د لږ شمېر پليو د توليد لپاره زمينه برابروي، ځکه په يو واحد ساحه کې د نباتاتو شمېر کميږي(Sing *et al.,* 2003). لګيومي نباتات له کرنيز سيستم څخه د ډېرې ګټې تر لاسه کولو په برخه کې د مرستې تر څنګ د لوړ توليد او کرنيز سيستم د پايښت په موخه کرل کېږي ( Kassie, 2011). د مې نبات د تخم اندازه له ۳۰ څخه تر ۴۰ او له ۴۰ څخه تر ۵۰ کېلوګرام پر هکتار زياته شوې، ورسره سم د دانې توليد هم لوړ شوی دی؛ خو تر ۴۰ کېلوګرام پر هکتار د تخم په زياتوالي سره د دانې په توليد کې د پام وړ زياتوالی رامنځته شوی دی، خو کله چې د تخم اندازه له ۴۰ څخه تر ۵۰ کېلوګرام پرهکتار پورې لوړه شوه، د دانې د توليد لوړوالی د پام وړ نه وو؛ خو د فاصلې په لحاظ د ډېرې فاصلې (۳۰) سانتي متره په پرتله نږدې فاصلې (۲۰) سانتي متره کې کرل شوو نباتاتو لوړ حاصل توليد کړی دی، علت يې د اړوندې ساحې مکمل نيول او د خاورې له سرچينو په ښه ډول ګټه اخيستل ښودل شوی دی (Kumar, *et al.*, 2007 & 2008). د يوې بلې څېړنې پايلې ښيي، چې په يو متر مربع کې د تخم په زياتوالي سره په متر مربع ساحه کې د بوټو شمېر تدريجي زيات شوی دی، د تخم د مقدار په زياتېدو سره د نباتاتو په لوړوالي کې زياتوالی رامنځته شوی، په يو هکتار کې د ۶۰ کېلوګرامه تخم په کرلو او همدارازد ۵۰ کېلوګرامه تخم په کرلو سره د لوړې ونې نباتات توليد شوي دي، چې د احصائيوي تحليل له مخې يو شان دي (Begum, *et al.*, 2007). د مې د تخم د زياتوالي په صورت کې د کاملو پليو شمېر په هر نبات کم شوی دی؛ خو په يو پلی کې د غير فعالو تخمونو شمير زيات شوی دی. په يو پلي کې زيات تخمونه له ۳۰ او ۴۰ کېلوګرامه تخم پر هکتار څخه ثبت شوي دي، وروسته پر هکتار د تخم په مقدار کې زياتوالی راغلی د تخمونو شمېر پر پلي کم شوی. د څېړنې پايلې په ډاګه کوي، چې د تخم د اندازې په زياتوالي سره د ۱۰۰ تخمونو په وزن کې کموالی راغلی دی دا کموالی تر ۴۰ کېلوګرام پر هکتار پورې يو شان و. د تخم ريزی پر هکتار کموالي سره د دانې حاصل پر نبات زيات شوی دی او لوړ ترين حاصل ۳۰ کېلوګرام پر هکتار تخم ريزی توليد شوی دی (Begum, *et al.*, 2007). مې نبات د نمو لنډ دوران او د پخوالي لپاره له ۷۰ تر ۹۰ ورځو وخت ته اړتيا لري. د هېواد په ټولو برخو کې د ميو د پسرلنی کرنې لپاره اقليمي شرايط مساعد دي، خو پر ګرمو سيمو سربېره د هېواد په ځينې سړو سيمو کې هم د دوهم کښت د کرنې امکانات ممکن ښکاري. په عمومي ډول د ټولو حبوباتو په څانګړې ډول د مې نبات توليدي وړتيا په في واحد ځمکې کې لږ ده. د توليدي وړتيا د کموالي علتونه ځينې د نبات په نوعه او ارثي خواصو پورې اړه لري، خو ځينې يې له اګرانوميکي عمليو سره تړاو لري، چې د اګرانوميکي عواملو له جملې د تخم مناسبې اندازې او فاصلې ته پام نه کول ګڼل کېږي.

د هېواد بزګران د مې نبات د تخم له اندازې او قطاري کرنې او د قطارونو تر منځ د فاصلو په اړه کم معلومات لري یا هم د میو له کرنې سره بلد نه دي. د نباتاتو په مناسب ګنوالي کرل د رطوبت، رڼا، ځای او غذایي موادو په اغېزمنه توګه کارول د نبات نورمالې ودې تضمین او لوړو حاصلاتو سبب کېږي، نو ځکه د مې نبات د غوره ودې او باکیفیته لوړ حاصل د تولید لپاره د تخم مناسب اندازه او د کرنې مناسب ګنوالی ټاکل اړین ګڼل کېږي .

**د څېړنې طریقه او مواد**

د مې نبات په وده او حاصل باندې د تخم د بېلابېلو اندازو او د قطارونو واټن د بېلابېلو فاصلو د اغېزو تر عنوان لاندې دغه څېړنه په ۱۴۰۲ هـ.ش کې د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د کرنې پوهنځي د څېړنیز فارم په پسرلني موسمکې ترسره شوې ده، په دې توګه دا یوه ساحوي تجربوي څېړنه ده، چې د تجربې ساحه یې ریګلنه خاوره لري، د تخم درې اندازې په ترتیب سره په یو هکتار کې د ۱۵، ۲۰ او ۲۵ کېلوګرامه او د قطارونو تر منځ یې فاصلې په په دریو ترېټمنټونو کې ۲۰، ۳۰ او ۴۰ سانتي متره په پام کې نیول شوې، ټول ۲۷ پلاټونه لري، د هر پلاټ اندازه ۴ متر مربع وه او بشپړ تصادفي بلاک ډیزاین (RCBD) په طریقه په ۳ تکرارنو کې ترسره شوې ده. یو هکتار ته ۸۰ کېلوګرام فاسفورس ($P_2O_5$) او ۱,۵ ټن د مرغانو سرې د کرنې پر وخت علاوه شوې دي. ناکاره واښه د لاس په واسطه له کرنې وروسته دوه ځلې (۳۰ او ۴۵) ورځې وروسته له منځه وړل شوې دي. مې د لور په واسطه ریبل شوي او د لاس په واسطه حاصل د وښو نه جلا شوې دي. نمویي پارامترونه د نمویي دورې په اړدو کې او د حاصل ځانګړتیاوې او د حاصل پارامترونه د حاصل راټولو پر وخت ثبت شوې دي. د تجربوي معلوماتو لپاره د توپیر تحلیل (STA-R) ، د ترېټمنټونو د اغېزو اهمیت د LSD ټیسټ په مرسته، د دوه ترېټمنټونو د پام وړ توپیر د تېروتنې د آزادی درجې په ($P = 0.05$) اندازه کې ازمویل شوي دي.

**پایلې او بحث**

د مې نبات د نمو او حاصل سره تړلې ځانګړنې د تخم ریزی د بېلابېلو اندازو او د قطارونو تر منځ د مختلفو فاصلو د تاثیراتو پر بنسټ څېړل شوې او هم په دواړو صورتونو کې د تخم د بیلابیلو اندازو او قطارونو تر منځ د مختلفو فاصالو متقابلې اغېزې د جدولونو او ګرافونو په شکل ښودل شوې دي.

**د نبات لوړوالی (Plant height)**

د تخم ریز او قطاري واټن توپیر د مې نبات په لوړوالي باندې د پام وړ تاثیر په (۱ - شکل) کې ښودل شوی دی. د نبات تر ټولو لوړ قد ۲۵,۹ سانتي متره له ۱۵ کېلوګرام تخم په هکتار او ۳۰ سانتي متره قطاري واټن څخه ترلاسه شوی دی، چې له نورو ټولو ترېټمنټونو سره توپیر د پام وړ دی. دوهم زیات لوړوالی له ۲۵ کېلوګرام تخم په هکتار او ۴۰ سانتي متر په لریوالي او ورپسې ۲۵ کېلوګرام تخم او ۳۰ سانتي متره په لریوالي ترلاسه شوی دی، چې له ۲۰ کېلوګرام تخم په هکتار او ۳۰ سانتي متر په لریوالي فاصلې پرته له نورو ټولو ترېټمنټونو سره یوشان لوړوالی لري، په ۲۰ کېلوګرام تخم په هکتار او ۳۰ سانتي متره فاصلې په لریوالي

ترېټمنټ کې د مې نبات تر ټولو ټيټ قدي بوټي توليد کړي، چې د احصائيوي تحليل له مخې د ۱۵ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متره قطاري واټن لرونکې ټرېټمنټ سره ورته ورتوالی لري. د تخم د بېلابېلو اندازو او قطارونو تر منځ د فاصلو په واسطه د مې نبات په لوړوالي کې د پام وړ توپير نه راولي (۸- جدول). مگر دواړو په گډه د تخم د بيلابيلو اندازو او قطارونو تر منځ د فاصلو په واسطه د مې نبات د قد په لوړوالي کې د پام تغيير رامنځته کوي، چې متقابلې اغېزې په (۱- جدول) کې ښودل شوې دي. د دې څېړنې پايلې د ځينو نورو څېړنو له پايلو سره ورته دي؛ د مې نبات تر ټولو لوړ بوټي د ۲۰ کېلوگرام تخم په هکتار کې ثبت شوي د احصايوي تحليل له نظره د مې نبات لوړوالی او په پليو کې د تخم اندازه د رام د څېړنې د ۱۵ کېلوگرام تخم پر هکتار سره مساوي او د ۱۰ کېلوگرام تخم پر هکتار څخه د پام وړ لوړه ده (Ram, 2018). د بوټو او قطارونو تر منځ د فاصلو اصلي اغېزې د مې نبات د بوټو په لوړوالي د پام وړ وې او مې د نبات تر ټولو لنډ قدي نباتات د (۱۵ × ۴۰) سانتي متر مربع گڼوالي کې ترلاسه شوی او تر ټولو لوړ قدي نباتات د (۵ × ۲۵) متر مربع کڼوالي کې ترلاسه شوي وو، له پايلو ښکاري چې د نبات لوړوالی د کرنې د ځای له پراخوالي (په قطار کې دننه او د قطارونو تر منځ فاصلې) په معکوس ډول سره تړاو لري (Siraje *et. al.*, 2020). د دې څېړنې موندنې د يوې بلې څېړنې له موندنو سره توپير لري، کوم چې د مې نبات لوړوالی له ۴۷,۷ څخه ۴۹,۴ سانتي مترو پورې د قطارونو تر منځ واټن له ۳۰ سانتي مترو څخه تر ۶۰ سانتي متر ته په پراخېدو سره د پام وړ کم شوی (Rasul *et al.*, 2012). د تخم مختلفې اندازې د نباتاتو په گڼوالي کې د توپير ساتلو په موخه کارول شوې، چې اغېزې يې خورا روښانه وې، د ۲۷,۸ – ۴۲,۴ نباتات په يو متر مربع ساحه کې رامنځ ته شوي. د څېړنې پايلو ښودلې چې په متر مربع کې د نباتاتو شمېر په تدريج سره د تخم د اندازې په ډېرېدو سره زيات شوی دی، په ورته ډول، تر ۵۰ کېلوگرام پر هکتار د تخم د اندازې په زياتوالي د نبات لوړوالی ۴۸,۲ سانتي متره زيات شوی دی، وروسې د ۴۰ کېلوگرام تخم پرهکتار د احصائيوي تحليل د درجه کولو د معيار په بنسټ ورته او د ۳۰ کېلوگرام پر هکتار تر ټولو لنډ قدي بوټي ۴۴,۳ سانتي متر توليد شوي دي (Mondal *et al.*, 2012). د نبات د قد په ټاکلو کې چاپيريالي عوامل او د نباتاتو جنټيکي ځانگړتياوې مهم رول لوبوي چې د نبات ارتفاع د وښو د حاصل په زياتوالي کې مهمه ونډه لري او په غير مستقيم ډول د دانې حاصل هم اغېزمنولی شي. د نباتي تراکم له زياتوالي سره نباتات د رڼا او ځای نيولو لپاره رقابت او ډېرې لوړه نمو کوي، نو د ترسره شوې څېړنې له پايلو څرگندېږي کله چې د تخم مقدار کم او ځای ساحه ورته پراخه وي، لوړ قدي نباتات رامنځ ته شوي وي او کله چې د تخم مقدار زيات شوی او فاصله هم زياته شوې په هغه اندازه لوړ قدي نباتات نه دي توليد شوي لکه څنگه چې په مناسب پراخوالي کې توليد شوي، نو ځکه ويلا شو چې د ۱۵ کېلوگرام تخم په هکتار او ۳۰ سانتي متر فاصله کې تر ټولو مناسب لوړ قدي نباتات توليد شوي دي.




١ - شکل: د مۍ نبات په لوړ والي د تخم بېلابېلو اندازو (کيلو ګرام پر هکتار) او قطارونو تر منځ د فاصلو (په سانتي متر) اغېز روښانه کوي.

١- جدول: د تخم د بېلابېلو اندازو (کيلو ګرام په هکتار) او قطاري فاصلو (په سانتي متر) متقابلي اغېزې.

| د تخم انداره کېلوګرام په هکتار | د قطارونو تر منځ فاصله په سانتي متر | | |
|---|---|---|---|
| | ٢٠ | ٣٠ | ۴٠ |
| ١٥ | ١٨,٩٧ | ٢٥,٩٠ | ٢٠,٠٧ |
| ٢٠ | ٢٠,٩٠ | ١٥,٨٠ | ٢٠,٢٣ |
| ٢٥ | ٢٠,٨٥ | ٢١,١٠ | ٢١,٢٠ |
| SEm(±) | ١,٥٦ | | |
| CD P = (٠,٠۵) | ۴,٦٩ | | |

## د لومړنيو ښاخونو شمېر پر نبات (Number of branch plant$^{-1}$)

د تخم بېلابېلو اندازو او په قطاري واټن کې د مۍ نبات؛ د لومړنيو ښاخونو په شمېر د پام وړ تاثيرات کړي دي (٢ - شکل). د مۍ نبات د لومړنيو ښاخونو تر ټولو لوړ شمېر ٦,۴ د ٢٠ کېلوګرام تخم په هکتار او د ٢٠ سانتي متر په فاصلې ترېتمنځ کې توليد شوي دي، چې له نورو ټولو ترېتمنځونو سره د پام وړ توپير لري، وروسته د لومړنيو ښاخونو لوړ شمېر په ترتيب سره ۴,٧ او ۴,٣ د ١٥ کېلوګرام تخم پر هکتار او د ٣٠ سانتي متر په فاصلې او ١٥ کېلوګرام تخم پر هکتار او د ٢٠ سانتي متر په فاصلې ترېتمنځونو څخه ترلاسه شوی دی او د مۍ نبات د لومړنيو ښاخونو تر ټولو کم شمېر ٣,٣ د ٢٥ کېلوګرام تخم پر هکتار او د ٣٠ سانتي متره په فاصلې ترېتمنځ نه ترلاسه شوي، کوم چې د احصائيوي تحليل له نظره په خپلو کې سره ورته دي. د (٢ او ٨ - جدول) نه څرګنديږي، چې مۍ نبات د تخم بېلابېلې اندازې او د قطارونو تر منځ فاصلې د پام وړ توپير نه لري، مګر د تخم بېلابېلو اندازو او قطاري فاصلو متقابلو اغېزو توپير د پام وړ دی. د دې څېړنې پايلې د نورو څېړنو له پايلو سره توپير لري. په يو نبات کې د ښاخونو شمېر په ۵٠ کېلوګرام تخم کې کم او د ښاخونو لوړه

شمېر ۱,۹۷ پر نبات په ۳۰ کېلوګرام تخم پر هکتار لیدل شوي (Mondal *et al.*, 2012). صديق په (۲۰۰۶) او مياه او ملګرو په (۲۰۰۹) کې وايي، چې د څانګو د شمېر تر منځ توپير شايد د جنيتيکي څانګړنو له امله وي. د مۍ نبات د څانګو لوړ شمېر ۳,۳ په ۴۰×۱۰ سانتي متره فاصله کې ثبت شوی، همدارنګه له څېړنو څرګند شوې، چې فنوټایپیک تغير (د شاخونو شمېر پر نبات) د لوړ جنتيکی تغيير په سبب رامنځ ته کېږي، کوم چې دواړه د چاپيريالي عواملو او ساحې په واسطه اغېزمن کېږي (Kumar *et al.*, 2007). د مۍ په يو نبات کې د څانګو په شمېر کې توپير د ګڼوالي په مختلفو کچو کې موندل شوی، د ښاخونو لوړ شمېر پر نبات ۴,۵۳ په (۲۰*۲۵) سانتي متر مربع کې ثبت شوی او د احصايوي تحليل له مخې د (۲۵ x ۱۵) سانتي متر مربع ساحې له توليد شويو څانګو ۳,۸۹ سره ورته او کمې څانګې ۲,۳۸په (۲۵ x ۵) سانتي متر مربع کې توليد شوي دي. د مۍ نبات د څانګو شمېر په کم ګڼوالي کې ډېر شوی، شايد د نبات د ډېر سريع نمو، تغذيې، اوبو او رڼا له امله وي. اوسنی څېړنې پايله د (Roy *et al.*, 2023) و (Sekhon *et al.*, 2023) راپور سره ورته والی لري.




۲- شکل: د مۍ نبات څانګو په شمېر د تخم د بېلابېلو اندازو (کيلو ګرام په هکتار) او فاصلو (په سانتي متر) اغېزې څرګندوي.

۲ - جدول: د مۍ نبات د څانګو په شمېر د تخم د بېلابېلو اندازو او د مختلفو فاصلو متقابلې اغېزې.

| د تخم اندازه کېلوګرام پر هکتار | د قطارونو تر منځ فاصله | | |
|---|---|---|---|
| | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ |
| ۱۵ | ۴.۳ | ۴.۷ | ۴.۲ |
| ۲۰ | ٦.۴ | ۳,٦ | ۳,۹ |
| ۲۵ | ۳,۷ | ۳,۳ | ۳,۷ |
| SEm (±) ۰,۵ | | | |
| CD P = (۰,۰۵) ۱,۵۲ | | | |

**د پاڼې ساحه پر نبات (Leaf area plant-1)**

د تخم مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ د فاصلو اغېزې د مې نبات د پاڼې ساحه پر نبات په لوړه کچه د پام وړ دي (۳ - شکل). د پاڼې د ساحې تر ټولو لوړه اندازه ۱۳۷,۸۹ سانتي متر مربع پر نبات له ۱۵ کېلوگرام تخم په هکتار د ۳۰ سانتي متر په قطاري واټن، ورپسې ۱۳٦,۲۲ سانتي متر مربع پر نبات ترلاسه شوې، چې د احصائیوي تحلیل پر بنسټ د ۲۰ کېلوگرام تخم پر هکتار د ۲۰ سانتي متر قطاري فاصلې او د ۲۵ کېلوگرام تخم پر هکتار د ۲۰ سانتي متر قطاري فاصلې له ترېټمنټونو پرته د نورو ټولو ترېټمنټونو سره توپير نه لري او د پاڼې د ساحې تر ټولو کمه اندازه ۹۴,۳۷ سانتي متر مربع پر نبات د ۲۰ کېلوگرام تخم پر هکتار له ۲۰ سانتي متره قطاري فاصلو، ورپسې ۱۱۱,۳۳ سانتي متره د ۲۵ کېلوگرام تخم پر هکتار د ۲۰ سانتي متره قطاري فاصلو څخه حاصل شوې ده، چې د احصائیوي تحلیل له مخې دواړه سره مشابه دي. د تخم د بېلابېلو اندازو او د قطارونو تر منځ فاصلې د متقابلو اغېزو له مخې د پام وړ توپير لري (۳ - جدول). د پاڼې د ساحې تر ټولو لوړه اندازه ۱۳٦,۲۸ سانتي متر مربع پر نبات د ۱۵ کېلوگرام تخم پر هکتار له ترېټمنټ څخه ترلاسه شوی دی چې له دواړو نورو ترېټمنټونو سره د پام وړ توپير لري، خو د تخم ۲۵ کېلوگرام پر هکتار او ۲۰ کېلوگرام پر هکتار ترېټمنټونه خپلو کې سره ورته دي. د مې نبات د پاڼې په اندازو د قطارونو تر منځ فاصلو په لوړ کچه اغېزې کړې دي، چې تر ټولو لوړه اندازه یې ۱۳۴,۲۰ سانتي متر مربع په نبات، ورپسې ۱۳۰,۸۴ سانتي متر مربع پر نبات په ترتیب سره له ۳۰ سانتي متر فاصلې او ۴۰ سانتي متر فاصلې ترلاسه شوی، کوم چې د احصائیې له مخې دواړه سره ورته او د ۲۰ سانتي متر قطاري واټن ترېټمنټ سره د پام وړ توپير لري. د (۸ - جدول) د پاڼو د ساحې شاخص د نبات د ودې په مرحله کې د اشغال شوې ساحې او د نبات د پاڼو د ساحې د تناسب په واسطه منعکس کېږي. دا د نبات د ودې او پراختیا لپاره مهم شاخصونه دي، ځکه د ضیایي ترکیب عملیه په مستقیم ډول د پاڼو له ساحې سره تړاو لري. د حاصل په مرحله کې د مختلفو ورایټیو د پاڼو د ساحې شاخص له ۲,۱۱ څخه ۳,۵۸ ته تغییر کړی، د پاڼی د ساحې اعظمي شاخص ۳,٦ په (ماش-۲۰۰۸) او (کندوزی) ورایټیو څخه او ترټولو ټیټ د پاڼو د ساحې شاخص ۲,۱۱ تولید کړي دي ( Ibrahimi *et al.*, 2017) او (Mondal *et al.*, 2011). د ورایټیو د نمو په ټولو پړاوونو کې د پاڼې د سطحې زیاتوالي توپير د پام وړ ؤ. په یو نبات کې د پاڼو زیات شمېر، د پاڼو او ښاخونو پراخېدل د پاڼې د ساحې د لوړوالي سبب کېږي، د نوعې ترڅنګ د پراخې ساحې او د تخم له مقدار سره مستقیم تړاو لري. د نباتاتو ګڼوالی هم د نبات د پاڼې د ساحې په شاخص کې یو مهم ټاکونکی عامل دی، د مې نبات د پاڼو زیات وسعت او پراخېدلو لپاره د فاصلې شتون اړین او ارزښتمن عامل دی او د ۳۰ سانتي مترو په فاصله او ۱۵ ګیلوګرام تخم په مقدار کې د پاڼو د ساحې لوړ اندزه ترلاسه شوې، چې دا پایلې د سنګ او د هغوی د ملګرو (2011) له موندنو سره ورته دي. د پاڼې د ساحې د شاخص لوړ قیمت ۴,۲ له ۵۰ کېلوگرام تخم پر هکتار کې او ټیټ قیمت ۳,۱٦ په ۳۰ کېلوگرام تخم پر هکتار کې ثبت شوي دي (Mondal *et al.*, 2012).




۳- شکل: د مې نبات د پاڼو ساحه په نبات په سانتي متر مربع د تخم د مختلفو اندازو (کيلو ګرام په هکتار) او قطاري واټن (په سانتي متر) اغېزې روښانه کوي.

۳- جدول: د مې نبات د پاڼي په ساحه / نبات / سانتي متر مربع د تخم د بېلابېلو اندازو (کيلو ګرام په هکتار) او د مختلفو فاصلو (په سانتي متر) متقابلې اغېزې.

| د تخم اندازه په کېلوګرام | د قطارونو تر منځ فاصله په سانتي متر | | |
|---|---|---|---|
| | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ |
| ۱۵ | ۱۳۴,۷۳ | ۱۳۷,۸۹ | ۱۳٦,۲۲ |
| ۲۰ | ۹۴,۳۷ | ۱۳۲,۷۷ | ۱۳۵,٦۰ |
| ۲۵ | ۱۱۱,۳۳ | ۱۳۱,۹٦ | ۱۲۰,۷۰ |
| Sem (±) | ٦,۴٦ | | |
| CD P = (۰,۰۵) | ۱۹,۳۸ | | |

## مجموعي وچه ماده پر نبات (Total dry matter plant-1)

له تجربې څخه ترلاسه شوي معلومات ښيي، چې د تخم مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ مختلفو فاصلو د يو نبات په مجموعي وچ وزن په لوړه کچه د پام وړ اغېزې کړې دي (۸- جدول) او (۴- شکل). د ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او د ۳۰ سانتي متر په لرېوالي د۲۰ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۴۰ سانتي متر په لرېوالي او ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۴۰ سانتي متر په لرېوالي له ترېتمنټونو څخه د يو نبات مجموعي وچ وزن په ترتيب سره: ۲۰,۲۴؛ ۱۷,۴٦؛ او ۱۷,۳۱ ګرام تر لاسه شوی دی، چې د احصائيله نظره په خپلو کې سره ورته او نورو ټولو ترېتمنټونو سره د پام وړ توپير لري. د ۲۰ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متر په لرېوالي ترېتمنټ تر ټولو کم د يو نبات مجموعي وچ وزن ۱۱,۹۲ ګرام توليد کړی دی، چې د ۲۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متر په لرېوالي ترېتمنټ ۱۵,٦۹ ګرام پرته له پاتې نورو سره د احصائيوي تحليل پر بنسټ ورته دی. د تخم مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ لرېوالي ګډې اغېزې د يو نبات په مجموعي وچ وزن په لوړه کچه اغېز کړی دی (۴- جدول). د يونبات وچ وزن ۱۷,۱۲ ګرام د ۱۵ کېلوګرام تخم پر

هکتار توليد کړی، چې د دواړو نورو ترېتمنتونو سره په لوړه کچه د پام وړ توپير لري او د يو نبات کم مجموعي وچ وزن ۱۴,۱۹ له ۲۰ کېلوګرام تخم پر هکتار توليد شوی او د ۱۴,۵۸ ګرام سره، چې له ۲۵ کېلوګرام تخم پر هکتار څخه توليد شوی، ورته دی. د يونبات وچ وزن ۱۶,۳۸ ګرام د ۴۰ سانتي متر په لريوالي کرل شوي ترېتمنټ څخه ترلاسه شوی، چې د ۳۰ سانتي متر په لرېوالي کرل شوي ترېتمنټ سره ورته او د ۲۰ سانتي متر په لريوالي کرل شوي ترېتمنټ سره د پام وړ توپير لري. د ټولي وچي مادي وزن د ريښې، ساقې، پاڼې او پلېيو د وچ وزن تشکيلوي. تر مينځلو او په لمر کې تر وچولو وروسته، دا نمونې د ۲۴ ساعتونو لپاره په ۶۵ ± ۲ °C کې وچې شوې او وزنونه يې جلا ثبت شوي. د تخم د مختلفو اندازو د استعمال اغيزې د نباتاتو په ګڼوالي کې د توپير ساتلو په موخه خورا روښانه وې، تر ۵۰ کېلوګرام پر هکتار سره د تخم د اندازې په زياتوالي په يو نبات کې د ټول وچ وزن اندازه کمه شوې؛ د يو نبات ټول وچ وزن ۲۱,۷۷ ګرام په ۳۰ کېلوګرام تخم پر هکتار کې ليدل شوې، د احصائيي له مخې د ۴۰ کېلوګرامه تخم پر هکتار سره ورته وو او تر ټولو ټيټ وچ وزن په ۵۰ کېلوګرام تخم پر هکتار کې ثبت شوی دی (Mondal *et al.*, 2012). د مۍ نبات د وچې مادې تر ټولو لوړ وزن پر نبات د ۳۰ × ۱۰ سانتي مترمربع کې توليد شوی، کوم چې د ۴۰ × ۳۰ سانتي مترمربع سره ورته دی او کم وچ وزن پر نبات د ۲۰ × ۲۰ سانتي متر مربع کې توليد شوی (Kabir and Sarkar, 2008).

۴ - جدول: د مۍ نبات يو نبات په مجموعي وزن (په ګرام) د تخم د بېلابېلو اندازو (کيلو ګرام په هکتار) او د مختلفو فاصلو (په سانتي متر) متقابلي اغېزې.

| د تخم اندازه کېلوګرام پر هکتار | د قطارونو تر منځ فاصله په سانتي متر | | |
|---|---|---|---|
| | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ |
| ۱۵ | ۱۳,۸۰ | ۲۰,۲۴ | ۱۷,۳۱ |
| ۲۰ | ۱۱,۹۲ | ۱۳,۱۹ | ۱۷,۴۶ |
| ۲۵ | ۱۵,۶۹ | ۱۳,۶۷ | ۱۴,۳۸ |
| Sem (±) | ۱,۲۱ | | |
| CD P = (۰,۰۵) | ۳,۶۳ | | |




۴ - شکل: د مۍ نبات وچ وزن پر نبات د تخم د مختلفو اندازو (کيلو ګرام په هکتار) او فاصلو (سانتي متر) اغېزې ښکاره کوي.

### په ريښه کې د غوټو شمېر پر نبات (Root nodule number plant-1)

د تخم بيلابيلو اندازو او د قطارونو تر منځ مختلفو فاصلو د مۍ نبات په ريښو کې د ناجيولونو (Nodules) په شمېر د پام وړ اغېزې کړې دي (۵ - شکل). د غوټو لوړ شمېر ۵،۹ په ۲۰ کېلوګرام تخم پر هکتار او د ۲۰ سانتي متر په لريوالي او ورپسې ۵،۴ د ۲۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۴۰ سانتي متر په فاصله کرل شوو ترېټمنټونو کې توليد شوی دی، چې د احصائيوي تحليل په بنسټ د ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او د ۴۰ سانتي متر په لرېوالي، د ۲۰ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۳۰ سانتي متر په فاصله کرل شويو ترېټمنټونو سره ورته دي. د غوټو کم شمېر ۴،۳ له ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او د ۳۰ سانتي متر په لرېوالي او ورپسې (۴،۶) د ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او د ۲۰ سانتي متر په فاصله کرل شوو ترېټمنټو کې توليد شوی دی، چې د احصائيوي تحليل پر بنسټ د پاتې ترېټمنټونو سره ورته دی. د ريښو د غوټو په شمېر د تخم د بېلابېلو اندازو او د قطارونو تر منځ د فاصلو متقابلې اغېزې هم د پام وړ دي، (۵ - جدول). د تخم مختلفو اندازو اغېزې او د قطاري واټن توپير په ريښو کې د غوټو په شمېر د پام وړ اغېزې نه لري (۸ - جدول). د نباتي تراکم له امله په يو نبات کې د غوټو شمېر د احصائيې له پلوه د پام وړ توپير لري، په يو نبات کې د غوټو لوړه شمېر ۱۶،۶۳ په کم ګڼوالي (۲۵ x ۲۰) او تر ټولو ټيټ شمېر ۶،۸۴ له زيات ګڼوالي (۵ x ۲۵) تر لاسه کړي دي؛ په عمومي توګه د غوټو شمېر پر نبات په کم ګڼوالي کې ډېر شوی، شايد د نبات د ډېر ځای، تغذيې، هوا او اوبو شتون له امله وي (Roy *et al.*, 2023). د تخم د زياتوالي او فاصلې د پراخوالي له نظره د دې څېړنې له پايلې سره ورته دي مګر د غوټو د شمېر کموالی وجه په څېړنيزه ساحه کې د مۍ نوې کرنه ګڼل کيږي.




۵ - شکل: د مۍ نبات په رېښو کې د غوټو د تخم د مختلفو اندازو (کيلو ګرام په هکتار) او فاصلو (په سانتي متر) اغېزې روښانه کوي.

۵ - جدول: د مې نبات يو نبات د ريښو د غوټو په شمېر د تخم د بېلابېلو اندازو (کيلو گرام په هکتار) او د مختلفو فاصلو (په سانتي متر) متقابلې اغېزې

| د تخم اندازه کېلوگرام په هکتار | د قطارونو تر منځ فاصله | | |
|---|---|---|---|
| | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ |
| ۱۵ | ۴,٦ | ۴.۳ | ۵,۳ |
| ۲۰ | ۵,۹ | ۵,۲ | ۴.٦ |
| ۲۵ | ۴.۸ | ۴.۹ | ۵.۴ |

SEm (±) ۰,۳
CD P = (۰,۰۵) ۰,۹۲

## د ريښې اوږدوالی په سانتي متر (Root length $cm^{-1}$)

د تخم مختلفو اندازو اغېزې د ريښو په اوږدوالي په لوړه کچه د پام وړ دي او د قطاري واټن توپير د ريښو په اوږدوالي د پام وړ توپير لري، (۸ - جدول). د تخم مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ بېلابېلو فاصلو د مې نبات د ريښو اوږدوالی په لوړه کچه اغېزمن کړی دی (٦ - شکل).

د ريښو زيات اوږدوالی ۲۲ سانتي متر د ۱۵ کېلوگرام تخم پر هکتار او د ۳۰ سانتي متر په لرېوالي او دوهم ۲۱,۲ سانتي متر د ۱۵ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متر په فاصله له کرل شوو ترېټمنټونو ترلاسه شوی، چې د احصائيوي تحليل پر بنسټ د ۲۵ کېلوگرام تخم په هکتار او د ۴۰ سانتي متر په لرېوالي او د ۲۵ کېلوگرام تخم په هکتار او د ۳۰ سانتي متر په لرېوالي کرل شوو ترېټمنټونو پرته له نورو ټولو ترېټمنټونو سره ورته دي. د تخم د بېلابېلو اندازو او د قطارو تر منځ د فاصلو لريوالي متقابلې اغېزو له نظره د ريښو اوږدوالی د پام وړ دی (٦ - جدول).

د ۱۵ کېلوگرام تخم پر هکتار د ريښو زيات اوږدوالی ۲۰,۹ سانتي متر، چې د ۲۰ کېلوگرام پر هکتار تخم څخه د ريښو ترلاسه شوي ۱۹,۷ سانتي متر اوږدوالي سره ورته او د ۲۵ کېلوگرام تخم پر هکتار ترلاسه شوي اوږدوالي ۱۵,۷ سانتي متر سره په لوړه کچه د پام وړ توپير لري.

د ريښو زيات اوږدوالی ١٦,۵۰ په کم ګڼوالي (۲۵ x ۲۰) د ريښو لږ اوږدوالی ۱۰,۸۱ په ډېر ګڼوالي (۲۵ x ۵) کې ترلاسه شوی او د ريښو اوږدوالی د نفوس د زياتوالي سره کم شوی(Roy *et al.*, 2023). د دې څېړنې پايلې د راپور شوو پايلو سره ورته دي مگر په ريښو کې زيات اوږدوالی د ځمکې کمزوری غذايي حالت او د خاورې نرموالی ګڼل کيږي.




٦ - شکل: د مې نبات د ریښو په اوږدوالی د تخم د مختلفو اندازو (کیلو گرام په هکتار) او فاصلو (سانتي متر) اغېزې روښانه کوي.

٦ - جدول: د مې نبات د ریښو په اوږدوالي د تخم د بېلابېلو اندازو (کیلو گرام په هکتار) او د مختلفو فاصلو (په سانتي متر) متقابلې اغېزې

| د تخم اندازه په کېلوګرام | د قطارونو تر منځ فاصله په سانتي متر ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ |
|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۲۱,۲۲ | ۲۲,۰۰ | ۱۹,۵۰ |
| ۲۰ | ۱۹,۰۰ | ۱۹,٦۰ | ۲۰.۴۴ |
| ۲۵ | ۱۹,۱۷ | ١٦,۳۷ | ۱۱,٦۷ |
| Sem (±) | ۱,۱۸ | | |
| CD P = (۰,۰۵) | ۳,۵۵ | | |

## د نبات د نمو اندازه (Crop growth rate)

د تخم بېلابېلو اندازو او د قطارو تر منځ فاصلو د مې نبات د نمو په اندازه په یوه ورځ کې په ګرام سره د پام وړ اغېزې کړې دي (۷ - شکل). د مې نبات په یوه ورځ کې ۰,۷۴۵ ګرامه نمو کړی، چې له ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۳۰ سانتي متر په لرېوالي ترېتمنټ ترلاسه شوی، چې له نورو ټولو ترېتمنټونه سره په لوړه کچه توپیر لري. د ورپسې نمو زیاته اندازه ۰,۴۱۲ ګرامه په یوه ورځ کې د ۲۰ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متر په لرېوالي ترېتمنټ نه ترلاسه شوی، چې له نورو ټولو ترېتمنټونه سره پرته له ۱۵ کېلوګرام تخم په هکتار او ۴۰ سانتي متر په لرېوالي ترېتمنټ، چې ډېره لږه ۰,۲۸۴ ګرامه نمو لري مشابه وده کړې ده. د ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار ترېتمنټ په یوه ورځ کې تر ټولو ډېره وده ۰,۴۷۰ ګرام کړې ده، چې د ۲۰ کېلوګرام تخم پر هکتار د یوې ورځې وده ۰,۳۹۰ ګرام سره ورته او د ۲۵ کېلوګرام تخم پر هکتار ترېتمنټ د یوې ورځې نمو ۰,۳۴۱ ګرام سره د پام وړ توپیر لري. د مې نبات د تخم بېلابېلو اندازو او په مختلفو فاصلو د

ترېتمنتونو کېږي اغېزې د مې نبات په وده/ نمو په يوه ورخ کې ډېر د پام وړ دي (٧او ٨ - جدول). د مې نبات د ودې کچه په يوه ورخ په ټولو ډولونو کې د کرنې څخه له ٣٠ تر ٦٠ ورځو وروسته او له ٦٠ تر ٩٠ ورځو وروسته د پام وړ توپير درلود. له ٣٠ تر ٦٠ ورځو وروسته په يوه ورخ کې د نمو تر ټولو لوړه کچه د (Mai-2008) ورپسې (Mash-2008) او (Kunduzy) نوعو درلوده، په داسې حال کې، چې له کرنې وروسته له ٦٠ تر ٩٠ ورځو وروسته NM-98 په يوه ورخ کې د نمو لوړ اندازه ترلاسه کړې وه ( Noorzai *et al.*, 2017). تر ٥٠ کېلوګرام پر هکتار سره د تخم د اندازې په زياتوالي سره په يو نبات کې د نسبي ودې اندازه او د تخمونو د زياتوالي سره سره کمه شوې (Mondal *et al.*, 2012).




٧ - شکل: په يو ورځ کې د مې نبات د نمو په اندازه د تخم د مختلفو اندازو (کیلو ګرام پرهکتار) او فاصلو (په سانتي متر) اغېزو څرګندونه کوي.

٧- جدول: د مې نبات د نمو په اندازه په ورځ په ګرام د تخم د بېلابېلو اندازو (کیلو ګرام په هکتار) او د مختلفو فاصلو (په سانتي متر) متقابلې اغېزې

| د تخم اندازې کېلوګرام په هکتار | د قطارونو تر منځ فاصلې په سانتي متر ٢٠ | ٣٠ | ٤٠ |
|---|---|---|---|
| ١۵ | ٠,٣٨١ | ٠,٧۴۵ | ٠,٢٨۴ |
| ٢٠ | ٠.۴١٢ | ٠,٣٨٦ | ٠,٣٧٣ |
| ٢۵ | ٠,٣٨٣ | ٠,٣٢٨ | ٠,٣١٢ |
| SEd (±) | ٠,٠۵٩ | | |
| CD P = (٠,٠۵) | ٠,١٧٦ | | |

۸ - جدول: د مې نبات په لوړوالي، د لومړنيو څانگو په شمېر، د پاڼې په ساحه، په وچ وزن، د نمو په اندازه، د نبات په ريښو کې د غوټو په شمېر او د ريښو په اوږدوالي د تخم بېلابېلو اندازو او قطارې واټن اغېزې

| د مې نبات د ريښو اوږدوالی/ سانتي متر | د نبات په ريښو کې د غوټو شمېر | د نمو اندازه پر ورځ پر گرام | وچ وزن په گرام پر نبات | د پاڼې ساحه پر نبات پرسانتي متر | د لومړنيو څانگو شمېر پر نبات | د نبات لوړوالی په سانتي متر | د تخم اندازه کېلوگرام په هکتار |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰,۱۹ | ۴.۷ | ۰,۴۷۰ | ۱۷,۱۲ | ۱۳٦,۲۸ | ۴,۴ | ۲۱,٦۴ | ۱۵ |
| ۱۹,٦۸ | ۵,۳ | ۰,۳۹۰ | ۱۴,۱۹ | ۱۲۰,۹۱ | ۴,٦ | ۱۸,۹۸ | ۲۰ |
| ۱۵,۷۳ | ۵,۰ | ۰,۳۴۱ | ۱۴,۵۸ | ۱۲۱,۳۳ | ۳,٦ | ۲۱,۰۵ | ۲۵ |
| ۱,۱۸ | ۰,۵۳ | ۰,۰۵۹ | ۱,۲۱ | ٦,۴٦ | ۰,۸۸ | ۱,۵٦ | SEm (±) |
| ۲,۰۵ | NS | ۰,۱۰۲ | ۲,۱ | ۱۱,۱۹ | NS | NS | CD P= (۰,۰۵) |
| د مې نبات د ريښو اوږدوالی په سانتي متر | د نبات په ريښو کې د غوټو شمېر | د نمو اندازه پر ورځ کې پر گرام | وچ وزن په گرام پر نبات | د پاڼې ساحه پر نبات پرسانتي متر | د لومړنيو څانگو شمېر پر نبات | د نبات لوړوالی / سانتي متر | د قطارونو تر منځ فاصله په سانتي متر |
| ۱۹,۷۹ | ۵,۱ | ۰,۳۹۲ | ۱۳,۸۰ | ۱۱۳,۴۸ | ۴,۸ | ۲۰,۲۴ | ۲۰ |
| ۱۹,۳۲ | ۴,۸ | ۰,۴۸٦ | ۱۵,۷۰ | ۱۳۴,۲۰ | ۳,۹ | ۲۰,۹۳ | ۳۰ |
| ۱۷,۲۰ | ۵,۱ | ۰,۳۲۳ | ۱٦,۳۸ | ۱۳۰,۸۴ | ۳,۹ | ۲۰,۵۰ | ۴۰ |
| ۱,۱۸ | ۰,۵۳ | ۰,۰۵۹ | ۱,۲۱ | ٦,۴٦ | ۰,۸۸ | ۱,۵٦ | SEm (±) |
| ۲,۰۵ | NS | ۰,۱۰۲ | ۲,۱ | ۱۱,۱۹ | NS | NS | CDP = (۰,۰۵) |

## د پيلو شمر پر نبات (Number of pods plant$^{-1}$)

د مې نبات د پليو شمېر په يو نبات کې د تخم د مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ د متفاوتو فاصلو په واسطه په لوړه کچه اغېزمن شوی دی ( ۸- شکل). د ۱۵ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۳۰ سانتي متر په لرېوالي ترېتمنټ څخه لوړ شمېر پلي ۱۹,۴ توليد شوي دي، چې له نورو ټولو سره د پام وړ توپير لري، ورپسې دوهم لوړ شمېر پلې ۱۳,۷ د ۲۰ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متر په لرېوالي ترېتمنټ کې توليد شوي دي چې د ۲۰ کېلوگرام تخم پر هکتار او د ۳۰ سانتي متر په لرېوالي او د ۲۵ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۴۰ سانتي متر په لرېوالي ترېتمنټونو پرته له نورو ټولو ترېتمنټونو سره ورته دی. کم شمېر پلي ۷,۹ ورپسې ۸,۷ پلي په ترتيب سره د ۲۵ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۴۰ سانتي متر په لرېوالي او د ۲۰ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۳۰ سانتي متر په لرېوالي ترېتمنټونوڅخه ترلاسه شوي دي، چې د ۱۵ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۳۰ سانتي متر

په لرېوالي او همدارنګه د ۲۰ کېلوګرام تخم پر هکتار او د ۲۰ سانتي متر په لرېوالي ترېتمنتونو پرته له نورو ټولو ترېتمنتونو سره د احصائيوي توپير له نظره ورته دي. د قطارونو تر منځ د بېلابېلو فاصلو په وجه په ميو کې د يو نبات د پليو شمېر د پام وړ توپير نه لري، مګر د تخم د بېلابېلو اندازو په وجه د پليو شمېر په يو نبات کې په لوړه کچه د پام وړ توپير لري (۱۶ - جدول)، د ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار له کرنې څخه لوړ شمېر پلي ۱۴٫۹ چې د دواړو ۲۰ او ۲۵ کېلوګرام تخم پر هکتارسره د پام وړ توپير لري او د ۲۵ کېلوګرام تخم پر هکتار څخه کم شمېر پلي ۹٫۹ ترلاسه شوي. د تخم مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ بېلابېلو فاصلو ګډ اغېز د مې نبات د پيلو په شمېر په لوړه کچه د پام وړ اغېزې کړې دي (۹ - جدول). د تخم مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ بېلابېلو فاصلو ګډې اغېزې د مې نبات د پيلو په شمېر په لوړه کچه د پام وړ دي او د دې څېړنې پايلې د راپور شوو څېړنو له پايلو سره ورته دي. د مې نبات د پليو د شمېر تفاوت پر نبات په بېلابېلو ډولونو د پام وړ و، په (Mash-2008) نوع د پيلو لوړ شمېر ۲۵٫۸ پر نبات ثبت شوی دی په داسې حال کې چې په کندوزی نوعه کې د پليو کم شمېر ۱۶٫۹ پر نبات ثبت شوی دی (Noorzai *et al*., 2017). د مې نبات په يو نبات کې د پليو لوړ شمېر ۱۹٫۷۰ د ۱۰ کېلوګرام تخم پر هکتار کرل شوي مقدار او د پليو کم شمېر ۱۱٫۴۰ پلي د ۴۰ کېلوګرام تخم پر هکتار کرل شوي مقدار ترلاسه شوي دي (Taj *et al*., 2003). په يو نبات کې د پليو اعظمي شمېر ۱۲٫۴۹ او ۱۱٫۸۲ په زياته لرېوالي (۲۵ x ۲۰) او (۲۰ x ۱۰) سانتي متر، د پليو کم شمېر ۷٫۸۶ په لږ ليرې والي (۲۵ x ۵) سانتي متر کې توليد شوي. د دې څېړنو او د راپور شوو څېړنو پايلې سره ورته دي، په يو نبات کې د پليو شمېر د نباتاتو د تراکم په زياتوالي سره کم شوی. د تخم د اندازې زياتوالي په تدريجي ډول په هر نبات کې د پليو شمېر کم شوی دی او په مناسب کېوالي کرل شويو ترېتمنتونو کې د پليو د لوړ توليد سببونه د کافي فاصلې يا ځای، اوبه، رڼا، او د غذايي موادو شتون ګڼل شوي دي (Roy *et al*., 2023).




۸ - شکل: د مې نبات د پيلو کموالی او زياتوالي د تخم د مختلفو اندازو (کيلو ګرام په هکتار) او فاصلو (په سانتي متر) اغېزو څرګندونه کوي.

۹ - جدول: د میو په یو نبات کې د پیلو په شمېر د تخم د بېلابېلو اندازو (کیلو ګرام په هکتار) او د مختلفو فاصلو (سانتي متر) متقابلې اغېزې

| د تخم بیلابېلې اندازې په هکتار | د قطارونو تر منځ فاصلې په سانتي متر | | |
|---|---|---|---|
| | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ |
| ۱۵ | ۱۲،۳ | ۱۹،۴ | ۱۲،۸ |
| ۲۰ | ۱۳،۷ | ۸،۷ | ۱۳،۱ |
| ۲۵ | ۱۰،۳ | ۱۱،۵ | ۷،۹ |

SEm (±) ۱،۴۵

CD P= (۰۰۵) ۴،۳۵

## د پلي اوږدوالی پر سانتي متر (Pod length $cm^{-1}$)

د تخم د مختلفو اندازو او بېلابېلو فاصلو په واسطه د مې نبات د پلي اوږدوالی په سانتي متر سره په لوړه کچه اغېزمن شوی دی (۹ - شکل). د مې نبات د پلیو زیات اوږدوالی ۱۱،۸ سانتي متر د ۱۵ کېلوګرام تخم په هکتار او ۳۰ سانتي متر په لرېوالي کرل شوي ترېتمنټ کې تولید شوی دی، چې د احصائیوي تحلیل پر بنسټ له نورو ټولو ترېتمنټونو سره په لوړه کچه د پام وړ توپیر لري، ورپسې د ۲۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او د ۳۰ سانتي متر په لرېوالي کرل شوي ترېتمنټ څخه ۹،۴ سانتي متر د پلیو اوږدوالی ترلاسه شوی دی، چې د ۲۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متر په لرېوالي کرل شوي ترېتمنټ کې تولید شوي د پلیو کم اوږدوالی ۸،۳ سانتي متر او نورو ټولو ترېتمنټونو سره ورته دی. د تخم مختلفو اندازو او همدارنګه د قطارونو تر منځ فاصلو د مې نبات د پیلو په اوږدوالي د پام وړ اغېزه کړې ده، د دوی ګډ تاثیرات هم د مې نبات د پلي په اوږدوالي د پام وړ دي (۱۰ او ۱٦ - جدول). د دې څېړنې برعکس د پلي اوږدوالی د نباتي واټن په واسطه بې اغېزې پاتې دی، خو د پلي زیات اوږدوالی د ۴۰ × ۱۰ سانتي مترو په واټن راپور شوی دی (Ibrahimi *et al.*, 2017). د میو NM-98 نوعې وروسته له NM-9۴ نوعې په سانتي متر د پام وړ اوږده پلي ترلاسه شوي دي، چې له احصائیوي پلوه یوشان وو مګر د کندوزی ورایټی د پلیو د کم اوږدوالي راپور ورکړل شوی (Noorzai *et al.*, 2017). د مې نبات د پلي په اوږدوالي کې تفاوت د ضیایي ترکیب په عملیه کې د انرژۍ د چټک لیږد او د ضیایي ترکیب د موثریت د زیاتوالي یا هم د مې ډولونو تر منځ د فینوټایپیک (Phenotypic) توپیرونو او چاپیریالي اغېزو او فاصلې ګټوالي له امله وي، (Begum *et al.*, 2012).

۱۰ - جدول: د مې نبات د پیلو په اوږوالي د تخم د بېلابېلو اندازو (کیلو ګرام په هکتار) او د مختلفو فاصلو (په سانتي متر) متقابلې اغېزې

| د تخم اندازه په کېلوګرام | د قطارونو تر منځ فاصله په سانتي متتر | | |
|---|---|---|---|
| | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ |
| ۱۵ | ۹،۰ | ۱۱،۸ | ۸،۷ |
| ۲۰ | ۸،۴ | ۸،٦ | ۹،۰ |
| ۲۵ | ۸،۳ | ۹،۴ | ۸،۸ |

Sem (±) ۰،۵۳

CD P = (۰،۰۵) ۱،٦




۹ - شکل: د مې نبات د پيلو د اوږدوالي په کموالي او زياتوالي د تخم د مختلفو اندازو (کيلو ګرام په هکتار) او فاصلو (په سانتي متر) اغېزې بيانوي.

### د دانو شمېر پر پلي (Number of seeds pods-1)

د مې نبات په پلي کې د دانو په شمېر د تخم د مختلفو اندازو او بېلابېلو فاصلو د پام وړ اغېز کړې ده (۱۰ - شکل). د مې نبات په پليو کې د دانو لوړ شمېر ۱۳,۵ په ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او د ۳۰ سانتي متر په لرېوالي کرل شوي ترېټمنټ کې توليد شوی دی، چې د احصائيوي تحليل پر بنسټ له نورو ټولو ترېټمنټونو سره د پام وړ توپير لري، ورپسې د دانو لوړ شمېر په ۲۰ کېلوګرام تخم په هکتار او ۴۰ سانتي متر په لرېوالي کرل شوي ترېټمنټ کې ۱۰,۳ توليد شوی دی، چې د نورو ټولو ترېټمنټونو سره ورته دی. د تخم مختلفو اندازو د مې نبات په پلي کې د دانو په شمېر د پام وړ اغېز کړی دی، مګر د قطارونو تر منځ فاصلو د مې نبات په پلي کې د دانو په شمېر د احصائيوي تحليل له مخې د پام وړ اغېز نه ده کړې (۱۶- جدول). د تخم د مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ بېلابېلو فاصلو ګډه تاثيرات د مې نبات د دانو په شمېر د پام وړ اغېزه کړې ده (۱۱ - جدول). د يو پلي د دانو اعظمي شمېر ۱۰,۱۴ د ۱۰ کېلوګرام پر هکتار په کرل شوي تخم او په يو پلي کې د دانو لږ شمېر ۶,۶۳ د ۴۰ کېلوګرام پر هکتار کرل شوي تخم نه راپور شوی دي (Taj *et* ۲۰۰۳ *al.*,). د نبات ګنوالی په پلي کې د تخمونو په شمېر د پام وړ اغېزه کړې، په پلي کې د تخمونو تر ټولو لوړ شمېر ۹,۸۰ د (۲۵ x ۲۰) سانتي متر او تر ټولو لږ شمېر ۶,۳۳ د (۲۵x ۵) سانتي متر څخه راپور شوی دی (Roy *et al.*, 2023). په يو پلي کې د دانو شمېر اوسط ارقام د نوعې او د تخم بېلابېلو اندازو په وړاندې د پام وړ توپير نه دی راپور شوی، خو د دانو شمېر په پلي کې په ترتيب سره د ۸,۹۶ ؛ ۸,۹۷ او ۸,۹۲ ؛ ۹ پورې د مې د انواعو او د تخم د مختلفو اندازو له تجربې راپور شوي دي (Ahmad *et al.*, 2004). په يو پلي

کې د تخمونو شمېر په تدريجي ډول د ګڼوالي له زياتوالي سره کم شوی، ځکه دا د ځمکې لاندې او باندې منابعو لپاره د نباتاتو د سختې سيالۍ لامل کېږي.




١٠- شکل: د مې نبات په پيلو کې د دانو شمېر د تخم د مختلفو اندازو ( کيلو ګيرام په هکتار) او فاصلو (په سانتي متر) اغېزو ځرګندونه کوي.

١١ - جدول: د مې نبات په پلي کې د دانو په شمېر د تخم د بېلابېلو اندازو (کيلوګرام په هکتار) او د مختلفو فاصلو (په سانتي متر) متقابلې اغېزې

| د تخم بيلابيلې اندازې په هکتار | د قطارونو تر منځ فاصلې په سانتي متر | | |
|---|---|---|---|
| | ٢٠ | ٣٠ | ٤٠ |
| ١٥ | ٩,٦ | ١٣,٥ | ٩,٦ |
| ٢٠ | ٩,٣ | ٩,٣ | ١٠,٣ |
| ٢٥ | ٩,١ | ٩,٣ | ٩,٠ |
| SEm (±) ١,٣٩ | | | |
| CD P = (٠,٠٥) ٢,٤ | | | |

## د زرو دانو وزن پر ګرام (Test- seeds weight $g^{-1}$)

د مې نبات د زرو دانو په وزن د تخم د بېلابېلو اندازو او فاصلو اغېزې په لوړه کچه د پام وړ دي (١١- شکل). د مې نبات د زرو د دانو لوړ وزن ٥١,٧ ګرامه د ١٥ کېلوګرام تخم پر هکتار او ٣٠ سانتي متر په لرېوالي کرل شوي ترېتمنټ څخه ترلاسه شوی دی، چې د احصائيوي تحليل پر بنسټ له نورو ټولو ترېتمنټونو سره په لوړ کچه د پام وړ توپير لري، ورپسې په ١٥ کېلوګرام تخم پر هکتار او ٤٠ سانتي متر په لرېوالي کرل شوي ترېتمنټ کې د دانو لوړ وزن ٤٢,٧ ګرام توليد شوی دی، چې د احصائيوي توپير له مخې د ٢٥ کېلوګرام تخم پر هکتار او ٢٠ سانتي متر په لرېوالي کرل شوي ترېتمنټ پرته له نورو ټولو ترېتمنټونو سره ورته دي. د زرو دانو لږ وزن ٣٤ ګرامه د ٢٥ کېلوګرام تخم پر هکتار او ٢٠ سانتي متر په لرېوالي کرل شوي ترېتمنټ څخه په لاس راغلی او د دوه پورته ذکر شويو لوړ وزن لرونکو ترېتمنټونو پرته له نورو ټولو

ترېتمنټونو سره ورته دی. د تخم بېلابېلو اندازو او د قطارونو تر منځ فاصلو ځانګړې اغېزې د مې نبات د زرو دانو په وزن په لوړه کچه د پام وړ دي (١٦ - جدول).

د ١٥ کېلوګرام تخم په هکتار ترېتمنټ څخه د زرو دانو لوړ وزن ۴۳,۷ تولید شوی چې د ۲۰ کېلوګرام تخم پر هکتار ترېتمنټ سره د پام وړ توپیر لري، د ۲۰ کېلوګرام تخم په هکتار له ترېتمنټ ترلاسه شوی کم وزن ۳٦,۷ ګرامه د ۲۰ کېلوګرام تخم پر هکتار ترېتمنټ د زرو دانو له وزن ۳۸ ګرامه سره ورته دی.

د تخم د مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ د بېلابېلو فاصلو ګډه تاثیرت د مې نبات د زرو دانو په وزن د پام وړ اغېزه کړې ده (۱۲ - جدول). د نبات ګڼوالي د ۱۰۰۰ دانو وزن اغېزمن کړی او د ۱۰۰۰ دانو تر ټولو لوړ وزن ۵۷,۲۷ ګرامه د (۲۵ x ۲۰) ساتني متر او تر ټولو ټیټ وزن ۳۹,۲۷ په (۲۵ x ۵) سانتي متر کې راپور ورکړل شوی، د ۱۰۰۰ دانو لوړ وزن د ټیټ نباتي تراکم نه ترلاسه شوی (Roy *et al*., 2023). د مې نبات د ۱۰۰۰ دانو وزن د نوعې او د تخم ریز په واسطه د پام وړ اغېزې درلودلو او د BARI Mung-6 څخه د ۱۰۰۰دانو وزن ۳۷,۱۴ ګرام راپور ورکړل شوی دی (Rahman *et al*., 2016). د بل راپور له مخې د مې ۱۰۰۰ دانو وزن د تخم ۳۵,۱۳ ګرامه د ۳۵ کېلوګرام تخم پر هکتار له کرنې ترلاسه شوی او د تخم ریز په ډېرېدلو سره د زرو دانو په وزن کې کموالی راغلی (Taj *et al*., 2003). په رڼګې یا مناسب ګڼوالي د نباتو د پوره غذايي موادو، اوبو او رڼا د شتون په وجه د ضیايي ترکیب فعالیتونه په ګړندي توګه د ترسره کېدلو او د تخم د پخوالي او ډکوالي په موخه د حیاتي فعالیتونو د ښه تر سره کېدلو او تخم د موادو د لېږد لپاره فرصت برابروي.




١١ - شکل: د مې نبات د زرو د دانو په وزن د تخم د مختلفو اندازو (کیلو ګرام پرهکتار) او د قطارونو تر منځ دفاصلو (په شانتي متر) اغېزو څرګندونه کوي

۱۲ - جدول: د مې نبات د زرو دانو په وزن په ګرام سره د تخم د بېلابېلو اندازو (کيلو په هکتار) او د مختلفو فاصلو (په سانتي متر) متقابلې اغېزې

| د تخم اندازه په کېلوګرام | د قطارونو تر منځ فاصله په سانتي متر | | |
|---|---|---|---|
| | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ |
| ۱۵ | ۳٦,۷ | ۵۱,۷ | ۴۲,۷ |
| ۲۰ | ۳۸,۰ | ۳۹,۳ | ۳٦,۷ |
| ۲۵ | ۳۴,۰ | ۳۸,۳ | ۳۷,۷ |

SEm (±) ۲,۰۵
CD P = (۰,۰۵) ٦,۱۴

## د دانې حاصل ټن پر هکتار (Seed yield ton ha[-1])

د مې نبات د دانو په حاصل د تخم د بېلابېلو اندازو او قطاري فاصلو اغېزې د پام وړ دي (۱۲ - شکل). د مې نبات د دانو لوړ حاصل ۲,۹۲۵ ټن پر هکتار د ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۳۰ سانتي متر په قطاري واټن کرل شوي تریټمنټ څخه ترلاسه شوی دی، چې د احصائیوي تحلیل پر بنسټ له نورو ټولو تریټمنټونو سره د پام وړ توپیر لري، ورپسې لوړ حاصل ۲,۳۰۸ ټن پر هکتار له ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۴۰ سانتي متر په قطاري واټن کرل شوي تریټمنټ نه تر لاسه شوی دی، چې د احصائیوي توپیر له مخې د نورو ټولو تریټمنټونو سره ورته دی. د تخم بېلابېلو اندازو او د قطارونو تر منځ فاصلو د ګډو تاثیراتو په نظر کې نیولو پرته د مې نبات د حاصل په اندازه د پام وړ اغېزې نه لري، مګر د تخم د مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ د بېلابېلو فاصلو ګډه تاثیرات د مې نبات د حاصل په اندازه د پام وړ اغېزه کړې ده (۱۳ - جدول). د ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار تریټمنټ څخه د دانو حاصل ۲,۳۸۱ ټن پر هکتار تولید شوی، چې د ۲۰ کېلوګرام تخم پر هکتار تریټمنټ نه ترلاسه شوي حاصل ۲,۱۹۸ ټن پر هکتار سره ورته دی، مګر د ۲۵ کېلوګرام تخم پر هکتار تریټمنټ نه ترلاسه شوي حاصل (۲,۰۹۸) ټن پر هکتار سره د پام وړ توپیر لري، (۱٦- جدول) . د مې نبات د ګڼوالي په واسطه د دانې حاصل خورا اغېزمن شوی دی، د دانې تر ټولو لوړ حاصل ۱۱۲۴ کېلوګرام پر هکتار له (۲۵ x ۱۰) سانتي متر او تر ټولو ټیټ حاصل ٦۰۸ کېلوګرام پر هکتار له (۲۵x ۱۵) سانتي متر ګڼوالي څخه راپور ور کړل شوی دی (Roy *et al.*, 2023). د یوې څېړنې د پایلو په بنسټ د دانې اعظمي حاصلات ۸۰۷,۳۱ د ۳۵ کېلوګرام تخم پر هکتار چې د ۴۰ کیلوګرام پر هکتار نه ترلاسه شوي حاصل ۸۰٦,۵۲ کېلوګرام سره ورته ګڼل کېږي (Rahman *et al.*, 2016). د راپور شوو څېړنو پایلې د دې څېړنې سره متضادې دي په دې څېړنه کې د دانو حاصل لوړ دی ممکن د نباتاتو له پوره غذايي موادو اوبو د آفاتو او امرضو څخه د ساحې پاکوالی او اصلاح شوې ورایټي ترڅنګ د نباتاتو کافې فاصله او مناسب ګڼوالي ګڼل کېږي . د دانې د حاصلاتو زیاتوالی پایله د څانګو او د پلیو لوړ شمېر، په یو نبات کې د پلیو د ډېروالي او د ۱۰۰۰ دانو وزن ته منسوب کېدلی شي، چې د دې لامل په لوړه کچه د ضیایي ترکیب، تنفس، د انرژۍ ذخیره کولو او لیږد، د حجرو وېش او حجرو اوږدوالی ګڼل کېږي (Mondal *et al.*, 2015).




۱۲ - شکل: د مې نبات د داني په حاصل د تخم د مختلفو اندازو (کیلو گرام پرهکتار) او د قطارونو تر منځ د فاصلو (په سانتي متر اغېزې بیانوي.

۱۳ - جدول: د مې نبات د داني حاصل ټن پر هکتار سره د تخم د بېلابېلو اندازو (کیلو گرام په هکتار) او د مختلفو فاصلو (په سانتي متر) متقابلې اغېزې

| د تخم مختلفې اندازې کېلوگرام پر هکتار | د قطارونو تر منځ فاصلې په سانتي متر | | |
|---|---|---|---|
| | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ |
| ۱۵ | ۱,۹۱۰ | ۲,۹۲۵ | ۲,۳۰۸ |
| ۲۰ | ۲,۲۲۷ | ۲,۲۵۸ | ۲,۱۱۰ |
| ۲۵ | ۲,۱۷۳ | ۲,۰۴۵ | ۲,۰۷۷ |
| S.Em (±) ۰,۱۷ | | | |
| CD P = (۰,۰۵) ۰,۵ | | | |

## د وښو حاصل ټن پر هکتار (Straw yield ton ha$^{-1}$)

د مې نبات د وښو په حاصل د تخم بېلابېلو اندازو او قطاري فاصلو اغېزې په لوړ کچه د پام وړ دي، (۱۳ - شکل). د مې نبات د وښو لوړ حاصل ۴,۳۴۹ ټن پر هکتار د ۱۵ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۳۰ سانتي متر په قطاري واټن کرل شوي تربېمنټ څخه ترلاسه شوی دی، چې د احصائيوي تحلیل پر بنسټ د ۲۰ کېلوگرامه تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متر په قطاري واټن کرل شوي تربېمنټ سره يې توپير د پام وړ دی، وروسته د وښو لوړ حاصل ۳,۷۱۵ ټن پر هکتار له ۲۰ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متر په قطاري واټن کرل شوي تربېمنټ کې تر لاسه شوی دی، چې د احصائيوي توپیر له مخې په ترتیب سره د ۱۵ کېلوگرامه تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متر په قطاري واټن او همدارنگه د ۱۵ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۴۰ سانتي متره په قطاري واټن کرل شوي تربېمنټونو څخه تر لاسه شویو وښینو حاصلاتو ۳,۴۱۱ او ۳,۲۲۸ ټن پر هکتار سره ورته دي، مگر د ۲۵ کېلوگرام تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متر په قطاري واټن له تربېمنټ ترلاسه شوي وښين حاصل ۳,۰۷۶ سره يې توپير د پام وړ دی خو د نورو ټولو تربېمنټونو سره په لوړه کچه د پام وړ توپير لري.

د تخم د مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ د بېلابېلو فاصلو ګډه تاثيرات د مې نبات د وښو د حاصل په اندازه په لوړه کچه د پام وړ اغېزه کړې ده، (۱٦ - جدول). د مې نبات د وښو لوړ حاصل ۲۵۰٦،۱۲ کېلوګرام پر هکتار د (Bina Mung -5) ورايټي د ۴۰ کېلوګرامه په هکتار کرل شوي تخم څخه راپور شوی دليل يې د مې نبات ډېر کېوالی ښودل شوی دی(Rahman *et al*., 2016). د 9-NM۴ نوعې د وښو لوړ حاصل ۵،۹۳ ټن پر هکتار او د کندوزی نوعې نه د وښو د کم حاصل راپور ورکړل شوی(Noorzai *et al*., 2017).




۱۳ - شکل: د مې نبات د وښو په حاصل د تخم د مختلفو اندازو (کيلو ګرام په يو هکتار) او د قطارونو تر منځ د فاصلو (په سانتي متر) اغېزې روښانه کوي.

### بيولوژيکي حاصل ټن پر هکتار (Biological yield ton ha$^{-1}$)

د مې نبات په بيولوژيکي حاصل د تخم د مختلفو اندازو او قطاري فاصلو اغېزې په لوړ کچه د پام وړ دي (۱۴ - شکل). د مې نبات بيولوژيکي لوړ حاصل ۷،۲۷۴ ټن پر هکتار د ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۳۰ سانتي متره په قطاري واټن کرل شوي ترېتمنټ څخه ترلاسه شوی دی، چې د احصائيوي تحليل پر بنسټ له نورو ټولو ترېتمنټونو سره په لوړه کچه د پام وړ توپير لري، دوهم لوړ بيولوژيکي حاصل ۵،۹۴۲ ټن پر هکتار د ۲۰ کېلوګرامه تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متره په قطاري واټن کرل شوي ترېتمنټ څخه ترلاسه شوی دی، چې د احصائيوي توپير له مخې په ترتيب سره د ۱۵ کېلوګرام تخم پر هکتار او ۴۰ سانتي متر قطاري واټن، د ۱۵ کېلوګرامه تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متره په قطاري واټن او د ۲۵ کېلوګرامه تخم پر هکتار او ۲۰ سانتي متره قطاري واټن کرل شوي ترېتمنټونو څخه تر لاسه شوو بيولوژيکي حاصلات (۳،۵٦۳، ۵،۳۲۱ او۵،۲۵) ټن پر هکتار سره ورته دی، مګر د ۲۰ کېلوګرامه تخم پر هکتار او ۳۰ سانتي متر په قطاري واټن له ترېتمنټ ترلاسه شوي بيولوژيکي حاصل ۵،۰۱۸ ټن پر هکتار په شمول د نورو ټولو ترېتمنټونو سره د پام وړ توپير لري. د مې نبات د تخم مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ فاصلو د ګډ تاثيراتو په نظر کې نيولو پرته

هر يو د ميو بيولوژيکي حاصل په اندازه په لوړه کچه د پام وړ اغېزې کړې (۱٦ - جدول). د ۱۵ کېلوګرامه تخم پر هکتار تريتمنټ څخه بيولوژيکي لوړ حاصل ٦،۰۴۴ ټن پر هکتار توليد شوی، چې د ۲۰ کېلوګرامه تخم پر هکتار تريتمنټ نه ترلاسه شوی بيولوژيکي حاصل ۵،۳۰۳ ټن پر هکتار سره د پام وړ توپير لري. مګر د تخم د مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ بېلابېلو فاصلو ګډه تاثيرات د مې نبات د بيولوژيکي حاصل په اندازه په لوړه کچه د پام وړ اغېزه کړې ده (۱۴ - جدول).




۱۴- شکل: د مې نبات د وښو په حاصل د تخم د مختلفو اندازو(کيلو ګرام پرهکتار) او د قطارونو تر منځ دفاصلو (په سانتي متر) اغېزې روښانه کوي.

۱۴- جدول: د مې نبات بيولوژيکي حاصل ټن پر هکتار سره د تخم د بېلابېلو اندازو (کيلو ګرام په هکتار) او د مختلفو فاصلو (په سانتي متر متقابلې اغېزې

| د تخم مختلفې اندازې کېلوګرام پر هکتار | د قطارونو تر منځ فاصلې په سانتي متر | | |
|---|---|---|---|
| | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ |
| ۱۵ | ۵،۳۲۱ | ۷،۲۷۴ | ۵،۵۳٦ |
| ۲۰ | ۵،۹۴۲ | ۵،۰۱۸ | ۴،۹۵۰ |
| ۲۵ | ۵،۲۵۰ | ۴،۹۱۷ | ۴،۱۸۸ |
| S.Em (±) ۰۲۴ | | | |
| CD P = (۰،۰۵) ۰،۷۱۹ | | | |

### د حاصل شاخص (Harvest index)

د مې نبات د حاصل په شاخص د تخم د بېلابېلو اندازې او قطاري فاصلې د احصائيوي تحليل پر بنسټ د پام وړ اغېزې نه لري. د مې نبات د حاصل لوړ شاخص ۴۳٪ سلنه د ۲۰ کېلوګرامه تخم پر هکتار او د ۴۰ سانتي متره په قطاري واټن کرل شوي تريتمنټ څخه ترلاسه شوی دی، چې د احصائيوي تحليل پر بنسټ له نورو ټولو تريتمنټونو سره کوم توپير نه لري او د حاصل تر ټولو کښته شاخص ۳٦٪ سلنه د ۱۵ کېلوګرامه تخم

پر هکتار او ۲۰ سانتي متره په قطاري واټن کرل شوي ترېتمنټ څخه ترلاسه شوی دی، چې د احصائیوي توپیر له مخې له ټولو ترېتمنټونوسره ورته دی. د مې نبات د تخم مختلفو اندازو او د قطارونو تر منځ فاصلو د ګډو تاثیراتو په نظر کې نیولو پرته هم د حاصل پر شاخص د پام وړ اغېزه نه ده کړې. د ۱۵ کېلوګرامه تخم په هکتار ترېتمنټ څخه د حاصل د انډیکس کم قمیت ٪۳۹ سلنه چې د ۱۵ کېلوګرامه تخم پر هکتار ترېتمنټ او لوړ قیمت ٪۴۲ سلنه د ۲۵ کېلوګرامه تخم پر هکتار ترېتمنټ نه ترلاسه شوی، چې د احصائیې له نظره دواړه په خپلو کې او هم د درېیم ترېتمنټ سره ورته دي. د حاصل د شاخص تر ټولو لوړ قیمت ٪۲۵،۵۹ له (۲۵ x ۲۰) سانتي متره او د حاصل د شاخص تر ټولو ټیټ قیمت ٪۱۴،۸۷ سلنه له (۲۵ x ۲۰) سانتي متره څخه راپور شوی دی. د حاصل د شاخص لوړوالی یو واحد ارګان ته له منابعو څخه د لوړ لیږد وړتیا په ګوته کوي (Taj *et al.*, 2003) .

۱٦- جدول: د مې نبات په یو نبات کې د پلیو په شمېر، د پلیو په اوږدوالي، په یو پلي کې د تخمونو په شمېر، د زرو دانو په وزن، د دانې په حاصل، د وښو په حاصل او په بیولوژیکي حاصل د تخم بېلابېلو اندازو (کیلو ګرام په هکتار) او قطارې واټن (سانتي متر) اغېزې

| د بیولوژیکي د حاصل اندازه ټن پر هکتار | د وښو د حاصل اندازه ټن پر هکتار | دانې حاصل ټن پر هکتار | د مې نبات د زرو دانو وزن په ګرام | په یو پلي کې د تخمونو شمېر | د مې نبات دپلي اوږدوالی په سانتي متر | په یو نبات کې د پلیو شمېر | د تخم اندازه کېلوګرام پ هکتار |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦،۰۴۴ | ۳،٦٦۲ | ۲،۳۸۱ | ۴۳،۷ | ۱۰،۹ | ۹،۸ | ۱۴،۹ | ۱۵ |
| ۵،۳۰۳ | ۳،۱۰۵ | ۲،۱۹۸ | ۳۸،۰ | ۹،٦ | ۸،٦ | ۱۱،۸ | ۲۰ |
| ۴،۷۸۵ | ۲،٦۸۷ | ۲،۰۹۸ | ۳٦،۷ | ۹،۱ | ۸،۸ | ۹،۹ | ۲۵ |
| ۰،۲۴ | ۰،۲۰ | ۰،۱۷ | ۲،۰۵ | ۰،۸ | ۰،۵۳ | ۱،۵۴ | SEm(±) |
| ۰،۴۲ | ۰،۳۵ | ۰،۲۹ | ۳،۵۴ | ۱،۳۹ | ۰،۹۲ | ۲،۵۱ | CD P = ۰،۰۵) |
| د بیولوژیکي د حاصل اندازه ټن پر هکتار | د وښو د حاصل اندازه ټن پر هکتار | د دانې حاصل ټن پر هکتار | د مې نبات د زرو دانو وزن په ګرام | په یو پلي کې د تخمونو شمېر | د مې نبات د پلې اوږدوالی په سانتي متر | په یو نبات کې د پلیو شمېر | د قطارونو تر منځ فاصله په سانتي متر |
| ۵،۵۰۴ | ۳،۴۰۱ | ۲،۱۰۳ | ۳٦،۲ | ۹،۳ | ۸،٦ | ۱۲،۱ | ۲۰ |
| ۵،۷۳٦ | ۳،۳۲۷ | ۲،۴۰۹ | ۴۳،۱ | ۱۰،۷ | ۹،۹ | ۱۳،۲ | ۳۰ |
| ۴،۸۹۱ | ۲،۷۲٦ | ۲،۱٦۵ | ۳۹،۰ | ۹،٦ | ۸،۸ | ۱۱،۳ | ۴۰ |
| ۰،۲۴ | ۰،۲۰ | ۰،۱۷ | ۲،۰۵ | ۰،۸ | ۰،۵۳ | ۱،۵۴ | SEm(±) |
| ۰،۴۲ | ۰،۳۵ | ۰،۲۹ | ۳،۵۴ | ۱،۳۹ | ۰،۹۲ | ۲،۵۱ | CD P = ۰،۰۵) |

## پایلې

د تخم ریز اندازو او قطاري واټن توپیر د مې په وده او حاصل دواړو د پام وړ تاثیر کړی، چې د نبات تر ټولو لوړ قد ۲۵،۹۰ سانتي متره، د پاڼې د ساحې تر ټولو لوړه اندازه ۱۳۷،۸۹ سانتي متر مربع، د یو نبات مجموعي وچ وزن

۲۰،۲۴ گرامه، د ريښو زيات اوږدوالی ۲۲ سانتي متره د مې نبات په يوه ورځ کې ۰،۷۴۵ گرامه وده کړې، د ۱۵ کېلوگرامه تخم پر هکتار او ۳۰ سانتي متره قطاري واټن کرل شوي ترېتمنټ څخه ترلاسه شوی، په همدې ډول د مې نبات په پلیو کې د دانو لوړ شمېر ۱۳،۵، لوړ شمېر پلي ۱۹،۴، د زرو دانو لوړ وزن ۵۱،۷ گرامه، د دانو لوړ حاصل ۲،۹۲۵ ټن پر هکتار او د وښو لوړ حاصل ۴،۳۴۹ ټن پر هکتار په ۱۵ کېلوگرامه تخم پر هکتار او ۳۰ سانتي متره په لرېوالي کرل شوي ترېتمنټ نه ترلاسه شوي دي، نو د دې څېړنې له پايلو په ډاگه شوې، چې ۱۵ کېلوگرامه پر هکتار تخم چې د قطارونو تر منځ يې فاصله ۳۰ سانتي متره په پام کې ونيول شي، تر ټولو غوره گڼل شوی دی، خو د پايلو د تائيد په موخه په بېلابېلو موقعيتونو کې د څېړنې د تکرار سپارښتنه کېږي .

## اخځلیکونه (Refrences)


مرکزي احصايه ، ۱۳۹۹. د مرکزي احصايې او معلوماتو دملي ادارې کلنی راپور ص.ف. ۱۵۹، ۲۳۳ او ۲۳۸.

Ahmad, F., O. Hirota, Y. Yamada and M. Rahman, 2003. Growth Characteristics and Yield of mungbean varieties cultivated under different shading conditions. Japanese J. Trop. Agric., 47: 1–8

Ahmad, R., Mahmood, I., Kamal, J. and Bukhari, S.A.H. 2004. Growth and Yield Response of Three Mungbean (Vigna radiate L.) Cultivars to Varying Seeding Rates, International Journal of Agriculture &Biology، 6(3):538–540.

Ahmed, K.U., Nahar, K., Rahmatullah, N.M., Faruq, G. and Alamgir, M.D.A. (2011). Yield components and yield of different mungbean varieties as affected by row spacing. American-Eurasian J. Agron., 4:1-5.

Ali, M. and Gupta, S., 2012. Carrying capacity of Indian agriculture: Pulse crops. Current Science, 102: 874-881.

AVRDC (Asian Vegetables Research and Development Centre). (1974). Mungbean Report for 1973. Shanhua, Taiwan. pp. 23.

Begum, S., Noor, M., Hassan, G., Rahman, H., Durrishawar, Hidayatullah and Jan, M. 2012. Conditions. International Journal of Agriculture &Biology, 5 (2):160–16.

Ibrahimi, F., Rana, K.S., Choudhary, A. K., D, A., Ehsan, Q. and Noorzai, A.U. 2017. Effect of varieties and planting geometry on growth, yield and profitability of Kharif mungbean [Vigna radiata (L.) Wilezek] in southern Afghanistan. Agric. Res. New. Sereis. 38 (2): 185 -193.

Kabir, M. H. and Sarkar, M.A.R. 2008. Seed yield of mungbean as affected by variety and plant spacing in Kharif-I season, J., Bangladesh Agril. Univ. 6 (2): 239–244.

Kabir, M.H. and Sarkar, M.A.R. (2008). Seed yield of mungbean as affected by variety and plant spacing in Kharif-Iseason. J. Bangladesh Agric. Univ., 6:239-244.

Kassie, M., 2011. Economic and environmental benefits of forage legume-cereal intercropping in the mixed farming system: A case study in west Gojam, Ethiopia. Addis Ababa, Ethiopia: EDRI.

Kumar, A and Rana, K. S. 2007. Performance of pigeonpea (Cajanus cajan) + greengram (Phaseolus radiates) intercropped system as influenced by moisture conservation practice and fertility level under rainfed conditions. Indian Journal of Agronomy, 52 (1):31 – 35.

Miah, M.A.K., Anwar, M.P., Begum, M., Juraimi, A.K. and Islam, M.A. 2009. Influence of sowing date on growth and yield of summer mungbean varieties. Journal of Agriculture and Social Sciences, 5 (3): 73-76.

Mondal, M.M.A., 2007. A study of source-sink relation in mungbean. Ph. D Dissertation, pp: 82–84. Department of Crop Bot., Bangladesh Agriculture University, Mymensingh.

Mondal, M.M.A., Hakim, M.A., Juraimi, A.S., Azad, M.A.K. and Karim, M.R. 2011. Contribution of morpho-physiological attributes in determining the yield of mungbean. African Journal of Biotechnology, 10 (60): 12897-12904.

Mondal, M.M.A., Hakim, M.A., Juraimi, A.S., Azad, M.A.K. and Karim, M.R. (2011). Contribution of morphophysiological attributes in determining the yield of mungbean. African J. Biotech., 10:12897-12904.

Mondal, M.M.A., Puteh, A.B., Malek, M.A. and Ismail, M.R. 2012. Determination of optimum seed rate for mungbean based on morpho-physiological criteria. Legume Res. 35 (2): 126 – 131.

Mukesh Kumar, Panwar, G.S. and Sitaram Kushwaha., 2007 - 2008, Effect of planting date, seed rate and row spacing on nodulation efficiency of bold seeded spring mungbean [Vigna radiata (L.) Wilczek] in Bundelkhand region of India, Institute of Agricultural Sciences, Legume Research, 39 (2): 293-296.

Nasrin Begum, M.S.T., Begum, Mahfuza, Md., Anwar, Parvez and Juraimi, Abdul Shukor, 2007, Optimizing Seed Rate for Summer Mungbean Varieties, JOURNAL OF AGRICULTURE & SOCIAL SCIENCES, 114 -118.

Noorzai, A. U., Choudhary, A. K., Bana, R.S. and Parsa, R. 2017 Growth behaviour, productivity and profitability of promising mungbean varieties in semi-arid region of Afghanistan. Agric. Res. New. Sereis. 38 (1): 78 -86.

Rahman, Md. M., Zahan, T., Ali, MS., Begum, M. and Bell, RW. 2016. Effect of variety and seed rate on yield performance of mungbean under strip tillage system. Bangladesh Agron. J. 19 (1): 81-86

Ram, H., S, G., A, N. and Sekhon, H. S. 2018. Effect of sowing methods, nutrients and seed rate on mungbean (Vigna radiata (L.) Wilczek) growth, productivity and water-use efficiency. Journal of Applied and Natural Science 10 (1): 190 – 195.

Rasul, F., M A. Cheema, A. Sattar, M. F. Saleem and Wahid M.A. 2012. Evaluating the performance of three mung bean varieties grown under varying inter-row spacing. The Journal of Animal & Plant Sciences, 22 (4): pp 1030 -1035.

Roy, P. S., Ali H. Md., Islam O., Islam, M. and Masum, S. M. 2023 Effect of population density and variety on growth and yield of mungbean. J. Expt. Biosci. 14 (2): 15 -24.

Sekhon, H.S., Guriqbal Singh, Brar, J.S. and Singh, G. 2002. Effect of population density and planting geometry on the growth and yield of mungbean (Vigna radiata L. Wilczek) genotypes. Environ. Ecol. 20 (4): 897-901.

Sharma, A., kumar, A. and Jaswal, A. 2020. Effect of Spacing with different sowing method on Growth and Yield performance of Green gram, IJARSE, 9(10):82-89.

Siddique, M. Faisal, A. Malik and Awan, S. 2006. Genetic divergence, association and performance evaluation of different genotypes of mungbean (Vigna radiata). International Journal of Agriculture Biology, 8: 793–795.

Singh, G., Sekhon, H.S., Singh, G, Brar, J.S, Bains, T.S. and Shanmungasundaram, S. 2011. Effect of plant density on the growth and yield of mungbean (Vigna radiate L.

Wilczek) genotypes under different environments in India and Taiwan, Department of Plant Breeding and Genetics, Punjab Agricultural University, India. International Journal of Agricultural Research.

Singh, G., Sekon, H.S., Sandhu, J.S. and Randhawa, A.S. (2003). Effect of location and seed rate on three genotypes of mungbean. Trop. Sci., 43:116-120.

Siraje, M., Asrat, M. and K, M.2020. Effects of spacing on yield of mung bean (vigna radiata L.) In jile timuga district, northeastern Ethiopia, Global Scientific Journal, 8 (9): pp 1021-1033.

Taj, F. H., Arif, M. and Kakar, K. M. 2003. Effect of Seed Rates on Mungbean Varieties under Dryland Genotypic association among yield and related attributes in mungbean varieties. Int.Res. J. Agric. Sci. Soil Sci., 2(5): 188 -193.

# د خاورې اصلاح کوونکي مواد (Soil Conditioners)

۱-پوهنیار عبدالله آرام[*1]، ۲-پوهنیار نیاز محمد انقلابی[2]
۱-اگرانومی دیپارتمنت، کرنې پوهنځی، وردگ د لوړو زده کړو مؤسسه، میدان وردگ، افغانستان.
۲-اگرانومی دیپارتمنت، کرنې پوهنځی، پکتیا پوهنتون، پکتیا، افغانستان.

**لنډیز**
د انسانانو او ټولو ژوندیو موجوداتو ژوند په مستقیم او غیر مستقیم ډول په خاوره پورې تړلی دی. خاوره د زراعت بنسټ جوړوي او د وګړو د اړتیاوو په پوره کولو کې اساسي رول لري. نباتات خپل ضرورتونه لکه د غذایي موادو جذب، د اوبو جذب، د ریښو د تنفس لپاره اکیسجن او پر خپلو ریښو درېدل له خاورې څخه پوره کوي. نو په دې اساس د نباتاتو څخه هغه وخت د قناعت وړ او دوامداره حاصل تر لاسه کولی شو، چې پورتني خواص د نبات په خوښه وي او دا خواص اکثراً د خاورې د فیزیکي، کېمیاوي او بیولوژیکي خواصو تابع وي. نو د دې لپاره چې د خاورې څخه په دوامداره توګه ښه حاصل لاسته راوړو نو د خاورې پورتني خواص باید په پام کې ونیول شي. یاد خواص هغه وخت ثابت ساتلی یا ښه کولی شو چې د کښت د نورو عملیو او کېمیاوي سرو د استعمال تر څنګ د خاورې اصلاح کوونکي مواد استعمال کړو. دغه مواد په عضوي او غیر عضوي ډولونو پیداکېږي. د خاورې اصلاح کوونکي مواد په خاوره کې د غذایي موادو پر زیاتولو سربېره د خاورې جوړښت، د خاورې د مثبتو ایونو تعویضي ظرفیت او په خاوره کې د اوبو ساتلو توان ښه کوي.

**کلیدی کلمې:** خاوره، اصلاح کوونکي مواد، د خاورې خواص، اهداف

* email: abdullaharam24@gmail.com

# Soil Conditioners

1- Abdullah Aram*[1], 2- Niaz Mohammad Inqilaabi[2]
1- Agronomy Department, Agriculture Faculty, Wardak Institute of Higher Education, Maidan Wardak, Afghanistan.
2-Agronomy department, Agriculture faculty, Paktia University, Paktia, Afghanistan.

## Abstract

The lives of humans and all living beings are directly and indirectly connected to the soil. Soil forms the basis of agriculture and plays a fundamental role in meeting human needs. Plants meet their needs, such as nutrient absorption, water absorption, oxygen for root respiration, and standing protection from the soil. Satisfactory and continuous yields can be obtained from plants when the above properties are favorable to the plant. And these properties are often subject to the physical, chemical, and biological properties of the soil. Therefore, in order to continuously produce a good crop yield from the soil, the above properties of the soil should be taken into consideration. These properties can be maintained or improved when we use soil conditioners in addition to other planting practices and chemical fertilizers. This material comes in organic and inorganic forms. In addition to adding nutrients to the soil, soil conditioners improve soil structure, cation exchange capacity, and water retention in the soil.

Keywords :Soil, conditioners, soil properties, objectives.

* Email: abdullaharam24@gmail.com

## سريزه

خاوره د اوبو او هوا په څېر يوه حياتي ماده ده. له دغې حياتي مادې څخه له زرگونو کلونو راهيسې انسانان گټه اخلي، د نړۍ ورځ په ورځ زياتيدونکی نفوس له ځمکې څخه استفاده کوي، چې له امله يې اکثره کرنيزې ځمکې خرابې شوې او يا د خرابيدو په حال کې دي (Özdemira., et al. 2017). د خاورې فزيکي حالت يو فکتور دی چې کولی شي نباتي توليد محدود کړي. د خاورې ياد خواص په خاوره کې د اوبو جذب، حرکت، د نبات د ريښو وده او د خاورې تهويه تر تاثير لاندې راولي. توليدوونکي او څېړونکي ليوالتيا لري چې د خاورې فزيکي حالت په ښه کولو سره نباتي توليد زيات کړي. دا اهداف د مديريت او ښو تخنيکونو په کارولو سره لاسته راتلی شي. سربېره پر دې داسې ترميمي مواد هم شتون لري چې په استعمالولو سره يې د خاورې ټول خواص ښه کېږي، دې موادو ته د خاورې اصلاح کوونکي مواد ( soil conditioners) ويل کېږي (Tsado et al., 2011). د خاورې اصلاح کوونکي مواد (Soil Conditioner) هغه مواد دي چې په خاوره کې اضافه کېږي، ترڅو د خاورې خواص په ځانګړي ډول د نباتاتو لپاره د غذايي موادو په تيارولو کې د خاورې ورړتيا ښه کړي. په عمومی توگه د(Soil Conditioner ) اصطلاح د خاورې اصلاح کوونکو موادو د فرعي ټولګي په حيث کارول کېږي، چې په زياته اندازه کېمياوي سرې او غير عضوي مواد په کې شامل دي. له غذايي موادو څخه د خوارو خاورو د ښه کولو يا د ناسم مديريت له امله د زيانمن شوو خاورو د بيا رغولو لپاره نوموړي مواد کارول کېږي. د دې موادو په کارول سره ضعيفه خاورې د استفادې وړ گرځي (Robinson.,2018). په اوسني وخت کې د اعظمی اقتصادي توليد لپاره د دې موادو استعمال سره د توليدوونکو علاقمندي زياته شوې ده. د خاورې اصلاح کوونکي موادو ترکيب او د استعمال اندازه د تاثير په اساس يو له بل سره توپير لري، چې په استعمال سره يې په خاوره کې ځينې اصلاحات لکه د خاورې جوړښت (سټرکچر) او د تهويې ښه والی، د اوبو د ساتلو ظرفيت زياتول، نباتاتو ته د اوبو د شتون زياتوالی، د خاورې نرموالی زياتوي او ورسره کلکې طبقې کمېږي، د زهکشی اغېزمنتوب زياتوي، د القلی خاورې بيا رغونه، د نصب شويو غذايي موادو خوشې کول، ښه کيمياوي خواص، د ريښو ښه وده او د حاصلاتو د کميت او کيفيت زياتوالی منځته راوړي (Hickman & Whitney.,1988). څرنگه چې زمونږ گران هېواد يو زراعتي هېواد دی او اکثره وگړي يې په کرنه بوخت دي، سره له دې د ځمکې څخه مطلوب حاصل لاسته نه راځي، چې کېدای شي اصلي علت يې د خاورې د کمزورې حاصلخېزی تر څنگ د خاورې خراب خواص وي، نو د دې لپاره چې په دوامداره توگه د خاورې خواص ښه او حاصلخېزي يې وساتو د دې مقالې مواد په دې برخه کې د اهميت وړ دي.

### د خاورې د اصلاح کوونکو موادو ترکيب

زيات مواد د خاورې د کيفيت د ښه کولو د وړتيا په اساس د خاورې اصلاح کوونکو موادو په ډله کې شامليږي. ځينې مثالونه لکه بايوچار، د هډوکي پوډر، د وينې پوډر، کمپوسټ، کمپوسټ چای، حيواني

سرې، پروړه، وچې شوې خزې، ورميکولايټ، سلفر، ليمو او بايوسوليدونه. څرنگه چې عضوي کرنه ورځ تربلې د پراختيا په حال کې ده نو په اوسني وخت کې د خاورې دېر اصلاح کوونکي مواد د تصديق شوو عضوي محصولاتو په بڼه توليدېږي او په آسانۍ سره په مارکيټ کې پيدا کيږي (Robinson,2018). د خاورې اصلاح کوونکي مواد د ترکيب او سرچينو په اساس په دوه ډوله طبيعی (عضوي) لکه حيواني سره، شنه سره، هيوميک مواد، پيټ او مصنوعي (غيرعضوي) لکه کچ، کروډ سلفر، په اوبو کې حليدونکي پوليمرونه (پولی ايتايلين گلايکول، پولی وينايل الکول) ډلو تقسيم کېږي (Jhurry 1998).

**د خاورې عضوي اصلاح کوونکي مواد**

د خاورې عضوي مواد د خاورې د عضوي برخې څخه عبارت دي او هغه حيواني او نباتي پاتې شوني چې د تجزيې په مختلفو پړاونو کې قرار لري، په کې شامېلږي (Doran and Parkin, 1994). په خاوره کې د عضوي موادو ( هيومس) اغېزې د خاورې د فزيکي او کيمياوی خواصو په سمون کې له پخوا څخه پېژندل شوي دي. د خاورې عضوي مواد د غذايي عناصرو منبع ده، د دې تر څنگ د خاورې سټرکچر، تهويه، تعويضي ظرفيت، د بفر توان، په خاوره کې د اوبو د نفوذ اندازه، د خاورې د اوبو ساتلو توان، دخاورې حجمي کثافت، دخاورې pH، د خاورې برقي هدايت، د سوديم د جذب نسبت ( Sodium adsorption ratio) او د مايکرو اورگانيزمونو او نباتاتو لپاره غذايي مواد تر اغېزې لاندې راولي ( Muhammad Zia et al., 2016).

د دې تر څنگ د خاورې د عضوي اصلاح کوونکو موادو په علاوه کولو سره د اوبو په واسطه د خاورې تخريب هم کمېږي (Nutullah, et al., 2017). په عمومي ډول منرالي خاورې له ۱۰ سلنه څخه کم عضوي مواد لري. د دې ډول خاورې د عضوي موادو د زياتولو لپاره بايد په زياته اندازه او دوامداره توگه عضوي مواد استعمال شي، د مثال په ډول که چېرې په يو ايکر ځمکه کې د عضوي موادو وزن په پونډ سره وښايو نو عجيبه نتيجه به لاسته راشي. ځکه د ٦ انچ په ژوروالي سره د يو ايکر ځمکې د خاورې وزن دوه ميليون «۲۰۰۰۰۰۰» پونډه کېږي، که نومورې خاوره ۲ سلنه عضوي مواد ولري، نو د دې خاورې په يو ايکر ساحه کې د دغه فورمول مطابق «۰,۰۲x۲۰۰۰۰۰۰ = ۴۰۰۰۰» څلوېښت زره پونډه عضوي مواد شتون لري. که وغواړو د خاورې عضوي مواد زيات کړو په حقيقت کې بايد زياته اندازه عضوي مواد استعمال کړو. تحقيقاتو ښودلې ده چې تر محيطي شرايطو لاندې له ۵-۱۰ پونډه نباتي پاتې شوني په خاوره کې يو (۱) پونډ هيومس توليدوي. نو په دې اساس د يو ايکر ځمکې په خاوره کې د ۱ سلنه يا شل زره (۲۰۰۰۰) پونډه عضوي موادو د زياتېدو لپاره دوه سوه زره (۲۰۰۰۰۰) پونډه نباتي پاتې شونو ته ضرورت دی( Hickman & Whitney.,1988).

په عمومي ډول هغه خاورې چې زيات عضوي مواد لري نسبت هغو خاورو ته چې کم عضوي مواد لري ښه فزيکي خواص لري. د خاورې عضوي مواد د خاورې د عضوي برخې په توگه تعريف شوي او په دې کې د تخريب او تجزيې په مختلفو مرحلو کې د نباتي او حيواني پاتې شونو تر څنگ د ژونديو موجوداتو

حجرې، نسجونو او هغه مرکبات چې د خاورې د ژونديو موجوداتو لخوا ترکيب شوي، هم شامل دي. د خاورې عضوي مواد د ترکيبونو پراخه لړۍ لري، چې د غوړو، کاربوهايدرېټونو او پروټينونو څخه نيولې تر لوړو ماليکولي وزن لرونکو اسيدونو (humic او fulvic) په کې شاملېږي (ثمين، عبدالقهار او محمد عالم زغرد.، ۱۳۸۷). له دې ډلې څخه هيوميک اسيد د غذايي عناصرو د منبع او د خاورې اصلاح کوونکو موادو په حيث په وچو او نيمه وچو سيمو کې زيات استعمال لري (Taraniuk et al., 2007). هيوميک اسيد د نباتي او حيواني انساجو د تجزيې څخه منځته راځي (Gaffney et al., 1996). او تقريباً د خاورې د هيومس درېيمه برخه جوړوي (Kuwatsuka et al., 1978).

ياد مواد تيره رنګ لري چې په القلي کې حلېدونکي او په تيزابو کې نه حلېږي (Schnitzer, 1991). د دې تر څنګ هيوميک اسيد د خاورې تيزابيت کنټرولوي او د عناصرو ليچينګ کموي (Qualls et al., 2003; Mackowiak et al., 2001).

همدارنګه هيوميک اسيد په تجارتي ډول هم موندل کېږي. سټونسن (Stevenson) په ۱۹۷۴ کال کې وويل چې تجارتي هيوميک د اکسيدايز شويو ډبرو، سکرو او خاورې څخه لاسته راځي. د کرنيزو اهدافو لپاره تجارتي هيوميک کيدای شي د حلېدو وړ، غير منحل او يا د تجارتي سرو سره په يوځای توليد شي. تجارتي هيوميک له ۳۰- ۶۰ سلنه هيوميک اسيد لري.

هيوميک اسيد ډېر مغلق او په اسانۍ سره د خاورې د منرالي موادو په واسطه غير متحرک کېږي. د دې تر څنګ تجارتي هيوميک په کمه اندازه فلويک اسيد او بيولوژيکي مهم مواد لکه پروټين او پولي سکرايد هم لري. دا مواد د خاورې د عضوي موادو په څېر نه دي، نو په دې اساس داسې تمه بايد ونه شي چې عضوي موادو ته ورته دنده ترسره کړي. په نورمال ډول ددې موادو کمه اندازه له (۲۰۰-۶۰۰) پونډه پورې په يو ايکر ځمکه کې وړانديز کېږي او په خاوره کې د شته عضوي موادو په مقايسه يې ښه تاثيرات ښودلې دي. همدارنګه ترکيبي هيوميک له ۱،۲- ۱،۵ سلنه نايتروجن لري چې د دې نايتروجنو ډېره کمه برخه د استعمال په لومړي کال د نباتاتو د استفادې وړ ګرځي. نو که د وړانديز شوې اندازې سره سم هيوميک استعمال شي تنها ۱ پونډ نايتروجن يو ايکر ځمکې ته اضافه کېږي (Egli, D. B. and J. W. Pendleton. 1965).

د عضوي موادو په ترکيب کې د کاربن او نايتروجن ترمنځ نسبت زيات اهميت لري او په خاوره کې د اړتيا وړ نايتروجن د عضوي موادو د ورسيدو په اندازې زيات تاثير لري. مايکرو اورګانيزمونه د عضوي موادو په تجزيه کې د ۲۴ ګرامه کاربن د تجزيې لپاره يو ګرام نايتروجن د غذا په ډول په مصرف رسوي.

په عمومي ډول د سطحي خاورې دعضوي موادو د کاربن او نايتروجن (C:N) ترمنځ نسبت له ۸:۱ څخه تر ۱۵:۱ پورې دی. نو په دې اساس کله چې خاورې ته داسې عضوي مواد چې په پراخه کچه د کاربن او نايتروجن نسبت ولري اضافه شي، د استفادې وړ نايتروجن لپاره رقيب واقع کېږي يعنې مايکرو اورګانيزمونه

د عضوي موادو د تجزيې لپاره د خاورې د محلول څخه نايتروجن مصرفوي چې په ترڅ کې يې نبات تاواني کېږي (ايوبی عبدالغنی، صفی الله حبيبی ۱۳۹۹).

۱- جدول : د ځينې عضوي موادو د کاربن او نايترو جن ترمنځ نسبت.

| د عضوي موادو ډول | د کاربن او نايتروجن ترمنځ نسبت (C:N) |
|---|---|
| رشقه | ۱۳:۱ |
| شفتله | ۳۰:۱ |
| ګراسونه | ۲۰:۱ |
| د جوارو ډنډر | ۴۰:۱ |
| د غلو پروړه | ۸۰:۱ |
| فاضلاب | ۱۲:۱ |
| حيواني سره | ۳۰:۱ |
| پيټ ماس | ۵۸:۱ |
| د کلک لرګې د ارې بوره | ۲۹۵:۱ |
| د کاج لرګې د ارې بوره | ۷۲۹:۱ |
| باکتريا | ۵:۱ |
| اکتينو مايسسز | ٦:۱ |
| فنجي | ۱۰:۱ |

عضوي اصلاح کوونکی مواد زيات ډولونه لري چې د نمونې په توګه د حيواني سرې څخه يادونه کوو.

**حيواني سره**

لي (Li) او حان (Han) په ۲۰۱٦ م کال کې ومونده چې د حيوانې سرې استعمال د خاورې فزيکي او بيولوژيکي خواص ښه کوي. حيواني سره د خاورې د عضوي موادو مهمه سرچينه ده چې ورسره زيات غذايي مواد ځمکې ته علاوه کېږي. که يو ايکر ځمکې ته ۱۰ ټنه حيواني سره ورکړو له تجزيې څخه يې له ۰,۵ څخه تر ۲ ټنه پورې عضوي مواد په خاوره کې اضافه کېږي (Robinson ,.2018) . ياده سره د کلسيم، مګنيزيم، سلفر او کم مصرفه عناصرو ښه منبع ده، له دې څخه علاوه کمه اندازه نايتروجن، فاسفورس او زيات اندازه پتاشيم هم لري (Odedina et al 2011). د حيوانې سرې زيات استعمال خصوصاً په وچو خاورو کې د خاورې فزيکي خواصو او د نبات ودې ته تاوني دی ځکه حيواني سره يوه اندازه منحل مالګه په خپل ترکيب کې لري. همدارنګه د کېمياوي سرو په څنګ کې د عضوي سرو استعمال د خاورې دعضوي موادو د زياتېدو، د خاورې د سټرکچر او د اوبو ساتلو توان د ښه کېدو ترڅنګ په خاوره کې د غذايي موادو دوران، د کتايون تعويضي ظرفيت او بيولوژيکي فعاليتونه ښه کوي (Saha et al 2008).

**نور عضوي اصلاح کوونکي مواد**

نور عضوي مواد چې خاوره اصلاح کولی شي، د نباتي پاتې شونو، کمپوسټ، فاضلاب، شنه سره، د الوتونکو سره، د وينې تفاله (Bone meal)، د ماهی تفاله (Fish meal) او د اري له بوري څخه عبارت دي. د دې موادو مؤثريت يو له بل سره د استعمال د اندازې او د کاربن او نايتروجن نسبت په اساس توپير لري، چې په استعمال سره يې د خاورې د فزيکي خواصو او حاصلخېزی د ښه کولو ترڅنګ د خاورې حاصلخېزي اصلاح او ساتل کېږي (ايوبی عبدالغنی، صفی الله حبيبی ۱۳۹۹).

*مصنوعي وصلوونکي Synthetic Binding Agents*

ځينې عضوي مواد په تجارتي ډول توليدېږي. مختلف پوليمير شته چې کولی شي د خاورې فزيکي خواص ښه کړي. پوليميرونو په ۱۹۵۰ م کال کې په ځانګړي ډول کله چې د کرليم(Krilium) پوليمير جوړ شو زيات د توجه وړ وګرځېدل. د دغو پوليميرونو په استعمال سره د خاورې فزيکي خواص او نباتي توليد لوړ شو. اما استعمال يې په کومه اندازه چې پورته ګټې ترې لاسته راتلی شوې اقتصادي نه وې، نو په دې اساس د خلکو توجو ورته کمه شوه (Hickman & Whitney.,1988). له دې څخه ورسته داسې پوليميرونه لکه طبيعي پولي سکرايد، انيونيک او کتيونيک پوليميرونو په کم استعمال سره د خاورې د اصلاح سبب شول. دغه مرکبات د زيات ماليکولي وزن، اوږد ځنځير او عضوي ترکيب په درلودلو سره د خاورې د اګريګټ د ثبات سبب ګرځي او له دې لارې د خاورې د خواصو په ښه کولو کې رول لري ( Lucas, R. E. and M. L. Vitosh. 1978).

**د خاورې منرالي اصلاح کوونکی مواد**

د خاورې منرالي اصلاح کوونکي مواد په اصل کې د خاورې تيزابيت تنظيمولو او د خاورې دکيفيت ښه کولو لپاره کارول کېږي. دغه مواد اکثره وختونه د پوتاشيم فيلډسپر، چونې ډبرې، يا دولومايټ د کلکېدو څخه جوړ شوي، چې د سيليکون، کلسيم، پوتاشيم او مګنيزيم څخه بډايه دي (Yang, X, *et al.*, 2020). د خاورې منرالي اصلاح کوونکي مواد زيات ډولونه لري چې د خاورې خواصو ته په کتو په مختلفو خاورو کې د استعمال وړ دي. د دې موادو له جملې څخه د ځينو يادونه کوو:

**ګچ**

ګچ يو منرال دی چې کېمياوي ترکيب يې ($CaSO_4 \cdot 2H_2O$ ) دی. د ګچ اغېزمنتوب له پخوا راهيسې په زياته اندازه سوديم لرونکو خاورو کې پېژندل شوی دی. په زيات سوديم لرونکو خاورو کې ګچ کولی شي د تعويض وړ سوديم تعويض کړي، په نوموړو خاورو کې سوديم د خاورې اګريګيټونه شيندي او د اګريکيټ ثبات کموي. په آبي او للمي ځمکو کې د ګچ د استعمال سره مالګينې خاورې اصلاح او سختې طبقې کوچنی کېږي، په هغو خاورو کې چې کم تعويضي ظرفيت لري کلسيم علاوه کوي او په کم نفوذ لرونکو خاورو کې د اوبو د نفوذ د زياتوالي سبب کېږي . د ګچ استعمال په هغو خاورو کې چې په طبيعی ډول ګچ لري يا داسې خاورې چې په کلسيم او مګنيزيم لرونکو اوبو سره اوبه کيږي، نه وړانديز کېږي. د

گچ د استعمال اندازه د گچ په خالصوالي او په خاوره کې د سوديم د شتون په اندازه پورې اړه لري. په حقيقت کې د گچ د استعمال اندازه د خاورې د القلي او مالگينتوب د ارزونې په اساس ټاکل کېږي. په نورمال ډول د استعمال اندازه يې په يو ايکر ځمکه کې له ۱-۱۰ ټنه پورې ده. که په يو ايکر ځمکه کې د ۵۰۰ پونډه څخه کم گچ استعمال شي، نو د خاورې د اصلاح کوونکو موادو په حيث به لږ تاثير ولري اما د کلسيم او سلفر د منبع په حيث به د پام وړ اغېزه ولري (Hickman & Whitney.,1988).

د گچو استعمال نسبتاً غير اقتصادي طريقه ده اما په زياته اندازه سوديم او چونه لرونکو قوي قلوي خاورو د اصلاح لپاره استعمالېدای شي. که د گچ ډېرې ميده او په خاوره کې استعمال شي ډېر ژر اوبه جذبوي او کلکېږي. د دې ستونزې د مخنيوی لپاره بايد ورسره د لگنايټ پوډر گډ او وروسته استعمال شي. نوموړی پوډر د ډېرو سکارو په څنډو کې په طبيعی ډول پيداکېږي (تورکی، محمد طاهر۱۳۹۳).

**نور منرالي اصلاح کوونکی مواد**

په ځينو خاورو کې چونه او نور هغه مواد چې زيات کلسيم يا مگنيزيم ولري کېدای شي د خاورې فزيکي خواص ښه کړي.

**د خاورې د اصلاح کوونکو موادو د استعمال موخې**

د خاورې د اصلاح کوونکو موادو په استعمال سره د خاورې خواص ثابت ساتلی او يا هم ښه کولی شو چې ځينې لکه د خاورې د  خواصو تغيير، د خاورې جوړښت، د خاورې غذايي مواد، د کتايونو تعويض او د اوبو ساتل په لنډ ډول تشريح کوو.

**د خاورې د  خواصو تغير**

نن ورځ په زياته اندازه د خاورې د فزيکي خواصو اصلاح کوونکي مواد په تجارتي ډول شتون لري. نوموړي مواد د خاورې ځينې فزيکي خواص لکه د اوبو د ساتلو ظرفيت، په خاوره کې د اوبو نفوذ، زهکشي، د خاورې ستړکچر، تهويه، د اگريگيټ ثبات، د عضوي موادو اندازه او ځينې کېمياوي خواص ښه کوي. د خاورې مختلف ډولونه په فزيکي، کېمياوي او بيولوژيکي خواصو کې خورا توپير لري، کوم چې د خاورې اصلاح کوونکو موادو پر اغېزمنتوب باندې تاثير لري. د مثال په توگه، گچ ممکن په لوړه کچه سوديم لرونکو خاورو د اوبو نفوذ زيات کړي، مگر کېدای شي په غير سوډيک خاورو يا هغه خاورې چې په زياته اندازه کلسيم لري هېڅ گټه ونه لري. په زياته اندازه د عضوي موادو علاوه کول په هغو خاورو کې چې کم عضوي مواد لري نسبت هغو خاورو ته چې زيات عضوي مواد لري کمه اغېزه لري.

**د خاورې جوړښت (Soil Structure)**

د خاورې ستړکچر د نباتاتو د ودې له اړخه زيات اهميت لري او د خاورې مهم خواص لکه په خاوره کې د اوبو جذب او حرکت، د خاورې د اوبو ساتلو توان، تهويه او زهکشی تر اغېزې لاندې راولي. د خاورې جوړښت د خاورې د حاصلخېزی او حاصل ورکولو سره نږدې اړيکې لري، د بيلگې په توگه د خاورې جوړښت په خاوره کې د کوچنيو او غټو سوريو ترمنځ د نسبت برابرولو له اړخه په خاوره کې د اوبو او هوا

نسبي مقدار او د اوبو او هوا د نسبی مقدار په اساس د نباتاتو وده او د نباتاتو د ودې په اساس د خاورې عضوي مواد او بلاخره د خاورې حاصلخېزي تر تاثیر لاندې راولي (ایوبی عبدالغنی، صفی الله حبیبی ۱۳۹۹).

د خاورې اصلاح کوونکي په عام ډول د خاورې جوړښت د ښه کولو لپاره استعمالېږي. اکثره خاورې د وخت په تېرېدو سره کلکېږي (Compaction) چې د ریښو د ودې لپاره خنډ جوړوي، د نبات په واسطه د خاورې څخه د غذایي موادو او اوبو جذب کمېږي چې د نوموړو موادو په اضافه کولو سره خاوره نرمه او له تخریب څخه ژغورل کېږي. څېړنو ښودلې چې د خاورې د اصلاح کوونکو موادو په استعمال سره په خاوره کې د اوبو ساتلو توان تر ځنګ د خاورې تهویه ښوالی پیداکوي چې په نتیجه کې د ریښو وده زیاتوالی مومي او ورسره د نایتروجن د استعمال اغېزمنتوب زیاتیږي ( Yuansong Xiao,. Et al. 2018).

**د خاورې غذایي مواد**

ټول نباتات ځینې عناصرو ته اړتیا لري او پرته له هغو خپله وده او نمو نشي بشپړولی دغو عناصرو ته ضروري عناصر وایي، د ضروري عناصرو له جملې څخه ۱۳ عناصر له خاورې څخه د نبات په واسطه جذبیږي. نو ضروري بریښي چې یوه اندازه عناصر د خاورې د حاصلخېزی د ساتلو لپاره خاورې ته په دوامداره توګه علاوه شي (ثمین او محمد عالم، ۱۳۸۷). له پیړیو راهیسې خلک په خوارو خاورو کې مواد اضافه کوي ترڅو د نبات د سالمې ودې لپاره د خاورې توان ښه کړي. له دغو موادو څخه ځینې لکه حیواني سرې، کمپوست، کلې او عضوي خاورې تر نن ورځ پورې په پراخه کچه کارول کېږي. د خاورې زیات اصلاح کوونکي مواد خاورې ته غذایي مواد لکه کاربن، نایتروجن او ګټورې باکتریاوې هم اضافه کوي. د دې ترڅنګ د اصلاح کوونکو موادو سره کیدای شي اضافي غذایي مواد لکه کلسیم، مګنیزیم او فاسفورس په خاوره کې زیات شي، چې ورسره خاوره حاصلخېزه او نبات ښه وده کوي (Robinson.,2018).

**د کتایون تعویض (Cation Exchange)**

د کتایونو تعویضي توان د خاورې د خواصو له جملې څخه یو مهم خاصیت دی چې په خاوره کې د عناصرو حالت تعینوي. د مثبتو تعویضي ایونونو هغه اندازه چې سل ګرامه وچه خاوره چې پې اچ یې (۷) وي ونیول شي د خاورې د مثبتو ایونونو تعویضي ظرفیت د (Cation Exchange Capacity) په نوم یادېږي . هغه کتایونونه چې د کولایدونو په سطحه جذب شوي وي، د خاورې په محلول کې د شته کتایونونو سره د تعویض وړ وي او نبات ور څخه استفاده کولی شي. د خاورې نوموړی توان د کلسیم، مګنیسیم، پتاشیم او امونیم په برابرولو او ساتلو کې د خاورې توان ټاکی (ایوبی عبدالغنی، صفی الله حبیبی ۱۳۹۹).

خاوره د نبات لپاره د غذایي عناصرو ذخیره ځای دی، نو هر څومره چې د خاورې CEC لوړ وي، هماغومره منفي چارجونه لري چې ورسره ډېر کتایونونه جذب، د نباتاتو د ریښو سره تبادله او نبات ته د اړتیا وړ غذایي مواد چمتو کوي (Peverill et a., 1999) . د خاورې اصلاح کونکي مواد د خاورې د عضوي موادو د

زیاتېدو په اساس په خاوره کې د کتایونونو د تعویض توان لوړوي ( Qian et al,.2004; Jien & Wang 2013). میلس (Melis) په ۲۰۱۹ م کال کې وموندله چې ټول ترېتمنتونه لکه د چرګانو سره، د تنباکو پاتې شونې، بیومس او NPK نسبت کنټرول ترېتمنټ ته په خاوره کې د مثبتو تعویضي ایونو ظرفیت لوړ کړ، چې له دې جملې څخه لوړ ترین CEC ( 196.6 cmol kg-1) د بیومس او (124 cmol kg-1) د تنباکو د پاتې شونو د اضافه کولو په اساس وو.

**د اوبو ساتل(Water Retention)**

د خاورې اصلاح کوونکې مواد کیدای شي په وچو او شګلنو خاورو کې استعمال شي چې ورسره په نوموړو خاورو کې د اوبو ساتلو توان ښه کېږي. د مثال په ډول په شګلنو خاورو کې د عضوي موادو په استعمال سره په خاوره کې د اوبو ساتلو توان لوړېږي. هغه معیارونه چې دغه مواد پرې انتخابولی شو د دې موادو قیمت، مؤثریت، د اوږدې مودې لپاره د خاورې رطوبت زیاتولو وړتیا، مایکروبیولوژیکي فعالیت تشویقول، په خاوره کې د غذایي موادو زیاتوالی او د نبات د بقا لپاره د شرایطو ښه کولو څخه عبارت دي. د لومړي ځل لپاره د خاورې مصنوعي اصلاح کوونکې مواد په ۱۹۵۰م کال کې معرفي شول دغه کېمیاوي مواد چې د پولی اکریلونایتریل (polyacrylonitrile) په نوم یادېدل، تر ټولو زیات کارول کېدل. د دې موادو له ډلې څخه پولی اکریلامایډ (polyacrylamides) او پولی متا اکریلامټ (polymethacrylates) موادو د خپل وزن څو سوه ځله د اوبو د جذب وړتیا لرلو په اساس په کرنه، باغداری او پارکونو په خاورو کې استعمال درلود. د دې موادو د استعمال په اړه علاقه هغه وخت له منځه لاړه کله چې تجربو ثابته کړه چې د دې موادو استعمال څخه په لوړه کچه اکریلامایډ (acrylamide) شتون درلود چې په خاوره کې د فایټوټوکسین (Phytotoxin) د لوړېدو سبب شو. که څه هم د تولیدي کمپنیو له خوا ددې مادې غلظت له زهرجنې کچې څخه ښکته راوستل شو. اما د ۱۹۸۰ لسیزې په لومړیو کې د پروپینامایډ (propenamide) او پروپینامایډ- پروپنوټ (propenamide-propenoate) کورنیو څخه هایډروابسوربنټ پولیمیرونه(hydroabsorbent polymers) او کوپولیمیرونه (copolymers ) تولید د خلکو نظر د دوهم ځل لپاره جلب کړ (Robinson.,2018). ځینې پولیمیرونه شته چې په خاوره کې د اوبو ساتل زیاتوي، دغه پولیمیر په اوبو کې حلیدونکی نه دی اما هایدرو فیلیک جیل مواد جوړوي چې په آسانۍ او د خپل وزن څخه له (۱۰۰۰-۲۰۰۰) ځله زیاتې اوبه جذبولی شي. دغه مواد په هغو خاورو کې چې د اوبو ساتلو کم ظرفیت لري، د زیات وخت لپاره وچې او یا هم د نبات د کرلو څخه وروسته د اوبو د کمښت سره مخ وي استعمالیږي، ترڅو خاوره د زیات وخت لپاره اوبه وساتي. نوموړی پولیمیر چې یوې سریښناکه مادې ته ورته جوړښت لري تخم یا بزغلی ته نږدې استعمالیږي ترڅو د آبیارۍ څخه پرته د تخم شنه کېدو او د بزغلی استقرار ته زمینه برابره کړي(R E Sojka and J A Entry, 2005). د سطحې د کلکوالي په اساس د اوبو په کم نفوذ لرونکو خاورو کې په لږ اندازه د پولي کریلامایډ استعمال د اوبو د نفوذ په زیاتوالي کې مهم نقش لري (Mitchell, A. R. 1986).

یوانسانګ (Yuansong) او ملګرو یې په ۲۰۱۸ م کال کې وموندله چې په زیاته اندازه د خاورې اصلاح کوونکو موادو استعمال د ریښې په ساحه کې نه یوازې د اوبو ساتلو توان زیاتوي بلکه یوه نازک قشر جوړوي چې د خاورې د اتموسفیر ترمنځ د ګازونو تبادله زیاتوي، نو د دې موادو په استعمال سره د ریښې په ساحه کې د اکسیجن او دوامداره رطوبت د زیاتېدو باعث کېږي چې ورسره د ریښو وده زیاتوالی مومي.

**استعمال (Application)**

د خاورې اصلا کوونکي مواد په یو شمېر لارو کارول کېدای شي. ځینې یې د نبات له کښت څخه مخکې له قلبې سره په خاوره کې کارول کېږي. له دې څخه علاوه له کښت کولو وروسته یا په دوره یي توګه د ودې په موسم کې هم استعمالیږي. د دې موادو د استعمال څخه مخکې باید خاوره تجزیه شي ترڅو د خاورې د جوړښت او ترکیب په اړه معلومات تر لاسه او وړ مواد ورته انتخاب شي .

**ایکولوژیکي اندیښنې (Ecological Concerns)**

په داسې حال کې چې نباتاتو یا باغ ته د خاورې د اصلاح کوونکو موادو اضافه کول د سالم نبات د تولید لپاره ښه لاره ښکاري، اما د ځینو اصلاحي موادو زیات استعمال کېدای شي ایکولوژیکي ستونزې رامنځته کړي او دغه ستونزې د موادو په ترکیب، خواصو او د خاورې په خواصو پورې اړه لري (تورکی، محمد طاهر۱۳۹۳). د مثال په ډول د خاورې زیات اصلاحي مواد مالګې، نایتروجن، فلزات او نور غذایي مواد په خپل ترکیب کې لري که په زیاته اندازه استعمال شي، د نبات روغتیا ته زیان رسوي او کېدای شي د نبات وده محدوده کړي. له دې څخه علاوه یوه اندازه غذایي مواد له اوبو سره مینځل کېږي چې د اوبو د کیفیت او چاپیریال د خرابوالي سبب کېږي (Robinson.,2018).

**پایله**

دا چې د انسانانو او ټولو ژوندیو موجوداتو غذایي مواد په مستقیم او غیر مستقیم ډول له ځمکې څخه لاسته راځي او د ځمکې پرمخ ورځ تربلې زیاتېدونکي نفوس لپاره د غذایي موادو د برابرولو په موخه یوه لار په في واحد ځمکه کې د حاصلاتو زیاتوالی دی. هدف ته د رسیدو لپاره د خاورې د حاصلخېزۍ او د خاورې د خواصو اصلاح کول اړین دي. د خاورې خواص او حاصلخېزي د خاورې د کرنیزو عملیو تر څنګ د خاورې د اصلاح کوونکو موادو په استعمال سره ښه کولی شو. یاد مواد د ترکیب او منبع په اساس په دوه ډوله طبیعی (عضوي) لکه حیواني سره، شنه سره، هیومیک مواد، پیټ او مصنوعي (غیرعضوي) لکه کچ، کروډ سلفر، په اوبو کې حلېدونکي پولیمرونه (پولي ایتایلین ګلایکول، پولي وینایل الکول) پیدا کېږي. د دې موادو په استعمال سره د خاورې خواص( د خاورې سټرکچر، په خاوره کې د غذایي موادو اندازه، په خاوره کې د اوبو ساتلو توان، د کتایونونو تعویضی توان...) اصلاح او ښه کېږي او ورسره د نباتاتو وده او حاصل زیاتوالی مومي. نوموړي مواد په مختلفو ډولونو (د کښت څخه مخکې، د تخم د کښت سره یو ځای او د کښت څخه وروسته) استعمالېدلی شي. اما په زیاته اندازه یې استعمال کیدای شي د محیط د خرابوالي سبب شي. نو دد ې لپاره چې د خاورې حاصلخېزي او د خاورې خواص ښه کړو، د ژوند چاپیریال زیانمن

نه کړو، د هېواد په سطحه د کرنې څخه د قناعت وړ حاصل ترلاسه کړو او تل پاتې کرنه ولرو، د خاورې خواصو ته په کتو په دوامداره توګه مناسبه اندازه د خاورې اصلاح کوونکو موادو د استعمال وړاندیز کوو.

**اخځلیکونه**


ایوبی عبدالغنی، صفی الله حبیبی. (۱۳۹۹). حاصلخېزی خاک و تغذیه نباتات. انتشارات عازم. ۳٦۳، ص ۱۱-۱۸، ۷۲.

تورکی، محمد طاهر. (۱۳۹۳) دخاروې سمون، د مومند خپرندویه ټولنه ص ۱۲۱،۱۲۲.

ثمین، عبدالقهار او محمد عالم زغرد.(۱۳۸۷). د خاورې کیمیا او د نباتاتو تغذیه. کابل پوهنتون، کرنې پوهنځي، لمرخپرندویه ټولنه. ص ۲۲-۴۴.

Ali, S. H. A. F. A. Q. A. T., & Ahmed, H. R. (2016). Comparative effects of different soil conditioners on wheat growth and yield grown in saline-sodic soils. Sains Malay, 45, 339-346.

Doran, J. W., & Parkin, T. B. (1994). Defining and assessing soil quality. Defining soil quality for a sustainable environment, 35, 1-21.

Egli, D. B., & Pendleton, J. W. (1965). Progress report of agronomic field studies with leonardite. NCR-103 D, 3, 1-1.

Gaffney, J. S., Marley, N. A., & Clark, S. B. (1996). Humic and fulvic acids and organic colloidal materials in the environment. Argonne National Lab., IL (United States).

Hickman, J. S., & Whitney, D. A. (1988). Soil conditioners. North Central Regional Extension Publication 295

Jhurry, D. (1998, March). Agricultural polymers. In Proceedings of the Second Annual Meeting of Agricultural Scientists (Vol. 109). Mauritius: FARC.

Jien, S. H., & Wang, C. S. (2013). Effects of biochar on soil properties and erosion potential in a highly weathered soil. Catena, 110, 225-233.

Kuwatsuka, S., Tsutsuki, K., & Kumada, K. (1978). Chemical studies on soil humic acids: 1. Elementary composition of humic acids. Soil Science and Plant Nutrition, 24(3), 337-347.

Li, L. J., & Han, X. Z. (2016). Changes of soil properties and carbon fractions after long-term application of organic amendments in Mollisols. Catena, 143, 140-144.

